لغة البشتو

إدارة أوقـاف

...لح عبدالعزيز الراجحي

# د مسلمانى ښځى خاصو احكامو ته يوه پاملرنه

ليکنه

ډاکتر/ صالح بن فوزان الفوزان

ژباړنه

عبد النافع زُلال

طبع على نفقة

إدارة أوقاف صالح عبدالعزيز الراجحي

غفر الله له ولوالديه ولذريته ولجميع المسلمين

يهدى ولا يباع

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د مسلمانې ښځې خاصو احکامو ته يوه پاملرنه

ليکنه

ډاکټر/ صالح بن فوزان الفوزان

ژباړنه

عبد النافع زلال

يهدى ولا يباع

(c) ketabton.com: The Digital Library

ح وزارة الشؤون الإسلامية والأوقاف والدعوة والإرشاد، ١٤٢٤هـ

فهرسة مكتبة الملك فهد الوطنية أثناء النشر

الفوزان ، صالح بن فوزان

تنبيهات على احكام تخص المؤمنات. /صالح بن فوزان الفوزان

.– الرياض، ١٤٢٤هـ.

٢٠٨ ص ، ١٢ × ١٧ سم

ردمك : ٢-٤٤١-٢٩-٩٩٦٠

( النص باللغة البشتو )

١– المرأة في الإسلام ٢– العبادات (فقه إسلامي) أ– العنوان

ديوي ٢١٩,١ ١٤٢٤/٥٩١٧

رقم الإيداع : ١٤٢٤/٥٩١٧

ردمك : ٢-٤٤١-٢٩-٩٩٦٠

الطبعة الأولى

١٤٢٤هـ

(c) ketabton.com: The Digital Library



بسم الله الرحمن الرحيم

## سريزه

الحمد لله الذي قدر فهدى، وخلق الزوجين الذكر والأنثى، من نطفة إذا تمنى، وأشهد أن لا إله إلا الله وحده لا شريك له، له الحمد في الآخرة والأولى، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله عُرج به إلى السماء فرأى من آيات ربه الكبرى، صلى الله عليه وعلى آله وأصحابه أولي المناقب والنهى، وسلم تسليماً كثيراً مؤبداً.

أما بعد:

لدې کبله چې ښځه په اسلام کې لوړ مقام لري، او زياتې دندې ورپه غاړه دي، او پيغمبر ﷺ به ښځو ته خاصې لارښوونې کولې، او ددوی په باره کې دعرفات په خطبه کې هم توصيه کړېده، نو دا ددې خبرې ښکارندوی*[1] ده چې دښځو

(۱) دکومي کلمي خوا کي چي دستوري (*) نښه ده، نوموړې کلمه د کتاب په اخير کي دمرادفو کلماتو په لست کي راغلې ده، نو دنوموړي کلمې ددوهمي لهجې يا معنی لپاره دي لست ته مراجعه وشي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلماني ښځي ته په خاص ډول خطر متوجه دی، تر څو يې عزت پايمال شي، او له خپل اصلي حيثيت او مرتبې نه را پريوځي، نو ځکه پکار ده چي نوموړي خطر ته دمسلماني ښځي پام راوګرځول شي، او دنجات لاره ورته په ګوته شي.

او زه هيله لرم چي دا کتاب به ددې لاري لپاره يوه ښبه او علامه وي، چي د(مسلماني ښځي) دخاصو احکامو يادښت پکښي شويدی.

او دا کتاب يو ناڅيزه عمل، او متواضع هڅه ده،او هيله ده چي لوی الله ﷻ به هغه (دبنده) دتوان په اندازه ګټور وګرځوي، او دا پدې لاره کي لومړی قدم دی، او هيله ده چي نور لوی او هر اړخيزه قدمونه به هم پدې لاره کي واخيستل شي، تر څو دا کار خپل دکمال درجې ته ورسيږي.

او هغه څه چي ما پدې بيړنۍ لحظه کي وړاندي کړي دي هغه په لاندي ډول دي:

لومړی فصل: عمومي احکام.

دوهم فصل: دښځي دجسمي زينت مربوط احکام.

دريم فصل: دحيض او استحاضت او نفاس مربوط احکام.

څلورم فصل: دلباس او حجاب (پردې) مربوط احکام.

پنځم فصل: دښځي دلمانځه مربوط احکام.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږم فصل: دښځې دجنازې دلمانځه مربوط احکام.

اووم فصل: دښځې دروژې نيولو مربوط احکام.

اتم فصل: دښځې دحج کولو مربوط احکام.

نهم فصل: دګډ ژوند او دهغه پای ته رسولو مربوط احکام.

لسم فصل: دښځو دعزت او عفت ساتلو مربوط احکام.

مؤلف

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لومړی فصل: عمومي احکام

### ۱-داسلام نه مخکي دوره کي دښځي مقام:

داسلام نه وړاندي دوري څخه مراد دجاهليت هغه زمانه ده کومه چي په خاص ډول عربو او په عام ډول ټولو انسانانو پکي ژوند کاوه، په کومه کي چي انسانان له پيغمبرانو او دهدايت او ښيګڼي له لارو نه بې برخي وه، نو لکه څنګه چي په حديث کي راغلي- الله ددوی حال ته وکتل، او پرته له ځينو اهل کتاب نه، پر نورو ټولو عربو او عجمو يي خپل غضب نازل کړ.

او ښځي پدې وخت کي خصوصاً په عربي ټولنه کي- په يو مشکل او سخت وضعيت کي ژوند کاوه، ځکه چي دهغوی به ښځينه اولاد نه خوښيدل، او ځينو به هغه ژوندۍ ښخوله تر څو تر خاورو لاندي مړه شي، او ځينو نورو (چي به پريښودله) نو په ژوند کي به يې خواره او ذليله ساتله، لکه څنګه چي الله تعالی فرمايي: ﴿وَإِذَا بُشِّـــرَ أَحَدُهُمْ بِالأُنثَى ظَلَّ وَجْهُهُ مُسْوَدًّا وَهُوَ كَظِيمٌ * يَتَوَارَى مِنَ الْقَوْمِ مِن سُوءِ مَا بُشِّرَ بِهِ أَيُمْسِكُهُ عَلَى هُـــونٍ أَمْ يَدُسُّهُ فِي التُّرَابِ أَلاَ سَاء مَا يَحْكُمُونَ﴾ [د النحل سورت: ۵۸-۵۹ آيتونه].

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: او کله چي لدوی نه يوه ته دلور زيری ورکړ شي نو مخ يي تور واوړي او له غوسې نه ډك شي، له خپل قوم او خلکو نه پټيږي د هغه بد زيري په خاطر، (نه پوهيږي چي) آيا دا (لور) په سپکوالي له ځان سره وساتي، او که يي ژوندۍ په خاورو کي ښخه کړي، نو دا ډيره بده فيصله ده کومه چي دوی يي (دالله ﷻ په باره کي) کوي.

او فرمايي: ﴿وَإِذَا الْمَوْؤُودَةُ سُئِلَتْ * بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ﴾ [د التکوير سورت: ۸-۹ آيتونه].

ترجمه: او کله چي له هغي لور نه چي په ژوندون ښخ شوې وه پوښتنه وشي، (چي) په کومه ګناه ښخه شوې وه.

الموءوده: هغه انجلۍ* ته وايي کومه چي ژوندی په خاورو کي ښخه شي تر څو هلته مړه شي.

او چي کله (په ښځه) له ښخيدلو نه بچ شوه، نو ډير دخوارۍ او سپکوالي ډك ژوند به يې وو، چي له خپلوانو نه به يې څوك مړ شو، نو دا به يې د ميراث نه محرومه وه، که څومره زيات مال به يې هم وو، او که څومره به دا غريبه او مسکينه هم وه؛ ځکه هغوی به ميراث يواځي نارينه* وو ته ورکاوه، نه ښځو ته، بلکه ښځه به له خپل خاوند نه دده دنورو اموالو په شان په

(c) ketabton.com: The Digital Library



میراث پاتي کیده، او ډیر زیات شمیر ښځو به دیوه خاوند سره ژوند کاوه، ځکه چي هغوی به بیله کوم حد او اندازې نه ښځي کولي، بیله دي چي دهغو مشکلاتو او ظلم اوتیري په باره کي فکر وکړي کوم چي به ددوی ښځو ته په همدې خاطر رسیدلو.

۲-دښځي مقام په اسلام کي:

کله چي اسلام راغی نو دا ټول ظلمونه یې له ښځي نه لري کړل، او دهغې انساني کرامت او اعتبار یې بیا راژوندی کړ، الله ﷻ فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا النَّاسُ إِنَّا خَلَقْنَاكُم مِّن ذَكَرٍ وَأُنثَى﴾ [د الحجرات سورت: ۱۳ آيت].

ترجمه: اې خلکو ما تاسو له نر او ښځي نه پیدا کړي یاست.

نو پدې آیت کي الله ﷻ فرمایلي دي: چي ښځه دانساني ارزښت* په لحاظ له نارینه سره شریکه ده، لکه څنګه چي دعمل په ثواب او عذاب کي له هغه سره شریکه ده، ﴿مَنْ عَمِلَ صَالِحًا مِّن ذَكَرٍ أَوْ أُنثَى وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَنُحْيِيَنَّهُ حَيَاةً طَيِّبَةً وَلَنَجْزِيَنَّهُمْ أَجْرَهُم بِأَحْسَنِ مَا كَانُواْ يَعْمَلُونَ﴾ [د النحل سورت: ۹۷ آيت].

ترجمه: د نر او ښځي نه چي څوك نیك عمل وکړي په

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسې حال کې چې مؤمن وي، نو هغه ته به (په دنيا کې) مونږ ښه ژوند ورکړو، او (په آخرت کې به) خامخا ددوی دنيکو عملونو اجرونه او ثوابونه ورکړو.

او فرمايي: ﴿لِيُعَذِّبَ اللَّهُ الْمُنَافِقِينَ وَالْمُنَافِقَاتِ وَالْمُشْرِكِينَ وَالْمُشْرِكَاتِ﴾ [د الاحزاب: ٧٣ آيت].

ترجمه: ددې لپاره چې الله منافقو نرو او ښځو ته، او مشرکو نرو او ښځو ته عذاب ورکړي.

او الله ﷻ لدې نه منعه کړيده چې ښځه دمیره په موروثه مال کې وشميرل شي، الله ﷻ فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ لاَ يَحِلُّ لَكُمْ أَن تَرِثُواْ النِّسَاء كَرْهًا﴾ [د النساء سورت: ١٩ آيت].

ترجمه: اې مؤمنانو تاسو ته روا ندي چې ښځې په زور سره دميراث په توګه* واخلئ.

نو اسلام ښځې ته دهغې دشخصيت استقلال ورکړ، او دا يې دميراث اخيستلو مستحقه وبلله، نه دا چې بل څوک يې دميراث په توګه واخلي، او وهغې ته يې دخپلو خپلوانو په ميراث کې حق ورکړ، الله ﷻ فرمايي: ﴿لِّلرِّجَالِ نَصيِبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ وَالأَقْرَبُونَ وَلِلنِّسَاء نَصِيبٌ مِّمَّا تَرَكَ الْوَالِدَانِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَالأَقْرَبُونَ مِمَّا قَلَّ مِنْهُ أَوْ كَثُرَ نَصِيبًا مَّفْرُوضًا﴾ [د النساء سورت: ۷ آیت].

ترجمه: دنارینه وو لپاره په هغه مال کي چي مور او پلار او (نورو) خپلوانو (میراث) پري ایښی وي حق دی، او دښځو لپاره په هغه مال کي چي مور او پلار او (نورو) خپلوانو (میراث) پري ایښی وي حق دی، که دا (مال) لږ وي او که ډیر، (دا دالله ﷻ له طرف نه) فرض شوې او ټاکل شوې حصه ده.

او فرمايي: ﴿يُوصِيكُمُ اللّهُ فِي أَوْلاَدِكُمْ لِلذَّكَرِ مِثْلُ حَظِّ الأُنثَيَيْنِ فَإِن كُنَّ نِسَاء فَوْقَ اثْنَتَيْنِ فَلَهُنَّ ثُلُثَا مَا تَرَكَ وَإِن كَانَتْ وَاحِدَةً فَلَهَا النِّصْفُ﴾ [د النساء سورت: ۱۱ آیت].

ترجمه: الله ﷻ تاسو ته ستاسو داولادونو په باره کي وصیت (امر) کوي چي دنر برخه (په میراث کي) ددوو ښځو په اندازه ده، او که چیري ښځي له دوو نه زیاتي وې، نو هغوی لره د موروثه مال له درو حصو نه دوې حصې دي، او که یوه ښځه وه نو دهغي حق (دموروثه مال څخه) نیمه حصه ده.

او نور داسي آیتونه چي دمور، لور، خور، او میرمني په حیث دښځي دمیراث اخیستلو په باره کي راغلي دي.

او دګډ ژوند په حصه کي الله ﷻ زیات نه زیات دځلورو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځو کول روا کړيدي، هغه هم پدې شرط چې دښځو په مينځ کې عدالت وکولای شي، او له دوی سره يې نيك ژوند او ښه سلوك واجب کړی دی، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَعَاشِرُوهُنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾ [د النساء سورت: ۱۹ آيت].

ترجمه: او خپلو ښځو سره په نيکۍ ژوند او سلوك وکړئ.

او مهر يې دښځې حق وګرځاوه، او امر يې وکړ چې هغه په پوره ډول خپله ښځې ته ورکړ شي، خو که هغې په خپله خوښه (چا ته) ورووبخښه (نو بيا يې اخيستل روا دي)، الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَآتُواْ النَّسَاء صَدُقَاتِهِنَّ نِحْلَةً فَإِن طِبْنَ لَكُمْ عَن شَيْءٍ مِّنْهُ نَفْسًا فَكُلُوهُ هَنِيئًا مَّرِيئًا﴾ [د النساء سورت: ٤ آيت].

ترجمه: او ښځو ته دهغوی مهرونه په خوشحالۍ سره ورکړئ، او که چيري دوی په ښه زړه تاسو ته (له خپل مهرنه) څه در کړل، نو بيا يې په خوند او حلاله سره وخورئ.

او الله جَلَّ جَلَالُهُ ښځې ته دخپل خاوند په کور کې دواکدارۍ، امر کولو، منعه کولو، او پر خپل اولاد باندې دتسلط لرلو حق ورکړی دی، پيغمبر ﷺ فرمايي: «الْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْؤولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا» (بخاري).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: ښځه دخپل خاوند په کور کي پالونکې ده، او دخپل لاس لاندي کسانو څخه مسئوله ده.

او پر خاوند يي دهغې خوراك او پوشاك دعادت سره سم فرض کړيدي.

٣-داسلام دښمنان او دهغوی لاس پوځي غواړی چي په اوس عصر کي له ښځي نه دهغي کرامت او حقوق واخلي:

داسلام دښمنان چي په حقيقت کي دکفارو او منافقينو په شمول ټول دانسانيت دښمنان دي او کوم کسان چي په زړونو کي يې (دکفر او نفاق) مرض ځای نيولی دی- لدې نه ډير په غوسه* دي چي ښځه په اسلام کي دکرامت، عزت او حفاظت خاونده ده؛ ځکه داسلام دښمنان يعني کفار او منافقين غواړي چي ښځه دتخريب او ورانۍ وسيله او دام جوړ کړي چي په هغه سره دکمزوري ايمان او حيواني شهوت خاوندان ښکار کړي، تر څو له هغې نه خپل دسرکښه شهوت مقصد پوره کړي، لکه څنګه چي الله ﷻ فرمايي: ﴿وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ أَن تَمِيلُواْ مَيْلاً عَظِيمًا﴾ [د النساء سورت: ٢٧ آيت].

ترجمه: او هغه کسان چي دخپلو شهوتونو متابعت کوي غواړي چي تاسو (له دين څخه) په لويه پيمانه انحراف وکړئ (او

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې لارې شي».

او کوم مسلمانان چې په زړونو کې يې دنفاق مرض دی غواړي چې ښځه دشهوت او شيطاني غرايزو دخاوندانو لپاره يو ارزانه سودا وي، چې دوی يې د خپلو سترګو په وړاندی په ښکلي منظر سره ښکاره وګوري، او يا دا چې له هغې نه بله بده او بې حيا استفاده وکړي؛ نو ځکه خو دوی کوشش کوي چې هغه له خپل کور نه بهر* راوباسي تر څو له نارينه وو سره څنګ په څنګ کار وکړي، او يا دنرسي په شکل په روغتون کې دنارينه وو خدمت وکړي، او يا په الوتکه کې ميلمه پاله وي، او يا (دنر او ښځو) ګډ مکتب او مدرسه کې متعلمه يا معلمه وي، او يا په ستيج باندې اداکاره وي، او يا سندر غاړه وي، او يا په مختلفو نشراتي وسايلو کې په بې حيا او شهوت انګيزه آواز سره نطاقي وکړي.

بريښنډو او بداخلاقو مجلو دبريښنډو او بې حيا نجونو عکسونه* دخپلو مجلو درواجولو او خرڅولو وسيله ګرځولې ده، او ځيني تاجران او دکارخانو خاوندان هم لدې عکسونو نه دخپلو مالونو درواجولو کار اخلي، او داسې عکسونه* په خپلو توليداتو او مالونو باندې نښلوي، چې دداسې بې ځايه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلطو کارونو او تدبيرونو په وجه ښځه په کور کې له خپلي اساسي وظيفي نه ليري شوي ده، او په نتيجه کې يې خاوندان مجبوره شوي چې دخپلو اولادونو دتربيې او دکورونو دکارونو دتنظيم لپاره پردۍ خادمې* ونيسي، چې دا کار دډيرو فتنو او لويو ورانکاريو سبب ګرځيدلی دی.

۴- مونږ له کور نه بهر دښځې دکار کولو مخالف نه يو که چيري دلاندنيو شرايطو سره برابر وي:

ا- کله چې ښځه کار ته ضرورت ولري، او يا ټولنه ددې کار ته داسې اړتيا ولري چې په نارينه وو کې څوك هغه کار نشي کولای.

ب- ښځه به دا کار به هله کوي چې دکور کار يې سرته رسولی وي، کوم چې ددې اساسي وظيفه ده.

ج- دا کار به دښځو په ساحه کې وي، لکه ښځو ته ښوونه کول، دهغوی معالجه کول، او يا دنرسې په حيث دهغوی خدمت کول، او دسړو څخه به جدا او بيل وي.

د- همدارنګه ښځې ته روا دي، بلکه فرض دي چې د دين احکام زده کړي، او يا يې دضرورت په وخت نورو ته وښايي، خو ښوونه به يې دښځو په مينځ کې وي، او همدارنګه کولای

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چي (ديني) درسونو ته په مسجد او يا بل ځای کي حاضره شي، په شرط ددې چي مستوره او پټه به وي، او له نارينه وو څخه بېله وي، لکه څنګه چي داسلام په شروع کي به ښځو زده کړه کول او مسجدونو ته به تللې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم فصل

## دښځې جسمي زينت پورې مربوط احکام

**۱- [د فطري سنتونو(۱) احکام]:**

پر ښځې لازمه ده چې هغه فطري سنتونه چې پدې پورې مخصوص دي پر ځای کړي، لکه: دنوکونو اخيستل او دهغو پاك ساتل؛ ځکه دنوکونو اخيستل دعلماوو په اتفاق سره سنت دي، او له هغو فطري سنتونو څخه دي چې په حديث کې راغلي دي، او دنوکونو په اخيستلو کې پاکي او ښکلا ده، چې په اوږدو پرېښودلو سره بد (او ناولې) ښکاري، او له ځناورو سره مشابهت لري، او دهغو لاندې خيري او ناپاکي يو ځای کيږي، چې دهغې دننې ته (دغسل او اودس په وخت کې) داوبو رسيدلو مخه نيسي.

خو ځيني ښځې دکفارو دتقليد او د سنتو څخه دبيخبرۍ په وجه نوکون اوږدوي.

---

(۱) فطري سنتونه لکه: نوکونه اخيستل، دبغلونو او مثاني دپاسه وېښتانو لري کول، او داسي نور. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



او همدارنګه دښځي لپاره دبغلونو او د نامه څخه لاندي ویښتان لري کول سنت دي، لکه څنګه چي په حدیث کي راغلي دي، ځکه پدې کي (دبدن) ښایست دی، او بهتره داده چي هره اونۍ* دا کار وکړي، او له څلویښتو ورځو نه زیات پاته نه شي.

**۲- دښځي دسر او وریځو دویښتانو، او نکریزو، او دویښتانو درنګولو احکام:**

الف- ښځه باید دخپل سر ویښتان اوږده کړي، او بیله ضرورته خریيل یي حرام دي.

دسعودي مفتي مرحوم شیخ محمد بن ابراهیم آل الشیخ وایي: او دښځو دویښتانو خریيل ناروا دي، او دلیل یي هغه حدیث دي کوم چي نسائي له علي رضی الله عنه نه، او بزار په خپل مسند کي له عثمان رضی الله عنه نه، او ابن جریر په خپل سند له عکرمه رضی الله عنه نه روایت کړی چي وایي: «پیغمبر ﷺ لدې نه منع کړې چي ښځه خپل ویښتان وخریيي»، او کله چي پیغمبر ﷺ د کوم شي په باره کي منعه وکړي، نو هغه به حرام وي تر هغه پوري چي دهغه دروا والي دلیل نه وي ثابت شوی.

ملا علي قاري د مشکات په شرح (مرقاة المفاتیح) کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي: دراوي دا قول چي «ښځه يي دويښتانو خرييولو څخه منع کړي ده»؛ دهغه وجه داده چي دښځي لپاره کوڅۍ په ښايست او ظاهري شکل کي دنارينه د ږيري په شان ده... (مجموع فتاوى الشيخ محمد بن ابراهيم ۴۹/۲).

اما دسر دويښتانو لنډول، که چيري دښايست لپاره نه وي، او دضرورت په وجه وي، نو کله چي ساتل يي ورته ګران وي، او يا ډير زيات اوږده شي، نو دضرورت په اندازه لنډول يي روا دي، لکه څنګه چي د پيغمبر ﷺ ځينو ښځو دهغه د وفات نه وروسته دا کار کړيدی، ځکه چي هغوی دپيغمبر ﷺ د وفات نه وروسته زينت پري ايښی وو، او دويښتانو اوږدولو ته يي ضرورت او حاجت نه وو.

خو که چيري دويښتانو د لنډولو څخه دښځي مقصد دکافرو او فاسقو ښځو، او له نارينه وو سره مشابهت وي، نو دا بي شکه حرام دي؛ ځکه دکفارو سره له مشابهت نه په عامه توګه، او دنارينه وو سره دښځي له مشابهت نه (په خاصه توګه) منعه راغلي ده، او که يي مقصد ښکلا او زينت وي، نو داسي ښکاري چي دا هم ناروا دي.

زمونږ شيخ محمد الامين الشنقيطي رحمت الله عليه په

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي رواج جوړ شوی چي ښځه خپل ويښتان د بيخونو سره نژدې لنډه وي، نو دا دانګريزانو طريقه ده، او د مسلمانو ښځو او مخکي له اسلام نه دعربو ښځو دطريقې څخه مخالفه ده، او دا دهغو انحرافاتو* څخه دي، چي دعامو خلکو په دينداري او اخلاقو کي راپيدا شويدي، او بيا ددې حديث په جواب چي دپيغمبر ﷺ ښځو به خپل ويښتان دومره لنډول چي دسر د پاسه به راغونډ شول داسي وايي: چي دپيغمبر ﷺ ښځو دهغه له وفات نه وروسته خپل ويښتان لنډ کړل، ځکه چي د هغوی ښايست او ډول ته حاجت او ضرورت نه وو، هغوی يواځي دهغه په ژوند کي ځان ښايسته کاوه، او دهغوی له تولو نه زياته ښکلا دهغوی په ويښتانو کي وه، اما دهغه له وفات نه وروسته دهغوی لپاره يو خاص حکم دی، چي په دنيا کي يوه ښځه هم ورسره په هغه کي برابره نده، او هغه دا چي له واده کولو څخه دهميشه لپاره دهغوی اميد قطع دی، نو هغوی دپيغمبر ﷺ سره دواده کولو په وجه تر مرګه پوري دهغو طلاق شوو ښځو په شان دي کومي چي په عدت[1] کي وي، او الله ﷻ فرمايي:

---

(۱) عدت هغه ټاکلي شرعي مودي ته وايي چي ښځه يې له طلاق نه وروسته تيروي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿وَمَا كَانَ لَكُمْ أَن تُؤْذُوا رَسُولَ اللَّهِ وَلَا أَن تَنكِحُوا أَزْوَاجَهُ مِن بَعْـــدِهِ أَبَدًا إِنَّ ذَلِكُمْ كَانَ عِندَ اللَّهِ عَظِيمًا﴾ [د الاحـزاب سورت: ۵۳ آيت].

ترجمه: او تاسو لره نه ده روا چي دالله پيغمبر ته ضرر او تکليف ورسوئ، او تاسو ته روا نه ده چي دده ښځي (ازواج مطهرات) دهغه دوفات څخه وروسته په نکاح کړئ، بيشکه دا دالله په نزد ډيره لويه (ګناه) ده.

او له نارينه وو سره دواده کولو څخه نا اميدي دښايست دځيني شيانو دروا والي سبب وي، کوم چي بيله دې سبب نه روا نه وي[(۱)].

نو پر ښځي باندي لازمه ده چي دخپل سر ويښتان وساتي، او سمبال يې کړي، چوټي* يې کړي، او ورته روا نه دي چي هغه دسر دپاسه دځې لخوا نه راغونډ کړي.

شيخ الاسلام ابن تيميه وايي: لکه څنګه چي ځيني بد

---

(۱) اضواء البيان ۵۹۸/۵-۶۰۱، او ښځي ته روا ندي چي پدې کار کي دميړه اطاعت وکړي، ځکه دالله ﷻ په مخالفت کي دمخلوق اطاعت روا نه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاره ښځي خپل ويښتان يو چوټي* جوړ کړي او د اوږو په مينځ کي يې ځوړند کړي (مجموع الفتاوی ۱۴۵/۲۲).

او شيخ محمد بن ابراهيم دسعودي مفتي رحمت الله عليه وايي: او دا چي ځيني مسلماني ښځي پدې زمانه کي خپل ويښتان دکفارو په شان له يوې خوا نه را ټول کړي او دځټ لخوا يې راغونډ کړي، او يا يې دسر دپاسه راغونډ کړي، نو دا کار روا ندی، ځکه چي پدې کي دکفارو دښځو سره مشابهت دی، او له ابو هريره رضي الله عنه ځخه په يو اوږد حديث کي روايت دی چي وايي: پيغمبر ﷺ فرمايي: «صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلاَتٌ مَائِلاَتٌ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لاَ يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلاَ يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا» (مسلم روايت کړی دی).

ترجمه: په دوږخ کي دوې ډلي دي چي ما (هيڅ) ندي ليدلي: يو هغه قوم دی چي دغوا دلکۍ په شان شلاخي (قمچيني) ورسره وي او خلك* په وهي، او (بله ډله) هغه پټي برينډي، کږې وږې، ښځي دي چي سرونه يي داوښونو دکاږه بوکونو* په شان وي، (دا دوې ډلي به) جنت ته نه ځي، او نه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



دجنت بوی ورته رسيږي، او بې شکه چي (دجنت) بوی له دومره دومره مسافې څخه احساسيږي.

او ځيني علماوو د «مائلات مميلات» تفسير داسي کړی دی چي دوی خپل ويښته پداسي کاږه (بد شکل) ږمنځوي*، کوم چي بدکاري ښځي يې ږمنځوي*، او دا ږمنځول* دکفارو دښځو او دهغو مسلمانو ښځو په شان دی کوم چي ددوی تقليد او پيروي کوي[1].

لکه څنګه چي مسلمانه ښځه دويښتانو له خرييلو، او بي ضرورته لنډولو نه منع ده، همدارنګه په ويښتانو پوري دنورو ويښتانو تړلو نه هم منع ده، لکه څنګه چي په بخاري او مسلم کي روايت دی: «لَعَنَ رَسُولُ اللهِ ﷺ الواصِلةَ والمُسْتَوصِلةَ».

ترجمه: پيغمبر ﷺ پر ويښتانو تړونکې، او ويښتانو اخيستونکې دواړو باندي لعنت ويلی دی.

(الواصله): هغه ښځي ته وايي چي خپل ويښتان دبلي ښځي له ويښتانو سره ونښلوي، او (المستوصله): هغي ښځي

---

(۱) مجموع فتاوی الشيخ ۴۷/۲، او همدارنګه الايضاح والتبيين دشيخ حمود التويجري تاليف ۸۵ صفحه دي وکتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته وايي چې دبلي ښځې ويښتان له خپلو ويښتانو سره نښلول غواړي، او دا کار ځکه حرام دی چې پدې کې جعل کاري (دوکه بازي) ده، او په اوسني وخت کې دمصنوعي سر اغوستل هم له همدې ناروا کار (جعلي ويښتانو تړلو) له جملې څخه دي، بخاري او مسلم او نورو دحديث کتابونو روايت کوي چې معاويه رضي الله عنه چې کله ومدينې ته راغی نو خطبه يې ووېل، او يوه غنچه ويښتان يې راوويستل او ويې ويل: ستاسو ښځو ته څه پېښه ده چې په خپلو سرونو کې داسې ويښتان ږدي، ما دپيغمبر ﷺ څخه اوريدلي دي چې وايي: «مَا مِنْ امرأةٍ تجعلُ في رأسِها شَعْراً مِن شَعْرِ غيرِها إلا كانَ زُوراً».

ترجمه: هيڅ يوه ښځه په خپل سر کې دبل چا ويښتان نه ايږدي، مګر داچې دا کار به جعل کاري او ساخته کاري وي.

او مصنوعي ويښته هغه دي چې د سر دويښتو په شان جوړ شوي وي، او په سر اغوستل يې جعل کاري (دوکه بازي) ګڼل کيږي.

ب- مسلماني ښځې ته روا ندي چې دوريځو ويښتان تول او يا يو څه واخلي او يا يې کم کړي، او يا داسې مواد استعمال کړي چې ويښتان تول او يا لږ ليري کوي، ځکه دا هغه ناروا

(c) ketabton.com: The Digital Library



کار دی چي پیغمبر ﷺ دهغه پر کونکي لعنت ویلی دی، او پیغمبر ﷺ پر هغي ښځي چي دبل چا دوریځو ویښتان دښایست په مقصد اخلي، او پر هغي ښځي باندي چي بل څوک یې دوریځو ویښتان اخلي لعنت ویلی دی، او دا کار دخدای ﷻ دخلقت او جوړښت بدلول دي په کوم چي شیطان قسم کړي چي انسان به په هغه سره ګمارې، لکه څنګه چي الله ﷻ له هغه نه حکایت کوي: ﴿وَلَآمُرَنَّهُمْ فَلَيُغَيِّرُنَّ خَلْقَ اللَّهِ﴾ [د النساء سورت: ۱۱۹آیت].

ترجمه: (شیطان وايي) او زه به حتماً دوی پدې وګمارم چي دخدای ﷻ خلقت او جوړښت بدل کړي.

او په صحیح حدیث کي له ابن مسعود رضی‌الله‌عنه نه روایت دی چي وايي: «لَعَنَ اللَّهُ الْوَاشِمَاتِ وَالْمُسْتَوْشِمَاتِ وَالنَّامِصَاتِ وَالْمُتَنَمِّصَاتِ وَالْمُتَفَلِّجَاتِ لِلْحُسْنِ الْمُغَيِّرَاتِ خَلْقَ اللَّهِ ﷻ».

ترجمه: الله ﷻ پر هغو ښځو چي بل چا ته ښنه خالونه وهي او هغه چي خپل ځان ته ښنه خالونه وهي، او پر هغو ښځو چي دبل چا ورځي اخلي، او هغه چي خپلي ورځي اخلي، او پر هغو ښځو چي دغاښونو مینځونه دښایست لپاره پراخوي، او دالله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷻ جوړښت بدلوي، لعنت ويلى دى.

او بيا ابن مسعود وويل: آيا پر هغه چا چي پيغمبر ﷺ لعنت ويلى دى لعنت ونه وايم، او هغه دالله ﷻ په کتاب کي هم راغلى دى، يعني دا قول دالله ﷻ: ﴿وَمَا آتَاكُمُ الرَّسُولُ فَخُذُوهُ وَمَا نَهَاكُمْ عَنْهُ فَانتَهُوا﴾ [د الحشر سورت: ۷ آيت].

ترجمه: او هغه څه چي پيغمبر ﷺ تاسو ته در کړي دي هغه واخلئ (عمل پري وکړئ)، او له کومو شيانو نه چي يې منعه کړي ياست ډډه وکړئ[۱].

او پدې خطرناك افت چي لويه ګناه ده نن ورځ ډيري ښځي اخته شوي دي، تر دي پوري چي دورځو اخيستل (دښځو په نظر) د ورځني ضرورياتو څخه شميرل کيږي.

او ښځي ته روا نده چي پدې کار کي دخپل خاوند دغوښتني اطاعت وکړي؛ ځکه چي دا ګناه ده.

ج- مسلماني ښځي ته حرام دي چي خپل غاښونه وتوږي تر څو تر منځ يې وړې وړې مسافي پيدا کړي چي ښکلا يې

---

(۱) دا قول ابن کثير په خپل تفسير ۳۵۹/۲ ددار الاندلس په چاپ کي ذکر کړى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زياته شي، خو که چيري غاښونه بد شکله وي، او دهغه له مينځه تلو لپاره عمليات ته ضرورت وي، او يا چنجن وي او اصلاح او جوړولو ته ضرورت ولري، نو بيا څه پروا نشته، ځکه دا تداوي او دبدشکلۍ دليري کولو حکم لري، او دا کار به دمتخصصي ډاکتري په لاس تر سره کيږي.

د- ښځي ته حرام دي چي په خپل بدن کي شنه خالونه ووهي، ځکه پيغمبر ﷺ پر هغي ښځي چي بل چا ته او پر هغي ښځي چي خپل ځان ته خالونه وهي، لعنت ويلی دی، او (الواشمه) هغي ښځي ته ويل کيږي چي دبل چا لاس او يا مخ په ستنو وهي، او بيا دا ځای په رانجو او يا رنګ سره ډك کړي، او (المستوشمه) هغي ښځي ته ويل کيږي چي د بل چا په ذريعه په خپل جسم کي خالونه وهي، او دا کار حرام او ناروا دی، او دغتو ګناهونو څخه شميرل کيږي، ځکه پيغمبر ﷺ پر هغه چا چي خپله دا کار کوي، او يا يي بل څوك په کوي، دواړو باندي لعنت ويلی دی، او لعنت بيله لويي ګناه څخه په بل څه باندي نه وي.

هـ- دښځو لپاره دنکريزو کول، او دويښتانو رنګول، او دګانو* استعمالولو حکم:

۱- نکريزي کول: امام نووي وايي: دلاسو او پښو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نکريزو سره کول دواده شوي ښځي لپاره مستحب دي، ځکه پدې باره کې مشهور احاديث راغلي دي.. (المجموع ۳۲۴/۱)، او امام نووي هغه حديث ته اشاره کوي چې ابو داود روايت کړی دی: «چي يوې ښځي له عايشي عنها رضي الله څخه دنکريزو په باره کي پوښتنه وکړه، هغې وويل: څه باك نشته، لکن زه يي بد ګڼم، ځکه زما ګران پيغمبر ﷺ دهغه بوی بد ګاڼه»، او دا حديث نسائي هم روايت کړی دی، او له عايشې رضي الله عنها څخه همدارنګه روايت دی چي وايي: «يوې ښځي چي ليك يي په لاس کي وو -دپردې د شا نه- پيغمبر ﷺ ته اشاره وکړه، نو پيغمبر ﷺ يې لاس ونيو او ويې ويل: چي نه پوهيږم چي دا دسړي لاس دی، او که دښځي لاس؟ هغې وويل: دښځي لاس دی، نو پيغمبر ﷺ ورته وويل: که ته ښځه واې نو نوکونه به دي بدل کړي واې، يعني په نکريزو به دي رنګ کړی واې.

ليکن نوکان دي پداسي شي نه رنګوي چي دپوښ په شکل پرې پاتې شي[1] او په اوداسه کي (نوکانو ته داوبو درسيدلو مخه ونيسي.

---

(۱) لکه دنوکانو خاص رنګ چي (رنګ ناخون) ورته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- اما د ښځې لپاره د سر د وېښتانو رنګول: که چیرې وېښتان یې سپین وي نو د تور رنګ څخه پرته بل رنګ دې ورکړي، ځکه له تور رنګ څخه پیغمبر ﷺ عامه منع کړېده.
امام نووي په ریاض الصالحین (ص۳۲۶) کې د نارینه وو او ښځو لپاره د تور رنګ داستعمال دممنوع والي په باره کې یو باب ذکر کړی دی، او په (المجموع) کې وایي: د تور رنګ داستعمال په ممانعت کې د نارینه او ښځې په مینځ کې څه توپیر نشته، او دا زمونږ مذهب دی.. (المجموع ۱/۳۲۴).
او د ښځې لپاره د سر وېښتان رنګول چې له تور رنګ نه بل رنګ ته واوړي، زما په نظر روا ندي؛ ځکه چې هغه ته څه ضرورت نشته، او توروالی د وېښتانو لپاره ښکلا ده، او بدرنګوالی ندی چې تغیر ته حاجت ولري، او همدارنګه په هغه کې د کافرو د ښځو سره مشابهت هم دی.
۳- د علماوو په اتفاق سره ښځې ته روا دي چې د معمول سره سم د سرو زرو او سپینو زرو ګانه* استعمال کړي، لیکن هغې ته روا نه دي چې خپل ګانه پردو یا غیر

(c) ketabton.com: The Digital Library



محرم[1] نارينه وو ته ښکاره کړي، بلکه له هغوی نه به يي پټوي، خصوصاً د کور نه دوتلو، او دنارينه وو سره مخامخ کيدلو په حالت کي؛ ځکه دا دفتني سبب ګرځي، او ښځه لدي څخه منع شويده چي دپښو دزيوراتو (لکه پايزيبونو) آواز چي تر جامو لاندي (ګاڼه دي)[2]، نارينه وو ته واوروي، نو دښکاره ګاڼه به څرنګه (پردو نارينه وو ته ښودل روا وي)؟.

---

(۱) غير محرم هغه چاته ويل کيږي چي دښځي نکاح ورسره روا وي.

(۲) الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَا يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ﴾ (النور: ۳۱ آيت)، ترجمه: او نه دي وهي پښې خپلي (په ځمکه) تر څو هغه زينت يې معلوم شي چي دوی يي پټوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دريم فصل

## دحيض، استحاضې، او نفاس احکام

اول: حيض:

۱- دحيض تعريف:

حيض په لغت کي بهيدلو ته وايي، او په شريعت کي هغهويني تـه وايي چي دښځي درَحِم له بيخ نه پرته له کوم مرض او يا زخم نه په يو معلوم وخت کي ووځي، او دا دخداى ﷻ له جانبه دښځو لپاره يو طبيعي شى دى، چي خداى ﷻ په رَحم کي دحمل په موده کي دماشوم دتغذيي لپاره هغه پيدا کړيدى، چي وروسته له ولادت نه په شودو بدليږي، نو کله چي ښځه حامله نه وي، او ماشوم ته شودې نه ورکوي، نو دا وينه بې مصرفه پاته شي، نو په يوه معين وخت کي راوځي، چي هغه ته دښځي مياشتنى عادت وايي.

۲- دحيض سن او عمر:

هغه عمر چي ښځي ته پکښي حيض راځي هغه لږ تر لږه نهه (۹) کاله تر پنځوسو (۵۰) کلونو پوري وي، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَاللاَّئِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



فَعِدَّتُهُنَّ ثَلاثَةُ أَشْهُرٍ وَاللاَّئِي لَمْ يَحِضْنَ﴾ [د الطلاق سورت: ٤ آيت].

ترجمه: ستاسو هغه ښځي چي له حيض نه نااميده وي، که په شك كي شوی، نو عدت[1] يي دري مياشتي دی، او دهغو ښځو عدت چي حيض يي نه وي راغلی (دري مياشتي دی).

نو نا اميده ښځي هغه دي: كومي چي پنځوسو (۵۰) كلو ته رسيدلي وي، او هغه ښځي چي حيض يي نه وي راغلی هغه دي: چي له نهو (۹) كلو نه ورې وي.

۳- دحائضي ښځي احكام:

الف- دحيض په حالت كي دهغې سره مجامعت كول (يوځای كيدل) ناروا دي، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَيَسْأَلُونَكَ عَنِ الْمَحِيضِ قُلْ هُوَ أَذًى فَاعْتَزِلُواْ النِّسَاء فِي الْمَحِيضِ وَلاَ تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىَ يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللّهُ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾ [د البقره سورت: ۲۲۲ آيت].

ترجمه: او له تا نه دحيض په باره كي پوښتنه كوي، ورته ووايه چي هغه يوه پليتي ده، او په حيض كي له ښځو نه ليري

(۱) عدت هغه مودې ته وايي چي له طلاق نه وروسته يي بايد ښځه په كور كي تير كړي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوسئ، او مه ورته نژدې کيږئ تر هغه پوري چي پاکي شي، چي کله پاکي شي، نو بيا له هغي خوا نه ورته راشئ (مجامعت ورسره وکړئ) چي الله تاسو ته امر کړی دی، بيشکه چي الله توبه ايستونکي او ډير پاك کسان خوښوي.

او دا حراموالی (ناروا والی) تر هغه وخته پوري دی چي دحيض وينه بنده شي، او ښځه تري غسل وکړي او پاکه شي، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلاَ تَقْرَبُوهُنَّ حَتَّىَ يَطْهُرْنَ فَإِذَا تَطَهَّرْنَ فَأْتُوهُنَّ مِنْ حَيْثُ أَمَرَكُمُ اللّهُ﴾ [د البقره سورت: ۲۲۲ آيت].

ترجمه: او هغوی (يعني خپلو ښځو) ته مه نژدې کيږئ تر څو پاکي شي، چي کله پاکي شي، نو بيا له هغي خوا څخه ورته راشئ (مجامعت ورسره وکړی) چي الله تاسو ته امر کړی دی.

او دحائضي ښځي خاوند ته روا دي چي بيله يو ځای کيدو څخه په بله هره طريقه چي وي خوند واخلي، پيغمبر ﷺ فرمايي: «اِصْنَعُوا كلَّ شَيءٍ إلاّ النّكاح»(۱).

ترجمه: (له حائضي ښځي سره) بيله جماع (يو ځای کيدو)

---

(۱) مسلم روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه نور هر څه وکړئ.

ب- حائضه ښځه به دحیض په موده کي لمونځ او روژه پرېږدي، او کول يي ورته حرام دي صحيح ندي، پيغمبر ﷺ فرمايي: «أَلَيْسَ إِذَا حَاضَتْ لَمْ تُصَلِّ وَلَمْ تَصُمْ؟» (بخاري او مسلم روايت کړيدی).

ترجمه: آيا داسي نده چي کله ښځي ته حيض راشي نو نه لمونځ کوي او نه روژه نيسي؟

او چي کله له حيض نه پاکه شي، نو بيا به دروژې قضايي راوړي، او دلمانځه به نه راوړي، عائشه رضي الله عنها وايي: «كُنَّا نَحِيضُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ فَكُنَّا نُؤمَرُ بِقَضَاءِ الصَّومِ وَلاَ نُؤمَرُ بِقَضَاءِ الصَّلاَةِ»(بخاري او مسلم روايت کړيدی).

ترجمه: مونږ به دپيغمبر ﷺ په زمانه کي حيض ليده، نو بيا به دروژې په قضايي راته امر کيده، او دلمانځه په قضايي به را ته امر نه کيده.

او -الله ﷻ ښه پوهيږي- چي فرق دادی، چي لمونځ څو واره* تکراريږي، نو دتکليف او د سختی په خاطر يي قضايي فرض نده، او روژه داسي نده.

ج- حائضې ته حرام دي چي قرآن کريم بيله کوم حايل

(c) ketabton.com: The Digital Library



(پوښ يا پردي) څخه مسه کړي، الله ﷻ فرمايي: ﴿لا يَمَسُّهُ إِلاّ الْمُطَهَّرُونَ﴾ [د الواقعه سورت: ۷۹ آيت].

ترجمه: (قرآن کريم) به بيله پاکانو نه بل څوك نه مسه کوي.

او په هغه ليك کي چي پيغمبر ﷺ وعمرو بن حزم ته ليکلی وو راغلي دي: «لاَ يَمَسَّ الْمُصْحَفَ إلاّ طَاهِرٌ» (نسائي او نورو روايت کړيدی).

ترجمه: قرآن کريم به څوك نه مسه کوي مګر دا چي پاك وي.

اما دحايضې دقرآن کريم تلاوت بيله دي چي هغه مسه کړي، دعلماوو په مينځ کي پدي کي اختلاف دی، نو داحتياط له کبله دي پرته له ضرورت نه دقرآن کريم تلاوت ونکړي، مثلاً که چيري (دقرآن) له هيريدلو نه وډار شي، (نو بيا يي تلاوت کول پروا نلري)، والله اعلم.

د- حائضې ښځي ته په کعبه باندي طواف کول حرام دي، نظر پدي قول دپيغمبر ﷺ وعائشي ته کله چي يي حيض راغی: «افْعلي مَا يَفعلُ الحاجُّ، غيرَ ألاّ تَطُوفي بالبيتِ حَتى تَطْهُري» (بخاري او مسلم روايت کړی دی).

ترجمه: هغه څه وکړه چي حاجي يي کوي، مګر په کعبه به

(c) ketabton.com: The Digital Library



طواف نه کوي تر هغه پوري چي پاکه شي.

هـ- حائضې ته په مسجد کې پاته کيدل حرام دي، نظر پدي قـول دپيغمبر ﷺ: «إِنِّي لا أُحِلُّ المَسْجِدَ لحائضٍ ولاَ لِجُنُبٍ» (ابو داود روايت کړی دی).

تـرجمه: زه دحائضـې او جُنُب لـپاره پـه مسـجد (کـي پاتـه کيدل) روا نه بولم.

او دپيغمبر ﷺ دا قـول: «إنَّ المَسْـجِدَ لا يَحِلُّ لحائضٍ ولا جُنُبٍ» (ابن ماجه روايت کړی دی).

تـرجمه: پـه مسـجد کـي (پاتـه کيدل) دحائضې او جنب لپاره روا ندي.

او حائضې تـه روا دي چـي پـه مسجد کـي تيره شي بيله پاته کيدو څخـه، نظر پـدې حديث دعـائشـې رضی الله عنها چـي وايـي: قـال رسـول الله ﷺ: «نَاوِلِـيني الخَمْـرَةَ مِنَ المَسجِدِ» فَقُلتُ: إنِي حَائضٌ، فَقَالَ: «إنَّ حَيْضَتَكِ لَيْسَتْ بِيَدِكِ»[1].

تـرجمه: پيغمـبر ﷺ ورتـه وويـل: لـه مسـجد نـه مـا تـه وړه

---

(۱) پـه المنـتقی ۱۴۰/۱ کـي راغلـي دي: چـي دا حديـث مسـلم، تـرمذي، نسائي، ابو داود، او ابن ماجه روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوزې راکړه، نو ما ورته وويل: چې زه حائضه يم، وېي ويل: چې ستا حيض ستا په لاس کې ندی.

او پروا نلري چې حائضه شرعي اذکار لکه کلمه، تکبير، تسبيح، او دوعاوې، او يا سهارني او مابنامني ذکرونه او وردونه، او دبيده کيدو او ويښيدو ذکرونه ووايي، او همدارنګه پروا نلري چې علمي کتابونه لکه تفسير، حديث، او فقه ووايي.

مسأله: د «صُفره» او «کُدره» حکم:

صُفره: هغه شي ته وايي چې دزَوي او نَو په شان وي او رنګ يي ژړ وي.

کُدره: هغه شي ته وايي چې رنګ يي دخړو او خيرَنو اوبو په شان وي.

نو کله چې له ښځې نه دحيض په وخت کې ژړې او يا خړې اوبه ووځي، نو هغه حيض ګڼل کيږي، او دحيض حکم لري، او که دحيض له وخت نه بغير په بل وخت کې ووځي نو هغه عادي اوبه دي او څه خاص حکم نلري، او ښځه پاکه بلله کيږي، نظر پدې قول د أُم عطيه رضي الله عنها چې وايي: مونږ کدره او صفره دحيض له پاکوالي نه وروسته په هيڅ شي نه شميرلو، دا حديث ابو داود روايت کړی دی، او د بخاري په روايت کې د «بعد

(c) ketabton.com: The Digital Library



الطهر» لفظ ندی راغلی، او دا دمحدثينو په نظر دمرفوع حديث[۱] حکم لري؛ ځکه چي دا د پيغمبر ﷺ لخوا نه تقرير[۲] بلل کيږي، او (ددې روايت) مقابله معنا داده چي صفره او کدره دپاکيدلو نه مخکي دحيض حکم لري.

بله مسأله:

سوال: ښځه دحيض ختميدل په څه پيژني؟

جواب: دويني په دريدلو سره يي پيژني، او دهغه دوې نښي* او علامې دي:

اوله علامه: له حيض نه وروسته دسپينو اوبو[۳] راتلل، چي دګچو په شان به سپيني وي، او کله بيله سپين رنګ څخه بل رنګ وي، ځکه چي رنګ يي دښځو دمختلفو احوالو په اساس بيل او مختلف وي.

دوهمه علامه: وچوالی: او هغه دادی چي په خپل فرج

---

(۱) مرفوع حديث هغه ته ويل کيږي چي له پيغمبر ﷺ څخه مستقيماً روايت شوی وي.

(۲) تقرير دې ته ويل کيږي چي دپيغمبر ﷺ په وړاندي يو کار وشي، او يا يو څه وويل شي، او هغه نه منع نکړي.

(۳) چي هغه ته په عربي کي (القَصة البيضاء) وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(شرمګاه) کې یوه ټوټه، یا پنبه (مالوچ) ننه باسي، او بیا وچه راووځي چې هیڅ شی پرې نه وي، نه وینه، نه ژړې اوبه، او نه خړې اوبه.

۴- هغه څه چې ښځې ته دحیض نه وروسته لازم دي:

له حیض نه وروسته لازمه ده چې ښځه غسل وکړي، او هغه دا چې خپل ټول بدن په اوبو سره دپاکوالي په نیت ووینځي؛ نظر پدې قول د پیغمبر ﷺ: «فـإذا أقْبلتْ حيضتُكِ فدَعِي الصَلاةَ، وإذا أَدْبَرَتْ فاغْتَسِلِي وَصَلِّي»[۱].

ترجمه: کله چې دې حیض راشي، نو لمونځ پرېږده، او کله چې دې حیض لاړ شي، نو غسل وکړه، او لمونځ وکړه.

او دغسل ترتیب دادی: چې دجنابت دلیرې والي او یا دلمانځه یا دهغې په شان د بل شي لپاره دپاکوالي نیت وکړي، او بیا دې بسم الله ووایي، او بیا دې اوبه پر ټول بدن توی کړي، او دوېښتانو بېخونه دې لامده کړي، که چوټې* وي خلاصول یې لازم ندي، یواځې دې اوبه پرې واچوي، او که چیرې سدر[۲]

---

(۱) بخاري روایت کړیدی.

(۲) سدر یا (بیره) یو طبیعي بوټی دی چې دکالیو او نورو شیانو دپاکوالي =

(c) ketabton.com: The Digital Library



او يا نور پاکونکي مواد[1] له اوبو سره استعمال کړي نو ښه به وي، او مستحبه ده چي يو څه پنبه واخلي چي په مشك يا بل څه سره خوشبويه وي، او په خپل فرج[2] کي دي دغسل نه وروسته کښيږدي، ځکه چي پيغمبر ﷺ اسماء رضی الله عنها ته پدې سره امر کړی وو (مسلم روايت کړی دی).

يوه مهمه پاملرنه:

کله چي حائضه او يا نفاس لرونکي ښځه له لمر لويدلو نه مخکي پاکه شي، نو دنومړي ورځي دماسپښين او مازديګر لمونځونه پري لازم دي، او که د لمر ختو نه مخکي پاکه شي، نو دنومړي شپې دماښام او ماسختن لمونځونه پري لازم دي؛ ځکه چي دعذر په صورت کي ددوهم لمانځه وخت داول لمانځه لپاره هم وخت بلل کيږي.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه وايي: او لدې کبله اکثره علماء لکه مالك، شافعي او احمد رحمت الله عليهم-

پخاطر له اوبو سره استعماليږي.(ژباړن)

(۱) لکه صابون او داسي نور.(ژباړن)

(۲) فرج دښځي شرمګاه او غليظه عورت ته وايي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې نظر وو چې کله حائضه دورځي په آخره کې پاکه شي، نو د ماسپښين او مازديګر لمونځونه به دواړه کوي، او که دشپې په اخره کې پاکه شي، نو دماښام او ماسختن لمونځونه به دواړه کوي، لکه څنګه چې له عبد الرحمن بن عوف او ابو هريره او ابن عباس ﷺ څخه روايت شوي دي؛ ځکه چې دعذر په حالت کې د دواړو لمونځونو وخت مشترك وي، او که چيري دورځي په آخر کې پاکه شي نو د ماسپښين وخت پاتي وي، نو هغه به له مازديګر نه مخکي کوي، او که دشپې په آخره کې پاکه شي، نو دعذر په صورت کې دماښام وخت پاتي دى، نو دماسختن نه مخکي به يي کوي (مجموع الفتاوى ۲۲/۴۳۴).

او که چيري پرې ديو لمانځه وخت داخل شي او بيا حيض او يا نفاس ورته راشي مخکي لدې نه چې لمونځ وکړي، نو راجحه قول دادى: چې دهغه لمونځ قضايي پرې لازمه نده، کوم چې اول وخت يي پري داخل شوى وو، او له لمانځه څخه مخکي ورته حيض او يا نفاس راغلى وو.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه پدې مسأله کي وايي: او ددليل په لحاظ دابو حنيفه او مالك مذهب ظاهره دى، او هغه دا چې حائضې باندي هيڅ شى لازم ندي؛ ځکه قضاء په نوي امر لازميږي، او دلته دقضايي راوړلو لپاره کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



امر نشته، او ځکه چي هغې دا لمونځ په جائزه طريقه سره وروسته کړی دی، نو دا ملامته نده، اما څوك چي له لمانځه نه ويده شي، او يا يي هير شي، که څه هم دهغوی تقصير نشته، خو کوم لمونځ چي دوی يي کوي هغه قضايي ندی، بلکه ددوی په حق کي دلمانځه وخت هغه دی چي کله دوی راويښ شي او يا وريه ياد شي (مجموع الفتاوی ۳۳۵/۲۳).

دوهم: استحاضه:

۱- داستحاضې احکام:

استحاضه: هغهويني ته وايي چي بي وخته له يو رګ نه - چي (عاذل) ورته وايي- را ووځي، او دمستحاضې[(۱)] حالت پيژندل ګران دی، پدې چي دحيض وينه داستحاضې له ويني سره مشابهت لري.

نو که چيري له هغې نه په دوامداره يا غالب وخت وينه راتلله، نو آيا کومه وينه دحيض ده، او کومه داستحاضې ده چي دهغه په وجه لمونځ او روژه نه پريښودل کيږي؟، ځکه استحاضه دپاکو ښځو حکم لري، نو دهغي په خاطر د

---

(۱) مستحاضه هغه ښځي ته ويل کيږي چي داستحاضې په حالت کي وي، او بيان يي په راتلونکي کرښو کي کيږي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



استحاضې درې حالته دي:

اول حالت:

که ښځه مخکي لدې نه چي استحاضه ورته راشي، يو معين او معلوم عادت ولري، چي له استحاضې نه مخکي به مثلاً پنځه (۵) او يا اته (۸) ورځي دمياشتي په اوله او يا مينځ کي حيض ورته راتلی، نو دې ته دځپل حيض ورځي معلومي وي، نو دا ښځه به دخپل تاکلي عادت په اندازه حيض ګني، او لمونځ او روژه به پرېږدي، او دهغي لپاره دا دحيض د احکامو اعتبار لري، او چي کله يي دعادت ورځي ختمي شوې، غسل به کوي، او لمونځ به کوي، او باقي راتلونکې وينه استحاضه ګڼل کيږي، نظر پدې قول د پيغمبر ﷺ أُم حبيبه ته: «امْكُثِي قَدْرَ مَا كَانَتْ تَحْبِسُكِ حَيْضَتُكِ ثُمَّ اغْتَسِلِي وَصَلِّي» (مسلم روايت کړی دی).

ترجمه: ستا دحيض دورځو په اندازه کښينه او انتظار وکړه، او بيا غسل وکړه، او لمونځ وکړه، او نظر پدې قول د پيغمبر ﷺ وفاطمه بنت ابي حبيش ته: «إِنَّمَا ذَلِكِ عِرْقٌ وَلَيْسَ بِحَيْضٍ فَإِذَا أَقْبَلَتْ حَيْضَتُكِ فَدَعِي الصَّلَاةَ» (بخاري او مسلم روايت کړی دی).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: دا (استحاضه) ديو رګ (وينه) ده، او حيض ندی، نو کله چي دي حيض راغی، نو لمونځ پرېږده.

دوهم حالت:

که چيري هغې کوم معلوم او معين عادت نه درلود، خو وينه يي معلومداره وه، يعني ځيني د هغې به دحيض صفت لرلو، يعني توره به وه، او يا به ټينګه (ګاټه) وه، او يا به يي بوی درلود، او نوره (باقي) وينه به دحيض دويني په شان نه وه، يعني سره به وه، او يا به يي بوی نه درلود، او يا به ټينګه (ګاټه) نه وه، نو پداسي حالت کي هغه وينه چي دحيض دويني صفات پکښي وي هغه حيض دی، په هغه کي به لمونځ او روژه پرېږدي، او ماسوا لدينه نوره وينه داستحاضې وينه ده، دحيض دويني په آخر کي به غسل کوي، او لمونځ به کوي، روژه به نيسي، او دا دپاکي ښځي حکم لري، نظر پدې قول د پيغمبر ﷺ وفاطمه بنت ابي حبيش ته: «إِذَا كَانَ دَمُ الْحَيْضَةِ فَإِنَّهُ أَسْوَدُ يُعْرَفُ فَإِذَا كَانَ ذَلِكَ فَأَمْسِكِي عَنْ الصَّلَاةِ فَإِذَا كَانَ الاخَرُ فَتَوَضَّئِي وَصَلِّي» (ابوداود او نسائي روايت کړی دی، او ابن حبان او حاکم هغه صحيح حديث ګڼلی دی).

ترجمه: که چيري حيض وي، نو دهغه (وينه) تور رنګې وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پيژندلې شي، نو لمونځ مه کوه، او که چيري بل څه وو، نو اودس وکړه او لمونځ وکړه.

نو پدې حديث کي دا (خبره) واضحه ده چي مستحاضه به دويني صفت او حالت ته ګوري، او په هغه سره به دحيض او استحاضې په مينځ کي فرق کوي.

دريم حالت:

که چيري ښځي نا معلومه عادت درلود، او ورته معلوم نه وو، او ويني څه خاص صفت او حالت نه درلود چي په هغه سره دحيض او استحاضې تميز وکړي، نو دا به دحيض اکثره او غالبه موده يعني شپږ (۶)، يا اووه (۷) ورځي له هري مياشتي نه حيض ګڼي، ځکه دا داکثرو ښځو دحيض موده ده، نظر پدې قول د پيغمبر ﷺ وحمنه بنت جحش ته: «إِنَّمَا هِيَ رَكْضَةٌ مِنْ الشَّيْطَانِ فَتَحَيَّضِي سِتَّةَ أَيَّامٍ أَوْ سَبْعَةَ أَيَّامٍ، ثُمَّ اغْتَسِلِي فَإِذَا اسْتَنْقَأْتِ فَصَلِّي أَرْبَعَةً وَعِشْرِينَ لَيْلَةً أَوْ ثَلاثَةً وَعِشْرِينَ لَيْلَةً وَأَيَّامَهَا وَصُومِي وَصَلِّي فَإِنَّ ذَلِكِ يُجْزِئُكِ وَكَذَلِكِ فَافْعَلِي كَمَا تَحِيضُ النِّسَاءُ» (بخاري، مسلم، ترمذي، نسائي، او ابو داود روايت کړي دی، او ترمذي هغه صحيح حديث ګڼلی دی).

ترجمه: دا (استحاضه) دشيطان لخوا يو حرکت دی، نو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپږ او يا اووه ورځې حيض وګڼه، او بيا غسل وکړه، او چې کله پاکه شوې، نو څلورويشت (۲۴) او يا درويشت (۲۳) ورځې لمونځ وکړه، او روژه ونيسه، دا ستا لپاره روا ده، او همدارنګه عمل وکړه لکه څنګه چې يې نورې ښځې په حيض کې کوي.

او دمخکنيو خبرو خلاصه داده: چې عادت لرونکې ښځه به خپل عادت ګوري، او کومه چې وينه يې خاص اوصاف لري هغه به په هماغه اوصافو عمل کوي، او کومه چې دا دواړه نه لري، نو هغه به شپږ او يا اووه ورځې حيض ګڼي، او پدې سره دهغه دريو واړو روايتونو په مينځ کې جمع او توافق راځي چې د پيغمبر ﷺ نه دمستحاضې په باره کې راغلي دي.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه وايي: او کومې علامې چې علماوو پدې باره کې ذکر کړي دي، هغه شپږ علامې دي: يا به عادت وي، او عادت له ټولو نه قوي علامه ده، ځکه چې دلته اصل دحيض حالت دی، نه بل څه.

او يا به تميز[1] وي، ځکه چې توره، ځَته (ټينګه) او بد

---

(۱) د تميز څخه مقصد دادی چې دښځې وينه خاص اوصاف او مشخصات ولري، لکه مخکې چې دهغه بيان وشو.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



بويه وينه کي دحيض احتمال له سري ويني نه زيات دی.

او يا داکثرو ښځو عادت ته اعتبار ورکول دي؛ ځکه چي اصل دادی چي يو فرد بايد داکثريت په حکم پوري وتړل شي، او دا دري علامي په احاديثو او قياس سره ثابته دي.

او بيا يي نوري پاتي علامې ذکر کړې، او په آخر کي وايي: او په ټولو کي راجح او حق قول دادی: چي هغه علامو ته اعتبار ورکړل شي کومي چي په احاديثو کي راغلي دي، او پرته لدې نه نور علائم لغو شي.

۲- پر مستحاضې باندي دپاکوالي حکم کولو په صورت کي لازمي احکام:

الف: کله چي يي دحيض معيني ورځي پای ته ورسيږي نو غسل پري لازميږي لکه څنګه چي يي مخکي بيان وشو.

ب: هر لمانځه ته به خپل فرج پريمينځي، او په هغه کي به پنبه او يا دهغه په شان بل شی ايږدي چي وينه بنده کړي، او هغه به په يو څه وتړي چي ونه لويږي، او بيا به دهر لمانځه دوخت دداخليدلو سره اودس کوي، نظر پدې قول د پيغمبر ﷺ دمستحاضې په باره کي: «تَدَعُ الصَّلاَةَ أَيَّامَ أَقْرَائِهَا ثُمَّ تَغْتَسِلُ وَتَتَوَضَّأُ عِنْدَ كُلِّ صَلاَةٍ» (ابو داود، ابن ماجه او ترمذي روايت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې دی، او ترمذي دهغه په باره کي وايي: دا حديث حسن دی).

ترجمه: دخپل حيض په ورځو کي به لمونځ پرېږدي، او بيا به غسل کوي، او دهر لمانځه لپاره به اودس کوي.

او فرمايي: «أَنْعَتُ لكِ الكُرْسَفَ تَحْشِينَ بهِ المَكَانَ».

ترجمه: له ځان لپاره پنبه وغواړه او په دا ځای[1] کي کښېږده.

او کېدلای شي چي اوس دپنبي په ځای هغه خاص طبي نيکرونه* استعمال شي چي دهمدې غرض لپاره جوړ شوي دي.

دريم: نفاس:

الف: دنفاس تعريف او موده:

نفاس: هغه وينه ده چي دولادت په وخت کي او وروسته له هغه څخه له رَحِم نه راځي، او دا هغه باقي وينه ده چي په رَحِم کي دحمل په وخت کي پاته وه، نو چي کله ولادت وشي دا وينه لږه لږه راوځي، او کومه وينه چي له ولادت نه لږ مخکي ښکاره شي او دولادت نښي پکښې وي نو هغه هم دنفاس وينه ده، او

(۱) يعني فرج. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځينې فقهاوو هغه له ولادت نه مخكي په دوو او يا درويو ورځو مقيده كړې ده، خو غالبه داده چي نفاس له ولادت سره يو ځاى وي.

او په زيږېدلي ماشوم بايد انساني خلقت ظاهره وي، او كمه موده چي په هغه كي دماشوم انساني خلقت واضحه كيږي (۸۱) ورځي ده، او ډيره موده دري مياشتي ده، نو كه چير لدې مدې (۸۱ ورځو) نه مخكي ماشوم وشي (نقصان وكړي)، او له هغه سره وينه راشي، نو هغه ته دي توجه نه كوي او دهغه لپاره به لمونځ او روژه نه پريږدي، ځكه چي دا فاسده وينه ده، او داستحاضې حكم لري.

زياته موده دنفاس غالباً (۴۰) ورځي ده، چي له ولادت سره او يا دوي دري ورځي له هغه نه مخكي شروع كيږي، لكه څنګه چي يي مخكي ذكر وشو، نظر پدې حديث دام سلمه رضي الله عنها چي وايي: «كَانَتْ النُّفَسَاءُ تَجْلِسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ أَرْبَعِينَ يَوْمًا» (ترمذي روايت كړى دى).

ترجمه: زچه (نفاسداره ښځه) به د پيغمبر ﷺ په زمانه كي څلويښت ورځي كښيناستله.

او علماوو پدې باندي اتفاق هم كړى دى، لكه څنګه چي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمذي او نورو هغه نقل کړی دی.

او که چيري له ځلويښتو ورځو نه مخکي پاکه شي او وينه يي ودريږي، نو غسل به کوي او لمونځونه به کوي، دنفاس دکمي مودې معينه اندازه نشته، ځکه چي دهغه تعين ندی راغلی، او که چيري ځلويښت ورځي پوره شوي او وينه يي بنده نه شوه، که يي دحيض ورځي وي، نو حيض ګڼل کيږي، او که يي دحيض ورځي نه وې، او وينه جاري وه نو دا استحاضه ده، او عبادت (لمونځ ، روژه او نور) به له (۴۰) ورځو نه وروسته نه پريږدي، او که چيري وينه له (۴۰) ورځو نه واوړي خو دوام ونکړي، نو پدي کي دعلماوو اختلاف دی.

ب: دنفاس متعلق احکام:

نفاس په لاندني احکامو کي د حيض حکم لري:

۱- په ځلويښتي کي ښځي سره جماع کول حرام دي، لکه څنګه چي له حائضې سره جماع حرامه ده، او بيله جماع څخه نور خوند اخيستل (له دواړو سره) روا دي.

۲- په ځلويښتي کي ښځي ته دحائضې په شان روژه نيول او لمونځ کول، او دکعبې طواف حرام دی.

۳- په نفاس لرونکي ښځي دحائضې په شان دقرانکريم مسه کول او دهغه تلاوت حرام دي، مګر که د هيريدلو ويره

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسره وي.

۴- په نفاس لرونکي ښځي دحائضې په شان دفرضي روژې قضايي راوړل فرض دي.

۵- په نفاس لرونکي ښځي باندي دنفاس نه وروسته غسل کول فرض دي، لکه څنګه چي پر حائضې فرض دي.

ددې مسائلو دلائل په لاندي ډول دي:

۱) له ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دی: «كَانَتْ النُّفَسَاءُ تَجْلِسُ عَلَى عَهْدِ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ أَرْبَعِينَ يَوْمًا» (ترمذي روايت کړی دی).

ترجمه: زچه (نفاس داره ښځه) د پيغمبر ﷺ په وخت کي څلويښت ورځي کښيناستله.

مجد ابن تيميه رحمت الله عليه وايي: «زه وايم: دحديث معنا داده: پدې باندي ورته امر کيدی چي تر څلويښتو ورځو پوري کښيني، تر څو حديث دروغ ونه ګڼل شي، ځکه چي ممکنه نده ديوه عصر ټولي ښځي په نفاس او حيض کي يو شانتي عادت ولري (المنتقى ۱/۱۸۴۹)

۲) له ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دی چي وايي: «كَانَتْ الْمَرْأَةُ مِنْ نِسَاءِ النَّبِيِّ ﷺ تَقْعُدُ فِي النِّفَاسِ أَرْبَعِينَ لَيْلَةً لاَ يَأْمُرُهَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِقَضَاءِ صَلَاةِ النِّفَاسِ» (ابو داود روايت کړې دی)

ترجمه: د پيغمبر ﷺ له ښځو نه به يوه په نفاس کې ځلوېښت شپې کښيناستله، او پيغمبر ﷺ به ورته د ځلوېښتې دلمونځ دقضايي امر نه کولو.

مسأله:

که زچه (نفاس لرونکې) ښځې وينه له ځلوېښتو ورځو نه مخکې بنده شي، او غسل وکړي، او لمونځ وکړي او روژه ونيسي، او بيا په ځلوېښتو ورځو کې دننه وينه راشي، نو صحيح داده چې دا نفاس ګڼل کيږي کښيني به، او کومه روژه يې چې دپاکۍ په ورځو کې نيولې ده هغه صحيح ده، قضايي پرې نشته [1].

---

(۱) پدې باره کې دي دمحمد بن ابراهيم دفتاوی مجموعه ۲/ ۱۰۲، او دشيخ عبد العزيز بن باز فتاوی ۱/ ۴۴، د(مجلة الدعوة) چاپ، او دابن قاسم حاشيه پر زاد المستقنع باندي ۱/ ۴۰۵، او رسالة الدماء الطبيعية للنساء دشيخ محمد صالح العثيمين تاليف ۵۵-۵۶ صفحه، او (الفتاوی السعدية) ۱۳۷ صفحه وکتل شي.

او محمد بن ابراهيم په خپله فتاوی کې وايي: او دروژې قضايي دي
=

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله مسأله:

شيخ عبد الرحمن بن سعدي رحمت الله عليه وايي: «له ورانـدي خبرو نه دا ظاهره شوه چي دنفاس دويني سبب ولادت دی، او داستحاضي وينه هغه عارضي وينه ده چي دمرض په وجه وي، او دحيض وينه اصلي وينه ده، والله أعلم (إرشاد أولي الأبصار والألباب ۲۴)

دګوليو خوړل:

څه باك نشته كه ښځه دحيض دمنع كولو ګولی وخوري كه هغه د هغي صحت ته تاوان او ضرر ونلري، نو كله چي ګولی وخوري او حيض يي رانشي، نو بيا لمونځ كول، روژه نيول، او د كعبي شريفي طواف كول، دا ټول دنورو پاكو ښځو په شان ورته روا دي او صحت لري.

=

راوړي، او دلمانځه قضايي دي نه راوړي، او دا يو مجمله خبره ده، ځكه ددي بيان يي ندی كړی چي دكومه روژي قضايي لازمه ده، ايا هغه روژه چي دنفاس په وخت كي دپاكی په ورځو كي نيولي ده، او كه هغه چي دويني دراګرځيدلو وروسته يي پري ايښي ده؟ او شايد دهغه مقصد به دا دوهمه خبره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داولاد نقصانولو حکم:

اې مسلمانې خورې، کوم شی چې الله ﷻ ستا په رحم کې پیدا کړی دی، ته یې پر هغه امانتداره ګرځولې یې، نو هغه به نه پټموې، الله ﷻ وایي: ﴿وَلاَ يَحِلُّ لَهُنَّ أَن يَكْتُمْنَ مَا خَلَقَ اللّهُ فِي أَرْحَامِهِنَّ إِن كُنَّ يُؤْمِنَّ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ﴾ [د البقرة سورت: ۲۲۸ آیت].

ترجمه: دوی (ښځو) ته روا ندي هغه څه پټ کړي هغه څه چې الله ﷻ ددوی په رَحِمونو کې پیدا کړي دي، که دوی په الله او داخرت په ورځ باندې ایمان لري.

او په مختلفو وسیلو سره دهغه (اولاد) په نقصانولو (غورځولو) او له هغه نه دخلاصون کوښښ ونکړي، ځکه الله ﷻ تاته په رمضان کې دروژې خوړل روا کړي دي، کله چې تاته یې نیول دحمل په وخت کې سخت وي، او یا حمل (ماشوم) ته ضرر رسوي.

او کوم عملیاتونه چې نن ورځ دنقصانولو لپاره مینځ ته راغلي دي حرام دي، او که چیرې په ماشوم کې روح پوکل شوی وي، او دنقصانولو په وجه مړ شي، نودا دانسان په ناحقه سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



وژل دي، او په هغه سره دقتل ټول احکام ثابتيږي، لکه دیّت[۱] ورکول چي اندازه يې خاص تفصيل لري، او دځيني علماوو په نزد کفاره اداء کول، چي هغه ديوه مؤمن مريي آزادول دي، او که يې قدرت او وسه نه وه (او يا يې ونه موند)، ددوو مياشتو پر له پسي روژه نيول دي، او ځيني علماوو دا عمل (يعني نقصانول) په کوچني ډول دژوندی نجلی* دښخولو په شان بولي، محمد بن ابراهيم رحمت الله عليه وايي: «دحمل (دمور په نس کي ماشوم) دنقصانولو کوشش کول ناروا دي، تر هغه پوري چي مرګ يې يقيني نه وي ثابت شوی، او که چيري په يقيني توګه مړ وي نو بيا يې نقصانول جائز دي[۲].

او د(هيئة کبار العلماء) دشوری (۱۴۰) نمبر فيصله په ۲۰/۶/۱۴۰۷هـ تاريخ پدې هکله داسي ده:

۱- دحمل نقصانول په مختلفو مراحلو کي پرته له يو شرعي عذر څخه روا ندي، او هغه هم په يوه محدوده اندازه

---

(۱) دیّت هغه عوض (پيسي او نور څه) دی چي قاتل يي د مړي په بدل کي د مړي خپلوانو (اولياوو) ته ورکوي.(ژباړن)

(۲) مجموع فتاوی الشيخ محمد بن ابراهيم ۱۱/۱۵۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره.

۲- که حمل دجوړښت په اوله مرحله (دځلویښت ورځو په موده) کي وي، او نقصانول يي پدې موده کي ددې ویري څخه وي چي تربیه کول به يي ورته ګران وي، او یا به يي دژوند او تعلیم احتیاجات پوره نکړای شي، او یا يي دآینده ژوند څخه په ویره کي وي، او یا موجوده اولادونه دځان لپاره کافي وبولي، نو پدې صورت کي نقصانول جائز ندي.

۳- که حمل د(عَلَقِې)(۱) او (مُضغِې)(۲) په مرحله کي وي، نو نقصانول يي روا ندي، مګر که یوه طبي معتبره کمیټه دحمل پاتي والی دمور دصحت لپاره خطر وبولي، که چیري دحمل په پاتي کیدو کي دمور دمینځه تلو او هلاکت ویره وي، او وروسته لدې چي ټول ممکنه وسائل ددې خطر دمینځه وړلو نه عاجز شي، نو بیا يي نقصانول روا دي.

۴- ددریمي مرحلې او څلورو میاشتو پوره کیدو نه وروسته يي هم نقصانول ندي روا، مګر که دمعتبرو او

---

(۱) عَلَقَه: دویني ټوټي ته وایي، او حمل په دوهمه څلویښتو ورځو کي دویني دیوي ټوټې په شان وي.

(۲) مُضغَه: دغوښو ټوټې ته وایي، او حمل په دریمه څلویښتو ورځو کي دغوښي دیو ټوټي په شان ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



متخصصو ډاکټرانو يوه مجموعه دا فيصله وکړي چي دحمل پاتي کيدل په خيته (نس) کي دمور دهلاکت سبب ګرځي، او ټول ممکنه وسائل دهغې دژوند په ژغورلو کي ناکامه شي، نو بيا يي نقصانول روا دي، او نقصانول يي پدې وجه دلته روا دي، چي پدې کي ددوو ضررونو تر منځ له ټولو څخه دلوی او ستر ضرر مخنيوی کيږي، او ددوو مصلحتونو نه لوی او ستر مصلحت ترلاسه کيږي.

او شوری پداسي حال کي چي نومړي حکم صادروي، دالله ﷻ څخه دويري او تقوی توصيه کوي، او دا چي په نومړي مسأله کي بايد له احتياط نه کار واخيستل شي، او الله توفيق ورکونکی دی، وصلی الله علی نبينا محمد وآله وصحبه وسلم.

او د (الدمـــاء الطبيعية للنساء) په رساله کي شيخ محمد بن عثيمين داسي وايي: که يي چيري له نقصانولو نه مقصد دماشوم له مينځه وړل وي، او دا په ماشوم کي له روح پوکولو نه وروسته وي، نو بيشکه دا کار حرام دی، ځکه دا دانسان په ناحقه وژل دي، او دمعصوم انسان وژل په قرآن او حديث او اجماع سره حرام دي[1].

او امام ابن جوزي د (احکام النساء) په کتاب کي وايي:

---

(۱) دنومړي رسالي ۶۰ صفحه دي وکتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پدې چې دنکاح څخه مقصد داولاد راوړل دي، او له هر مني (۱) څخه اولاد نه کیږي، نو کله چې اولاد وشي، نو اصلي مقصد تر سره شي، نو دهغه نقصانول دنکاح داصلي حکمت او مقصد مخالفت دی، خو که دا دحمل په اوله مرحله کي له روح پوکلو نه مخکي وي، نو ډیره لویه ګناه ده، ځکه چې حمل لدې نه وروسته دکمال درجې او دخلقت پوره کیدلو ته درسیدلو په لور روان وي، لیکن ګناه یي له هغه حالت نه کمه ده کله چې په هغه کي روح پوه شي او ژوندی شي، نو که ښځه دژوندي ماشوم نقصان وکړي، دا به داسي وي لکه چي مومن انسان یي وژلی وي، الله ﷻ فرمایي: ﴿وَإِذَا الْمَوْؤُودَةُ سُئِلَتْ ❁ بِأَيِّ ذَنبٍ قُتِلَتْ﴾ [د التکویر سورت: ۸-۹ آیتونه] (۲).

نو اې مسلماني خوري له الله ﷻ نه وویریږه، او دهیڅ غرض اومقصد لپاره ددې ناوړه جرم اقدام ونکړې، او په دي ناوړه او ګمراه کونکي تبلیغاتو، او ناروا رواجونو باندي چې عقل او دین یې نه مني- ونه غولیږې.

(۱) (مني) هغه اوبه دي، چې له نارینه څخه دجماع په وخت کي وځي.(ژباړن)

(۲) احکام النساء ص۱۰۸-۱۰۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# څلورم فصل

## دجامو او حجاب احكام

**اول: دمسلماني ښځي دشرعي جامو (لباس) كيفيت:**

۱- دمسلماني ښځي جامې بايد لويي او پراخه وي او ټول جسم يې له نا محرمه نارينه وو نه پټ كړی وي، او خپلو محرمو كسانو ته بايد له معمول سره سم پرته له مخ، ورغويو، او پښو نه بل هيڅ ځای ښكاره نكړي.

۲- جامې بايد مستوري وي چي دهغي د لاندي څه ښكاره نشي، نو داسي نازك نه وي چي دهغي لاندي دپوست رنګ ځني ښكاره شي.

۳- جامې بايد داسي تنګي نه وي چي داعضاوو حجم او اندازه وښايي، په صحيح مسلم كي له پيغمبر ﷺ نه روايت دی چي فرمايي: «صِنْفَانِ مِنْ أَهْلِ النَّارِ لَمْ أَرَهُمَا قَوْمٌ مَعَهُمْ سِيَاطٌ كَأَذْنَابِ الْبَقَرِ يَضْرِبُونَ بِهَا النَّاسَ وَنِسَاءٌ كَاسِيَاتٌ عَارِيَاتٌ مُمِيلاَتٌ مَائِلاَتٌ رُءُوسُهُنَّ كَأَسْنِمَةِ الْبُخْتِ الْمَائِلَةِ لاَ يَدْخُلْنَ الْجَنَّةَ وَلاَ يَجِدْنَ رِيحَهَا وَإِنَّ رِيحَهَا لَيُوجَدُ مِنْ مَسِيرَةِ كَذَا وَكَذَا»

(c) ketabton.com: The Digital Library



(مسلم روايت کړی دی).

ترجمه: په دوږخ کي دوې ډلي دي چي ما (هيڅ) ندي ليدلي: يو هغه قوم دی چي دغوا دلکۍ په شان شلاخي (قمچيني) ورسره وي او خلك* پرې وهي، او (بله ډله) هغه ښځي دي چي سرونه به يي داوښونو دکاږه بوکونو* په شان وي، جنت ته به نه ځي، او نه به يې بوی ورته رسيږي، او بيشکه چي (دجنت) بوی له دومره دومره مسافي نه احساسيږي.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه وايي: «او د پيغمبر ﷺ ددې قول (کاسيات عاريات) تفسير يي داسي کړی دی: چي ښځه داسي جامې واغوندي چي بدن يي نه پټوي، نو دې خو جامې اغوستي وي، خو په حقيقت کي برېنډه وي، مثلاً داسي نرۍ (نازکي) جامې واغوندي چي دپوست رنګ او کيفيت معلوموي، او يا داسي تنګي جامې واغوندي چي دجسم مختلفي حصي او اندامونه لکه کوناټي، ليچي او نور ځايونه وښايي.

دښځي لپاره مناسبي جامې هغه دي چي دا پټوي، او داسي پنډي او لويي وي چي جسم يي نه ښکاره کوي، او نه يي داندامونه حجم او اندازه ښايي (مجموع الفتاوی ۱۴۶/۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- ښځه باید په خپلو جامو کې له نارینه وو سره مشابهت ونلري، ځکه پیغمبر ﷺ پر هغه ښځو باندې لعنت ویلی دی چې خپلې جامې د نارینه وو په شان جوړوي، او د ښځې مشابهت له نارینه وو سره په جامو کې دادی: چې داسې جامې واغوندي چې هغه دنوعیت او اوصافو په لحاظ دهرې ټولنې درسم ورواج سره سم خاص د نارینه وو لپاره وي.

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمت الله علیه وایي: «دنارینه وو (سړو) او ښځو دجامو تر مینځ فرق پدې اساس دی چې کوم لباس دنارینه وو لپاره مناسب وي، او کوم دښځو لپاره مناسب وي، نو (نارینه او ښځې هر یو) دهماغه (مناسبو) جامو په اغوستلو سره مامور دي، ښځو ته په پرده (حجاب) او له برینډوالي نه په ځان ساتلو امر شوی دی، نو ځکه ورته په آذان او لبیك ویلو کې دآواز پورته کولو، او صفا ومروا ته دختلو، او په احرام کې لکه دسړي په شان دجامو دایستلو اجازه نده ورکړه شوې، لکه څنګه چې نارینه وو ته امر شوی دی چې جامې په احرام کې وباسي، او سر لوڅ کړي، او هغه عادي جامې چې داندامونو په اندازه جوړي شوي وي وانه غوندي، نو قمیص، پرتوګ، خولۍ، او موزي باید وانه غوندي... اما ښځه له جامو اغوستو نه نده منعه شوې، ځکه چې هغې ته ځان پټول او سَتر

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول لازم دي، او دهغه مخالفت ورته روا ندی، ليکن د نقاب، او لاسکلو* اغوستو ښځه منعه شوې ده، ځکه دا هغه لباس دی چې اندامونو باندې جوړ شوی دی او ضرورت ورته نشته، او بيا يې دا خبره کړې ده چې خپل مخ به له نارينه وو ښځه پرته له نقاب ښځه په کوم بل شي پټوي... او په آخر کې وايي: «نو کله چې دا خبره روښانه شوه چې دنارينه وو او ښځو دلباس تر منځ بايد داسې فرق وي چې په هغه سره دښځو او نارينه وو توپير وشي، او داچې دښځو جامې بايد داسې وي چې په هغه سره دښځې دسَتر او پردې (حجاب) مقصد تر سره شي، نو پدې باب او دې مساله کې اساس او اصل په ښه توګه په ګوته کيږي، نو دا خبره روښانه شوه چې که کومې جامې او لباس چې زياتره دنارينه لخوا اغوستل کيده، نو د هغه له اغوستو ښځه ښځه منعه ده..، او بيا وايي: او چې کله په کوم لباس کې ستر لږ وي، او هم پکې له نارينه وو سره مشابهت وي، نو دهغه ښځه ددې دوو سببونو په وجه منعه شويده، والله اعلم (مجموع الفتاوی ۱۴۸/۲۳-۱۵۵، ۱۴۹)

۵- دښځې جامې بايد دومره ښايسته نه وي چې د کور نه دوتلو په وخت کې دخلکو توجه جلب کړي، تر څو له هغو ښځو نه ونه ګڼل شي کومې چې خپل زينت بل چا ته ښکاره کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوهم: دپردې (حجاب) معنا، دلائل، او فايدې:**

دپردې (حجاب) معنا: پرده دې ته ويل کيږي چې ښځه خپل بدن دهغهو نارينه وو نه پټ کړي چې محرم يې نه وي، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ﴾ [د النور سورت: ۳۱ آيت].

ترجمه: او ندې ښکاره کوي (باطني) زينت خپل، مګر هغه چې ترينه ښکاري، او په خپلو ټکريو دې خپل ځانونه پټ کړي، او ندې ښکاره کوي خپل ښايست مګر خپلو ميړونو ته، يا خپلو پلرونو ته، يا دميړونو پلرونو ته، يا خپلو ځامنو ته، يا دميړونو ځامنو ته، يا خپلو ورونړو ته، او فرمايي: ﴿وَإِذَا سَأَلْتُمُوهُنَّ مَتَاعًا فَاسْأَلُوهُنَّ مِن وَرَاء حِجَابٍ﴾ [د الاحزاب سورت: ۵۳ آيت].

ترجمه: او کله چې لدوی (دپيغمبر ﷺ دازواجو مطهراتو) څخه څه وغواړئ، نو دپردې تر شا يې وغواړئ، او مراد له (حجاب) نه په آيت کې هغه شی دی چې ښځه پټوي، لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ديـوال، يـا دروازه، يـا جـامې، او آيـت کـه څـه هـم د پيغـمبر ﷺ دښځـو پـه بـاره کـي راغلـی دی، خو حکم يې ټولو مسلمانو ښځو تـه عـام دی، ځکـه چـي دهغه علت او وجه يې داسي بيان کړيده:

﴿ذَلِكُمْ أَطْهَرُ لِقُلُوبِكُمْ وَقُلُوبِهِنَّ﴾ [دالاحزاب سورت: ۵۳ آيت].

ترجمه: دا (يعني دپردې تر شا دښځـو څخـه څـه غوښـتل) ستاسو دزړونو او ددوی دزړونو لپاره لاپاك ساتونکی دی.

او دا يـو عـام علـت دی، نـو دعلـت عـاموالی دحکـم دعـاموالی دلـيل دی، او الله ﷻ فرمايـي: ﴿يَـا أَيُّهَـا النَّبِيُّ قُل لِّـأَزْوَاجِكَ وَبَنَاتِكَ وَنِسَاء الْمُؤْمِنِينَ يُدْنِينَ عَلَيْهِنَّ مِن جَلَابِيبِهِنَّ﴾

[دالاحزاب سورت: ۵۹ آيت].

تـرجمه: اې پيغـمبره خـپلو ښځـو او لوڼو او دمومـنانو ښځـو تـه ووايـه چـي پر خـپلو ځـانونو (بدنونـو) بـاندي دخـپلو ټکـريو* (پلونه) واچوي (خواره کړي).

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه وايي: جلباب: هغه لـوی ټکـري (څـادر) تـه وايـي، چـي ابـن مسـعود رضی الله عنه يـي (رداء) بولـي، او عـام خلـك يـي (ازار) بولـي، چـي دښځـي سـر او ټـول بـدن پټـوي ، او ابو عبيده او نور علماء وايي: چي (ازار) هغه دی چـي ښځه يي پر سر باندي اچوي او بيله سترګو بل څه يي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښکاري، او (نقاب) هم له همدې جملې څخه دی (مجموع فتاوی شيخ الاسلام ۲۲/۱۱۰-۱۱۱)

له هغه دلائلو نه چې په سنتو کې له نا محرمو نه دښځې دمخ دپټولو په باره کې راغلي دي، دعائشې رضي الله عنها دا حديث دی چې وايي: «كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْه وَسَلَّمَ مُحْرِمَاتٌ فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلَى وَجْهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ» (احمد، ابو داود، او ابن ماجه روايت کړی دی)

ترجمه: کله چې مونږ له پيغمبر ﷺ سره په احرام کې وو، او سپاره خلك زمونږ له خوا نه تيريدل، نو کله چې به مونږ ته رانژدې شول، نو له مونږ نه به هرې يوې خپل څادر د سر د پاس نه پر مخ باندې را خپور (څوړند) کړ، او کله چې به (له هغوی نه) تير شوو نو مخ به مو لوڅ کړ.

او له نا محرمو نه دښځې دمخ پټولو د واجبوالي په باره کې په قرآن او حديث کې ډير دلائل راغلي دي، او اې مسلماني خورې زه پدې باره کې تا دې کتابونو ته دمراجعې لپاره حواله کوم: (حجاب المرأة ولباسها في الصلاة) دشيخ الاسلام ابن تيميه تأليف، او(حكم السفور والحجاب) دسماحة الشيخ عبد العزيز بن عبد الله بن باز تأليف، (الصارم المشهور على المفتونين بالسفور) دشيخ حمود بن عبد الله التويجري تأليف، او (رسالة الحجاب)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشيخ محمد بن صالح العثيمين تأليف، او پدې رسالو کې پوره او کافي معلومات پدې هکله شته.

او مسلماني خوري تا ته دې معلومه وي چې کومو علماوو چې تا ته دمخ لوڅول روا بللي دي، سره لدې چې دهغوی قول مرجوح او ضعيف دی، خو بيا هم يې ددې روا والی لپاره دا قيد ذکر کړی دی، چې بايد (مخ لوڅول) دفتنې اوشر سبب جوړ نشي، او که فتنه تري پيښيږي نو بيا يې پټول واجب دي، او فتنه او شر ليري ندي، خصوصاً پدې زمانه کې چې دينداري او حيا په نارينه وو او ښځو کې کمه شوې ده، او فتنه ګر ډير شوي دي، او ښځې رنګارنګ دښکلا وسائل استعمالوي، او پدې کې ډيري فنکاره (ماهره) هم دي، چې پدې سره فتنې او شر پيدا کيږي، نو اې مسلماني خوري لدې ټولو شيانو نه پرهيز وکړه، او داسې حجاب واغونده چې دالله ﷻ په توفيق سره دې له فتنې او شر نه وساتي، او هيڅ يو معتبر عالم نه پخوا او نه په اوس زمانه کې دې ښځو ته هغه کارونه روا کړي چې دوی يې نن کوي، او ځينې مسلماني ښځې دپردې (حجاب) او ستر په باره کې له نفاق څخه کار اخلي، چې کله په با پرده ټولنه کې وي، ستَر کوي، او چې کله په آزاده او بې ستره ټولنه کې وي، نو بيا ستَر نه کوي، او ځينې په عامو ځايونو کې ستَر کوي، خو چې کله يو دوکان او يا شفاخاني ته لاړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، او يا له کوم زرگر سره او يا د ښځينه جامو له خياط (درزي) سره خبري کوي، نو مخ او ليچي داسي ورته لوڅي کړي، لکه چي د خپل خاوند او يا محرم سره وي، نو هغه ښځي چي دا کارونه کوي د الله ﷻ څخه دي وويريږي.

او مونږ ځيني ښځي ليدلي چي په هوايي جهاز کي له خارج نه راځي، نو هلته حجاب او سَتر وکړي چي کله له هوايي جهاز نه ددې هيواد په يو هوائي ډگر کي کوزي شي، نو (ددوی ددغه کار څخه) داسي ښکاري چي (ددوی په نظر) حجاب او سَتر يواځي يو عادت او رواج وي، او يو شرعي حکم نه وي.

اې مسلماني خوري، بيشکه ستر او حجاب تا دمريض زړونو خاوندانو او انساني سپيو له زهرجنه کتلو څخه ژغوري، او له تا څخه (دخلکو) حيواني طمعي او اميدونه ليري کوي، نو هميشه دحجاب او پردې ساتنه وکړه، او هغه مغرضانه تبليغاتو ته تن مه ورکوه چي د سَتر او حجاب غندنه کوي، او يا يي بې ارزښته بولي، بيشکه هغوی ستا لپاره شر غواړي، لکه څنگه چي الله ﷻ فرمايي: ﴿وَيُرِيدُ الَّذِينَ يَتَّبِعُونَ الشَّهَوَاتِ أَنْ تَمِيلُوا مَيْلًا عَظِيمًا﴾ [د النساء سورت: ۲۷ آيت].

ترجمه: او هغه کسان چي دشهوتونو پيروي کوي، غواړي چي تاسو (له حق څخه) په لويه بې لاري سره منحرف شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# پنځم فصل

## دښځي دلمانځه احکام:

اې مسلماني خوري لمونځونه په خپل وخت کي دټولو شرطونو، ارکانو، او واجباتو سره اداء کړه، الله ﷻ امهات المومنين[1] ته فرمايي: ﴿وَأَقِمْنَ الصَّلاَةَ وَآتِينَ الزَّكَاةَ وَأَطِعْنَ اللَّهَ وَرَسُولَهُ﴾ [د الاحزاب سورت: ۳۳ آيت].

ترجمه: او لمونځ اداء کړی، او زکات ورکړی، او دالله او دهغه درسول اطاعت وکړی.

دا ټولو مسلمانو ښځو ته عام امر دی، نو لمونځ داسلام دارکانو نه دوهم رکن دی، او داسلام ستنه ده، پرېښول يي کفر او له اسلام نه وتل دي، ځوك چي لمونځ نه کوي نر وي او که ښځه، هغه نه دين لري او نه اسلام، او له خپل وخت نه دلمانځه ځنډول بيله کوم شرعي عذر نه، په حقيقت کي دهغه ضايع

---

(۱) يعني دمومنانو ميندي، او دا د پيغمبر ﷺ دازواجو مطهراتو لقب دی.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول دي، الله ﷻ فرمايي: ﴿فَخَلَفَ مِن بَعْدِهِمْ خَلْفٌ أَضَاعُوا الصَّلَاةَ وَاتَّبَعُوا الشَّهَوَاتِ فَسَوْفَ يَلْقَوْنَ غَيًّا * إِلاَّ مَن تَابَ وَآمَنَ وَعَمِلَ صَالِحًا فَأُوْلَئِكَ يَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ وَلاَ يُظْلَمُونَ شَيْئًا﴾ [دمريم سورت: ۵۹-۶۰ آيتونه].

ترجمه: نو لدوی نه وروسته داسي خوك راغلل چي لمونځ يي ضايع کړ، او دشهوتونو متابعت يي وکړ، نو دوی به ژر بد عاقبت وګوري، مګر هغه کسان چي توبه وباسي، او ايمان راوړي، او نيك عمل وکړي، نو دا کسان به جنت ته ځي، او په هيڅ شي کي به پرې ظلم او تيری نه کيږي.

او حافظ ابن کثير په خپل تفسير کي له يو شمير علماوو نه نقل کړی دی چي دلمانځه ضايع کولو نه مراد: دهغه دوختونو ضايع کول دي، چي لمونځ دخپل وخت له وتلو نه وروسته اداء شي، او د بد عاقبت څخه مراد: زيان او خساره ده، او بل تفسير يي دادی: چي هغه په دوزخ کي يوه کنده ده.

دښځي دلمانځه ځانګړي احکام دي، چي په لاندي ډول بيانيږي:

۱- دښځي لپاره اذان او اقامت نشته، ځکه چي داذان لپاره اواز پورته کول لازم دي، او دښځي لپاره اواز پورته کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



روا نـدي، نـو دښځـي اذان او اقامـت صـحيح نـدی، د(المغنـي) مؤلف وايي: «پدي کي موږ (دعلماوو) اختلاف ندی ليدلی»[1].

۲- دښځـي له مـخ نـه بغـير نـور ټول بـدن يي په لمانځه کي عـورت دی، او دورغويـو او پښـو پـه بـاره کـي چي عورت دي او کـه نـه، دعلمـاوو اختـلاف دی، او دا حکـم پـه هغـه صـورت کـي دی، چي بـيله خـپل محـرم شخـه يي بـل څـوك پـه لمانځـه کي نـه ګـوري، کـه چيري نـا محـرم سـړي ليدلـه نو دټول جسم پټول پرې لازم دي، لکـه څنګه چي له لمانځه نه دباندي دنارينه وو نه ستر پرې لازم دی، نـو پـه لمانځـه کي بـه ضرور سر، غاړه، او نور بدن حتـی دپښـو (قدمونـو) مخونـه به پټوي، پيغمبر ﷺ فرمايي: «لا يَقْبَلُ اللهُ صَلاَةَ حَائِضٍ إلاّ بِخِمَارٍ» [بخاري، مسلم، ابو داود، ترمذي، او نسائي روايت کړی دی]

تـرجمه: الله ﷻ دهغه ښځي چي حيض يي راغلی وي (بلوغ تـه رسـيدلې وي) لمونـځ نه قبلوي، مګر په څادر (پوړني) کي، او (خمار) هغه څادر دی چي سر او غاړه پټوي.

او له ام سلمه رضی الله عنها نـه روايـت دی چي لـه پيغمـبر ﷺ

---

(۱) المغني ۶۸/۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يي پوښتنه وکړه چي ايا ښځه په اوږده کميس او پوړني کي لمونځ کولای شي چي پرتوګ يي نه وي اغوستی؟ پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: «إِذَا كَانَ الدِّرْعُ سَابِغاً يُغَطِّي ظُهُورَ قَدَمَيْهَا»[1].

ترجمه: که چيري کميس دومره اوږد وي چي دپښو سرونه پټ کړي (نو کولای شي)[2].

دا دوه حديثونه پدې دلالت کوي چي په لمانځه کي دسر او غاړي پټول حتمي دي، لکه څنګه چي دعايشې رضی الله عنها په حديث کي راغلي دي، او همدارنګه دنور بدن او حتی دپښو سرونه پټول هم حتمي دي، لکه څنګه چي دام سلمه په حديث کي راغلي دي، او دمخ لوخول يي په هغه صورت کي روا دي چي بيګانه (نا محرمه) خوك يي نه ويني، او پدې باندي دعلماوو اجماع شوې ده.

شيخ الاسلام ابن تيميه وايي: که ښځه يوازي لمونځ وکړي، نو دپوړني اچول ورته لازمي ده، او دلمانځه څخه بهر په

---

(۱) ابو داود روايت کړی دی، او دحديث امامانو دا حديث: (صحيح موقوف) حديث بللی دی.

(۲) يعني پدې صورت کي لمونځ کولای شي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



خپل كور كي دسر لوڅول ورته روا دي، نو زينت كول (كالي اغوستل) په لمانځه كي دالله ﷻ حق دی، نو هيڅ چا ته روا ندي چي په كعبې لوڅ طواف وكړي، كه څه هم يوازي په شپه كي وي، او يا لوڅ لمونځ وكړي، كه څه هم يوازي وي»، او بيا وايي: «نو په لمانځه كي دعورت حكم (دلمانځه نه بهر) د نظر د عورت پوري تړلی ندی، نه طَرْداً او نه عَكساً»[1] [2].

په (المغني) كي راغلي دي: اما دازادي ښځي دټول بدن پټول په لمانځه فرض دي، او كه يي كوم ځای ښكاره شي نو لمونځ يي صحيح ندی، مګر كه چيري لږ وي، او دا دمالك،

---

(۱) «طرداً» پدي مساله كي دا معنا لري: چي دكومو اندامونو پټول چي په لمانځه كي فرض دي، حتمي نده چي دهغه پټول له لمانځه نه بهر هم فرض وي.
او «عكساً» دا معنا لري: چي دكومو اندامونو پټول چي په لمانځه كي فرض دي، له لمانځه نه بهر يي لوڅول حتمي ندي.
خلاصه دا چي دلمانځه دننه او له لمانځه نه بهر دعورت په حكم كي څه طردي او عكسي تعلق او تلازم نشته، بلكه په هر حالت كي عورت ځانګړی حكم لري، په لمانځه كي دننه ځانته حكم لري، او له هغه نه بهر ځانته حكم لري.(ژباړن)

(۲) مجموع الفتاوی ۲۲/۱۱۳-۱۱۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوزاعي، او شافعي رحمت الله عليهم قول دی[۱].

۳- په (المغني) کې راغلي دي: چې ښځه به په رکوع او سجده کې خپل ځان (او اندامونه) سره راټول کړي، او سره ليرې کوي به يې نه، او چارزانو به کښيني، او يا به دواړې پښې غوړوي او ښی خوا ته به يې باسي، او پدې ناسته کې ستر زيات دی، نو ځکه خو دا ناسته له هغې نه بهتره دی چې ښې پښه دګوتو پر سرونو ودروي، او کيڼه پښه تر هغه لاندې کړي او دواړې ښې خوا ته وباسي، او يا ښی پښه دګوتو پر سرونو ودروي، او پر چپه پښه کښيني[۲].

او نووي رحمت الله عليه وايي: شافعي رحمت الله عليه په (مختصر) کې وايي: دنارينه وو او ښځو تر مينځ دلمانځه په اعمالو کې کوم فرق نشته، خو ښځې ته مستحب دي چې خپل بدن يو له بل سره را ټول کړي، او په سجده کې خپل نس له خپلو ورنونو سره داسې ونښلوي چې ښه پټه شي، او زه بهتره

(۱) المغني ۳۲۸/۲.

(۲) المغني ۲۵۸/۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګنم چي دا کار په رکوع او ټول لمانځه کي وکړي[۱].

۴- په جماعت سره دښځو لپاره لمونځ کول دعلماوو په مينځ کي اختلافي مساله ده، بعضي يي روا کوي او بعضي يي منع کوي، خو داکثره علماوو په نظر منع ندی، ځکه پيغمبر ﷺ وام ورقه ته امر وکړی چي دخپل کور کسانو ته جمع ورکړي[۲]، او دبعضو په نظر مستحب ندی، او دبعضو په نظر مکروه دی، او دبعضو په نظر په نفلو کي جائز دی، نه په فرضو کي، او امید دی چي مستحب والی يي راجح وي، او پدې مساله کي دزيات معلومات لپاره دي و(المغني ۲/۲۰۳) او (المجموع ۴/۸۴-۸۵) دنووي تاليف ته مراجعه وشي.

او ښځه کولای شي چي قراءت په لوړ اواز (جهر) سره ووايي، که چيري نا محرمه نارينه وو يي اواز نه اوريده.

۵- وښځو ته روا دي چي په مسجد کي دنارينه وو سره دجماعت لپاره له کوره ووځي، خو دهغوی لمونځ په خپل کور کي بهتر دی، مسلم رحمت الله عليه په خپل کتاب (صحيح

(۱) المجموع ۳/۴۵۵.

(۲) ابو داود روايت کړی دی، او ابن خزيمه هغه صحيح بللی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلم) کي له پيغمبر ﷺ څخه روايت کوي چي هغه فرمايي:
«لا تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللهِ مَسَاجِدَ اللهِ».

ترجمه: دالله ﷻ مينځي[۱] له مسجدونو څخه مه منعه کوی.

او ﷺ فرمايي: «لا تَمْنَعُوا النِّسَاءَ أَنْ يَخْرُجْنَ إِلَى الْمَسَاجِدِ، وَبُيُوتُهُنَّ خَيْرٌ لَهُنَّ»[۲].

ترجمه: ښځي لدې نه منعه کوی چي مسجدونو ته ولاړي شي، او (په) کورونو (پاته کيدل) ددوی لپاره بهتره دي.

نو ښځو ته په کورونو کي پاته کيدل، او په کورونو کي لمونځ کول يي دستر دخوندي والي په وجه بهتر دي.

او که چيري مسجد ته دلمانځه لپاره لاړه شي، نو دا لاندني آداب به ضرور مراعاتوي:

الف- بايد په کاليو او کامل حجاب سره پټه وي، عائشه رضي الله عنها وايي: ښځو به دپيغمبر ﷺ سره لمونځ کاوه، او بيا به خپلو کورونو ته تللي پداسي حال کي چي په خپلو کاليو به

---

(۱) له مينځو نه مراد دلته عامي ښځي دي. (ژباړن)

(۲) احمد او ابو داود روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي پټي وې چي دتياري له وجهي به نه پيژندل کيدلې[(۱)].

ب- کله چي له کوره وځي نو عطر او خوشبويي به نه استعمالوي، پيغمبر ﷺ فرمايي: «لا تَمْنَعُوا إِمَاءَ اللهِ مَسَاجِدَ اللهِ، وَلْيَخْرُجْنَ تَفِلاتٍ»[(۲)].

ترجمه: ښځي لدي نه مه منعه کوى چي مسجدونو ته ولاړي شي، او دخوشبويي د استعمال نه بغير به له کوره وځي، او (تفلات) يعني: چي خوشبويي يي نه وي استعمال کړې.

له ابو هريره ﷺ نه روايت دى چي وايي پيغمبر ﷺ ويلي دي: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ أَصَابَتْ بُخُوراً فَلا تَشْهَدَنَّ مَعَنَا الْعِشَاءَ الآخِرَةَ»[(۳)].

ترجمه: هري ښځي چي خوشبويي وهلې وي زمونږ سره دي دماسختن لمانځه ته نه حاضريږي.

او مسلم دابن مسعود رضي الله عنه ښځي زينب نه روايت

---

(۱) بخاري او مسلم روايت کړى دى.

(۲) احمد او ابو داود روايت کړى دى.

(۳) احمد، مسلم، ابو داود او نسائي روايت کړى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې چې پيغمبر ﷺ مونږ ته وويل: «إِذَا شَـهِدَتْ إِحْدَاكُـنَّ الْمَسْجِدَ فَلَا تَمُسَّ طِيباً»(۱).

ترجمه: کله چې له تاسو نه يوه مسجد ته حاضره شي نو خوشبويي او عطر دې نه وهي.

امام شوکاني په (نيل الاوکار) کې وايي: پدې حديث سره دا ثابته شوه دښځو وتل مسجدونو ته په هغه صورت کې روا دي چې په هغه کې فتنه او فساد، او يا دهغه مينځ ته راوړونکي سبب لکه خوشبويي او داسې نور څه نه وي.

او همدارنګه وايي: او له نومړو احاديثو نه دا ثابته شوه چې نارينه به ښځو ته هله ومسجد ته دوتلو اجازه ورکوي، چې په وتلو کې يې دفتني جوړيدلو اسباب نوي، لکه خوشبويي، او يا ګاڼه، او يا نور زينت او سينګار(۲).

ج- د کور نه به په ښکلي کاليو او سينګار کې نه وځي، ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها وايي: که چيرې پيغمبر ﷺ هغه څه چې مونږ ليدلي دي ليدلي وای، نو ښځې به يې له مسجد نه

(۱) مسلم روايت کړی دی.

(۲) نيل الاوطار ۳/ ۱۴۰-۱۴۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



منع کړي واى، لکه څنګه چې بني اسرائيلو خپلې ښځې منع کړي دي[۱].

امام شوکاني په نيل الاوطار کې دعائشې رضي الله عنها ددغه قول (که چيرې پيغمبر ﷺ هغه څه چې مونږ ليدلي دي ليدلي واى) په شرح کې وايي: يعنې دا ښکلې کالي، او خوشبويي، او سينګار، او بې ستره وتلو ته دهغې اشاره ده، ځکه چې دپيغمبر ﷺ په وخت کې ښځې په لويو او پراخو او پنډو او ډبلو کاليو کې له کور نه وتلې.

امام ابن الجوزي رحمت الله عليه وايي: ښځې ته ښايي چې د کور وتلو څخه ډډه وکړي څومره چې ورته ممکنه وي، که خپله له نورو نه سالمه پاتې شي، نو نور به له هغې نه سالم نه وي پاتې، نو که چيرې ووتلو ته مجبوره شي، نو دخپل خاوند په اجازه به په يو خوار (غريب) شکل کې وځي، او په خالي ليارو به ځي، او په عامو بازارونو او سړکونو کې به نه ځي، او کوښښ به کوي چې اواز يې څوك وانه وري، او دلياري په غاړه

(۱) بخاري او مسلم روايت کړى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي به ځي، نه دلياري په مينځ کي[۱].

د- که چيري ښځه يوازي وي، نو دنارينه وو شاته به يوازي په صف کي دريږي، انس رضی الله عنه وايي: کله چي پيغمبر ﷺ دوی ته لمونځ ورکړ: نو زه او يو يتيم هلك يي شا ته ودريدو، او يوه بوډۍ ښځه زمونږ شا ته ودريدله[۲].

او هغه په بل روايت کي وايي: ما او يو يتيم زمونږ په کور کي په پيغمبر ﷺ پسي لمونځ وکړ، او زما مور (ام سليم) مو شا ته ولاړه وه[۳].

او که چيري ښځي له يوې نه زياتي وي، نو بيا به ديو صف او څو صفونو په شکل دنارينه وو شا ته دريږي؛ ځکه چي پيغمبر ﷺ نارينه دهلکانو نه وړاندي درول، او ښځي به يي دهلکانو شا ته درولي[٤].

له ابو هريره رضی الله عنه نه روايت دي چي وايي پيغمبر ﷺ

---

(١) احکام النساء ٣٩.

(٢) بخاري، مسلم، ابو داود، ترمذي، او نسائي روايت کړی دی.

(٣) بخاري روايت کړی دی.

(٤) احمد روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ويلي: «خَيْرُ صُفُوفُ الرِّجَالِ أَوَّلُهَا، وَشَرُّهَا آخِرُهَا، وَخَيْرُ صُفُوفُ النِّسَاءِ آخِرُهَا، وَشَرُّهَا أَوَّلُهَا»(۱).

ترجمه: دنارينه وو له ټولو نه ښه او بهتره صف اول صف دی، او له ټولو نه بد ترين صف آخـــر صف دی، او دښځو له ټولو نه ښه او بهتره صف آخر صف دی، او له ټولو نه بدتر يي اول صف دی.

نو دا دوه حديثونه پدي دلالت کوي چي ښځي به دنارينه وو شا ته صف جوړوي، او چي کله په نارينه ووي پسي لمونځ کوي، نو ځانته ځانته به لمونځ نه کوي، که فرض لمونځ وي او که تراويح وي.

هـ- که امام په لمانځه کي سهوه شي، نو ښځه به ددوو لاسونو دورغوو په وهلو سره (چکچکو) هغه ته فتحه او خبر ورکوي؛ ځکه پيغمبر ﷺ فرمايي: «إِذَا نَابَكُمْ فِي الصَّلاة شَيْءٌ فَلْيُسَبِّحْ الرِّجَالُ، وَلْيُصَفِّقْ النِّسَاءُ»(۲).

ترجمه: که په لمانځه کي درته څه پيښ شي، نو نارينه به

(۱) مسلم، ابو داود، ترمذي، نسائي، او ابن ماجه روايت کړی دی.

(۲) احمد روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تسبيح وايي[1]، او ښځي به چکچکي وهي.

او دا دښځو لپاره په لمانځه کي دلاسونو وهلو (ټکولو) اجازه ده، چي کله يو څه پيښ شي، او دامام سهوه له همدي جملي څخه ده؛ او دا ځکه چي دښځي په اواز کي دنارينه وو لپاره فتنه ده، نو له همدي وجهي په لاسونو وهلو امر ورته شوى دى، او خبري به نه کوي.

و- کله چي امام سلام وګرځوي نو ښځي به سمدستي له مسجد نه وځي، او نارينه به ناست وي؛ تر څو چي له ښځو نه څوك ونه ويني، ام سلمه رضي الله عنها روايت کوي وايي: کله چي به ښځو له فرض لمونځ نه سلام وګرځاوه، نو به پاڅيدلي، او پيغمبر ﷺ او کومو کسانو چي ورسره لمونځ کړى وو هغوى به تر کوم وخت پوري چي به الله غوښتل ناست به وو، او کله چي به پيغمبر ﷺ پاڅيد نو نور خلك به هم پاڅيدل.

زهري وايي: زمونږ په نظر -والله اعلم- هغه ددي لپاره چي

---

(۱) يعني په تسبيح (سبحان الله) ويلو سره دي امام ته فتحه او خبر ورکړي، چي خطا شوى دى، او ښځه به دلاسونو په وهلو سره امام ته فتحه او خبر ورکوي. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کومي ښځي وتَلي تولي ختمي شي[۱].

امام شوکاني وايي: په نومړي حديث کي دا خبره ثابته شوه چي امام ته ښايي دمقتديانو دحالت مراعت وکړي، او له هغه کار نه ډډه وکړي چي له هغه نه کوم ناروا کار مينځ ته راځي، او دتهمت له ځايونو نه ځان خوندي وساتي، او دا خبره ثابته شوه چي په لياروکي دښځو او نارينه وو اختلاط او ګډوالی مکروه او ناروا دی، څه دا چي په کورونو کي وي[۲].

امام نووي رحمت الله عليه وايي: دښځو او نارينه وو دجماعت په لمانځه کي لاندي توپيرونه شته:

اول: جماعت لمونځ دښځو لپاره هومره مؤکد او ټينګ سنت ندي، کوم چي دنارينه وو لپاره دی.

دوهم: دښځو امام به دهغوی په مينځ کي دريږي.

دريم: يوه ښځه به دنارينه شا ته دريږي، نه څنګ ته يي، په خلاف دنارينه.

(۱) بخاري روايت کړی دی، (الشرح الکبير على المقنع) ۴۲۲/۱ دي وکتل شي.

(۲) نيل الاوطار ۳۲۶/۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څلورم: کـه يـي دنارينـه وو سره دځو صفونو په شکل لمونځ کاوه، نو اخير صف له اول صف نه غوره او بهتره دی[۱].

او لـه تـيرو خبرو نه دا معلومه شوه، چي دنارينه وو او ښځو په مينځ اختلاط او يوځای والی حرام او ناروا دی.

ز- داختر لمانځه ته دښځو وتل:

عن أم عطية رضی الله عنها قالت: «أَمَرَنَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَـيْهِ وَسَلَّمَ أَنْ نُخْرِجَهُنَّ فِي الْفِطْرِ وَالأَضْحَى: الْعَوَاتِقَ وَالْحُيَّضَ وَذَوَاتِ الْخُـدُورِ فَأَمَّـا الْحُـيَّضُ فَيَعْتَزِلْنَ الصَّلاَةَ –وفي لفظ: الْمُصَلَّى– وَيَشْهَدْنَ الْخَيْرَ وَدَعْوَةَ الْمُسْلِمِينَ»[۲].

تـــرجمه: لـه ام عطـيه رضی الله عنها نـه روايـت دی چي وايـي: پيغمـبر ﷺ مونږ ته امر وکړ چي هغوی (يعني) پيغلي نجوني، او ځوانانـي دپـردي ښځـي، او حائضـې ښځـي پـه کوچنـي اخـتر او لـوی اختر کـي (وعـيد ګـاه تـه) وباسـو، او حائضـې ښځـي بـه دلمانځـه څخـه ډډه کوي، -او پـه بـل روايـت کـي وايـي: دلمانځه ځـای نـه بـه ډډه کـوي- خـو دخير او دمسـلمانانو ددوعـا لـپاره به

(۱) المجموع ۴۵۵/۳.

(۲) جماعت روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حاضرېږي.

شوکاني وايي: دا حديث او ددې په څير نور احاديث پدې خبره دلالت کوي چې په اخترونو کې وعيد ګاه ته دښځو وتل روا دي، که پيغله وي، که واده کړي، که ځوانه وي، حيضداره وي، او که بوډۍ، تر څو چې په عدت[1] کې نه وي، او يا يي په بهر وتلو کې فتنه او فساد نه وي، او يا څه عذر ونلري[2].

او شيخ الاسلام ابن تيميه وايي: چې ومسلمانو ښځو ته دا خبره وشوه چې دجُمعې او دجماعت لمانځه نه يي په کورونو کې لمونځ بهتره دی، خو داختر لمونځ داسي ندی، ځکه هغوی ته يي امر کړی دی چې داختر لمانځه ته ولاړې شي، او شايد - والله اعلم- چې اسباب به يي داوي:

اول: اختر په کال کې يوازي دوه ځله دی، نو په هغه کې دجمعې او دجماعت دلمانځه خلاف دښځو حاضريدل روا شول.

دويم: داختر لمونځ بدل (قائم مقام) نلري، خو دجمعې او

---

(۱) عدت هغه شرعي مودې ته وايي چې ښځه يي بايد له طلاق نه وروسته په کور کې تيره کړي.(ژباړن)

(۲) نيل الاوطار ۳۰۶/۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



جماعت لمونځ داسي ندی، ځکه په کور کي دښځي دغرمې (ظهر) لمونځ دجمعي دلمانځه په عوض کي دی.

دريم: داختر لمونځ دښتي او صحرا ته دالله دذکر لپاره وتل دي، نو هغه له بعضي اړخونو نه له حج سره مشابهت لري، نو ځکه خو لوی اختر دحج په وخت کي دی، تر څو دحاجيانو سره سمون (موافقت) راشي [۱].

او شافعيانو (شافعي مذهبيانو) دښځو وتل اختر لمانځه ته پدې شرط روا بولي چي ښايست ونلري.

امام نووي وايي: شافعي او اصحابو (دمذهب ستر عالمانو) ويلي دي: هغو ښځو ته چي ښايست (ښکلا) نلري داختر لمانځه ته تلل روا دي، اما دښايسته (ډولناکو) ښځو تلل مکروه دي، او بيا وايي: او که چيري ښځي وځي نو بهتره ده چي په زړو کاليو کي ووزي، او داسي کالي به نه اغوندي (نه اچوي) چي دوی ته دچا پام راواړوي، او بهتره ده چي په اوبو سره بدن پاک کړي، او خوشبوئي وهل ورته مکروه دي، او دا ټول دهغو زړو ښځو لپاره دی چي دچا اشتها (شهوت) ورته نه

---

(۱) مجموع الفتاوی ۶/۴۵۸-۴۵۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کيږي، اما ځواني او ښايست لرونکي ښځي او کومي چي دچا اشتها (شهوت) ورته پيدا کيږي، هغوی لپاره داختر لمانځه ته تلل مکروه دي، ځکه چي پدې کي ددوی لپاره او دنورو لپاره دفتنې او فساد ويره شته. که چيري وويل شي چي دا د(ام عطيه) دمخکني حديث سره مخالف دی، نو په جواب کي وايو: په بخاري او مسلم کي دعائشي رضي الله عنها نه روايت دی وايي: که چيري پيغمبر ﷺ کوم کارونه چي ښځي يي کوي ليدلي وای، نو هغوی به يي (له وتلو) نه منع کړي وای، لکه څنګه چي دبني اسرائيلو ښځي منع شوي وې، او پدي چي فتني او دشر اسباب پدي زمانو کي ډير زيات دي، چي داسلام په اوله زمانه کي داسي نه وه، والله اعلم(۱).

زه وايم: او زمونږ په زمانه کي له تهولو نه زيات دي.

او امام ابن الجوزي وايي: زه وايم: مونږ مخکي ددي خبري بيان وکړ چي دښځو وتل روا دي، ليکن که دوی دفتنې سبب جوړ شي او يا دوی ته فتنه پيښه شي نو له وتلو نه يي منع کول بهتره دي، ځکه داسلام داولي زماني ښځي داسي نه وې کومي

---

(۱) المجموع ۱۳/۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي دنن زماني ښځي دي، او همدا رنګه نارينه (هم داوس زماني دنارينه وو په شان نه وو)[۱]، يعني هغوی دغتمي تقوی خاوندان وو.

نو مسلماني خوري! ته لدا رنګه اقوالو نه پوهيږې چي داختر لمانځه ته دي وتل شرعاً روا دي، خو پدي شرط چي دا وتل به په اخلاقو او پرده کي وي او دالله ﷻ درضا لپاره به وي، او ددي لپاره چي دمسلمانانو په دوعا کي برخه واخلي او داسلام دشعائرو[۲] اظهار وشي، او ددي لپاره نه چي خپل ښايست او ښکلا ښکاره کړې او ځان دفتني سره مخامخ کړې، نو دې تکي ته زياته توجه پکار ده.

---

(۱) احکام النساء ص۳۸.

(۲) داسلام شعائر: لکه دجماعت لمونځ، داختر لمونځ، حج او داسي نور کوم چي داسلام ددين ظاهري علائم ګڼل کيږي. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## شپږم فصل

### دښځو دجنازې احکام:

الله ﷻ په هر انسان مرګ مقرر کړی دی، او يوازي الله ﷻ دبقاء او پايښت خاوند دی، هغه فرمايي: ﴿وَيَبْقَى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلَالِ وَالاكْرَامِ﴾ [دالرحمن سورت: ۲۷ آيت].

ترجمه: او باقي به وي مخ ستا دپروردګار چي دلويي او عزت ورکولو خاوند دی.

او دانسان دجنازې لپاره يي خاص احکام ګرځولي دي چي ژوندي کسان يي بايد عملي کړي، او مونږ پدې فصل کي ښځو پوري مخصوص احکام بيانوو:

۱ - دښځي مړي ته بايد ښځي غسل ورکړي، او نارينه وو دهغې غسل روا ندی، خو ميړه ته روا ده چي خپلي ښځي (کوروالا) ته غسل ورکړي.

او دنارينه مړي ته به نارينه غسل ورکوي، او ښځو ته دهغه غسل روا ندی، خو ښځي ته روا ده چي خپل ميړه ته غسل ورکړي، ځکه چي علي رضی الله عنه خپلي ښځي دپيغمبر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ﷺ لور فاطمه رضي الله عنها ته پخپله غسل ورکړی وو، او اسماء بنت عميس رضي الله عنها خپل ميړه ابو بکر الصديق رضي الله عنه ته پخپله غسل ورکړی وو.

۲- دښځې کفن په پنځو سپينو جامو کې بهتر دی، چې يو به لنګ (ازار) وي چې (دنامه او ځنګنو تر مينځ) پکې پټه شي، او بل به پوړنی (څادر) وي چې پر سر يي واچول شي، او بل به قميص وي چې بدن يي پټ کړي، او بل به دوې ټوټې (کپړې) وي چې ددې نورو دپاسه واچول شي (او ټول بدن پکې پټ شي، لکه څنګه چې ليلی الثقفيه عنها رضي الله روايت کوي وايي: زه په هغو کسانو کې وم چې ام کلثوم رضي الله عنها دپيغمبر ﷺ لور ته يې دمړينې په وخت غسل ورکړ، نو اول شی چې پيغمبر ﷺ مونږ ته راکړ لنګ (ازار) وو، بيا قميص، بيا پوړنی (څادر)، بيا يوه لويه جامه، او بيا يې يوه بله جامه ورواغوستله[(۱)].

امام شوکاني وايي: او دا حديث پدې دلالت کوي چې دښځې شرعي کفن عبارت دی: له لنګ (ازار)، قميص (چې ټوله بدن پټوي)، پوړنی، او دوو نورو جامو نه (چې ټول بدن پټ

(۱) احمد او ابو داود روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي[(۱)].

۳- دښځې دسر دويښتو حکم: دښځې ويښته بايد دري چوټي (کوڅۍ) شي، او شا تـه واړول شي، لکـه څنګه چي ام عطيـه رضي الله عنها دپيغمبر ﷺ دلـور دغسـل طـريقه داسـي بيانوي: نـو ويښـتـه يـي مـوږ دري چوټي (کوڅۍ) کړل، او بيا مو دهغي شاته واړول[(۲)].

۴- ښځو تـه جنازې سره دتللو حکم: له ام عطيه رضي الله عنها نـه روايت دی چي وايي: موږ دجنازې سره ديو ځای تللو نه منع شوي يو، خو دا حکم يـي موږ ته په ټينګه نه وو کړی[(۳)]، نو دا منع پـه ظاهره کـي دحرامـيدو پـه معنا ده، اما دا چي هغه وايي: پـه دي حکـم بـاندي يـي موږ تـه ټيـنګار نـه وو کـړی. نـو شـيخ الاسلام ابـن تيمـيه پدي بـاره کـي وايـي: کـيدای شـي چي دهغي مقصـد داوي چـي: دمـنع تاکـيد يـي نـه وو کـړی، او دا دحرمـت حکـم نه پورته کوي، او کيدای شي چي هغې ګمان کړی وي چي

---

(۱) نيل الاوطار ۴۲/۴.

(۲) بخاري او مسلم روايت کړی دی.

(۳) بخاري او مسلم روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا منع دحرمت لپاره نده، خو زمونږ لپاره دپيغمبر ﷺ قول حجت دی، نه دبل چا ګمان[1].

۵- دښځو لپاره دقبرونو زيارت حرام دی: له ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی وايي چي پيغمبر ﷺ فرماييلي دي: «لَعَنَ اللهُ زَوَّارَاتُ الْقُبُورِ»[2].

ترجمه: الله جل جلاله په هغو ښځو لعنت ويلی دی چي قبرونو ته ډير زيات ځي.

شيخ الاسلام ابن تيميه وايي: دا خبره واضحه ده که چيري ښځي ته دا دروازه خلاصه شي (يعني دجنازي سره دوتلو اجازه ورکړه شي) نو دابه دهغوی دبي تابي، او وير کولو، او چيغي وهلو سبب وګرځي، ځکه ښځه کمزوري ده، او ډيره بي صبري او بي تابي کوي، او همدارنګه دښځي ژړا به دمړي دتکليف او عذاب سبب شي، او لدې نه علاوه دهغوی اواز اوريدل او هغوی ته کتل به دنارينه وو لپاره دفتني سبب وي، لکه څنګه

(۱) مجموع الفتاوی ۳۵۵/۲۴.

(۲) احمد، ابن ماجه، او ترمذي روايت کړی دی، او ترمذي هغه صحيح بللی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په بل حديث کي راغلي دي: «فــإنکنَّ تفتنَّ الحيَّ، وتُؤذينَ الميتَ».

تــرجمه: ځکه تاسو ژونديو تـه دفتـنې او دمړي ته دعذاب سبب ګرځئ.

نـو پـدې چـي دښځـو لـپاره دقـبرونو زيـارت د ډيـرو حـرام کـارونو سـبب او ګمـان ګرځـي، دهغـوی پـه حق لـپاره او هـم د نارينـه وو لـپاره، او دلته دا حکمت (يعني نومړی احتمال) دپوره تشـخيص او تعيـن وړ نـدی، نـو هـيڅ نشـي کـيدلای چـي دهغـه مقدار اندازه ولګول شي کوم چي دداسي ناوړه او ناروا کارونو درامينځ ته کيدلو سبب نه ګرځي، او نه ديو او بل په مينځ کي فـرق کـيدلای شـي، او دشريعت له اصولو او بنسټونو يـو دادی چي ديو شرعي حکم اصلي حکمت ښکاره او روښانه نه وي، نو شرعي حکم دهماغـه حکمت پـه احتمالي او ممکنه حالت او يا ځای پوري تړل کيږي، نو دا کار (دقبرونو زيارت) حرام دی، تر څـو دداسـي نـاروا کـارونو مخـه ونـيول شـي، لکـه څنګه چـي دښځي دنـنه زينت تـه کـتل نـاروا دي ځکـه چي دا دفتنـي سبب ګرځي، او دپردی ښځي سره يواځي يو ځای کيدل، او يا هغې تـه کتل ناروا دي (ځکه چي دا ديو لوی ناروا کار يعني زنا سبب

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځي)، او دقبرونو په زيارت کولو کي کوم داسي مصلحت او منفعت هم نشته چي دذکر شوي فسادونو او اضرارو او ناوړه اثارو مخنيوى وکړاى شي، ځکه له زيارت کولو مقصد دوعا کول دي، او دا کار دښځي لپاره په کور کي هم ممکن دى[1].

۶- په زوره ژړا حرامه ده: يعني دا چي په زوره زوره او په چغو چغو وژاړي، او کالي (جامې) څيري کړي، او مخونه ووهي، او ويښتان وشکوي، او مخونه او پوزي توري کړي، او پر مړي باندي په بيتابۍ سره چيغي ووهي، او ښراوي وکړي، او داسي نور کارونه وکړي چي دالله ﷻ په قضا وقدر باندي دنارضائيت (نا خوښۍ) او بي صبرۍ پکښي وي، نو دا ټول کارونه حرام، او لويه ګناه (کبيره ګناه) ده، په بخاري او مسلم کي راغلي دي چي پيغمبر ﷺ فرمايي: «لَيْسَ مِنَّا مَنْ لَطَمَ الْخُدُودَ، وَشَقَّ الْجُيُوبَ، وَدَعَا بِدَعْوَى الْجَاهِلِيَّةِ».

ترجمه: هغه څوك چي (دچا په مرګ باندي) مخونه ووهي، او کالي وشکوي، او يا دجاهليت[2] کارونه وکړي (يعني چيغي

(۱) مجموع الفتاوى ۲۴/۳۵۵-۳۶۶.

(۲) جاهليت داسلام نه مخکي دورې ته وايي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وهي، او ښيرې وکړي) نو هغه زمونږ څخه ندی (يعني داسلام او سنت په طريقه ندی برابر).

او همدارنګه دبخاري او مسلم په بل حديث کې داسې راغلي چې پيغمبر ﷺ له هغه چا نه بيزاره دی چې دغم او مصيبت په وخت کې چيغې ووهي، او ويښتـه وشکوي، او کالي (جامې) په ځان څيري کړي.

او په مسلم کې همدارنګه راغلي دي: چې پيغمبر ﷺ په هغه چا لعنت ويلی دی چې چيغې وهي، او يا په يا يې واوريدلو ته په خپله خوښه ناست وي.

نو مسلماني خوري تاته لازمه ده چې دمصيبت په وخت کې دداسې ناروا کار څخه ځان وژغورې (وساتې)، او صبر وکړې او (له الله نه اجر وغواړې)، نو به دا مصيبت ستا دګناهونو کفاره او دنيکيو او اجرونو دزياتوب سبب وګرځي.

الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَنَبْلُوَنَّكُمْ بِشَيْءٍ مِّنَ الْخَوفْ وَالْجُوعِ وَنَقْصٍ مِّنَ الأَمَوَالِ وَالأنفُسِ وَالثَّمَرَاتِ وَبَشِّرِ الصَّابِرِينَ ❊ الَّذِينَ إِذَا أَصَابَتْهُم مُّصِيبَةٌ قَالُواْ إِنَّا لِلّه وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعونَ ❊ أُولَئِكَ عَلَيْهِمْ صَلَوَاتٌ مِّن رَّبِّهِمْ وَرَحْمَةٌ وَأُولَئِكَ هُمُ الْمُهْتَدُونَ﴾ [د البقره سورت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵۵-۱۵۷ آيتونه].

ترجمه: او مونږ به هرومرو (ضرور) تاسو ازمايو په يوه شي سره لکه ويره (له دښمن نه)، او لوږه (ولږه او قحطي)، او دمالونو کموالي (په افتونو سره)، او دنفسونو (په قتل، مرګ، او مرض سره)، او دميوو (په افتونو سره)، او صبر کونکو ته زيرى ورکړه، هغه کسان چي کله ورته مصيبت ورسيږي نو وايي: بيشکه مونږ دالله (په ملکيت کي) يو او هغه ته بيا ورتلونکي يو (په اخرت کي)، په همدغو کسانو به ددوى دپروردګار لخوا نه ستايني (بخښني) او رحمت وي، او همدوى دسمي لاري موندونکي دي.

هو، داسي ژړا روا ده چي په چغو سره نه وي، او ناروا کارونه ورسره ونکړي، او دالله دقضاء او قدر نه پکي ناراضه او ناخوښه نه وي، ځکه ژړا دمړي لپاره رحمت وي، او په هغه سره زړه نرميږي، او له ځان نه دفع کول يي ممکنه نه وي، نو ځکه خو هغه روا ده، او کيداى شي کله مستحبه او بهتره وي، والله المستعان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اووم فصل

## دښځو دروژې احکام

دروژې دمياشتې روژه نيول په هر مسلمان نارينه او مسلماني ښځې فرض ده، او هغه داسلام دارکانو څخه يو رکن، او دبنسټونو څخه يې يو لوی بنسټ او اصل دی، الله ﷻ فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ﴾ [د البقره سورت: ۱۸۳ آيت].

ترجمه: ای هغو کسانو چې ايمان يې راوړی دی! تاسو باندې روژه نيول فرض شوي دي، لکه څنګه چې له تاسو نه مخکې کسانو (پخواني امتونو) باندې فرض شوې وه، اميد دی چې تاسو وويريږئ (او ځان وساتئ له ګناهونو نه).

نو کله چې انجلۍ بالغه شي، او دبلوغ له علامو نه يوه ښکاره شي، مثلاً حيض يې راشي نو روژه په هغه فرضيږي، او کله انجلۍ ته په نهه (۹) کلنۍ کې حيض راشي، نو بعضې نجونې نه پوهيږي چې په دغه وخت کې روژه پرې فرض ده، نو روژه نه نيسي، فکر کوي چې دا وړه (کوچنۍ) ده، او دکور

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشران هم دروژي نيولو وينا ورته نه کوي، چي دا کار د اسلام ديو لوی رکن په ترك کولو سره يو لوی تقصير او بي غوري دی، نو که چا داسي وکړه، نو بيا په هغه باندي فرض ده چي دهغي روژې قضاي راوړي چي دحيض دشروع نه يي پري ايښې ده، که څه هم ډير وخت پري تير شوی وي، ځکه هغه روژه لا دهغې په ذمه کي پاته ده(۱).

**روژه په کومو کسانو فرض ده؟**

کله چي دروژې مياشت داخله شي نو په هر مسلمان نارينه او ښځي باندي چي بالغ، له مرض نه سالم، او مسافر نه وي (مقيم وي) روژه نيول فرض دي، او که څوك مسافر او يا مريض وي دروژي په مياشت کي نو هغه ته روژه خوړل روا دي، او بيا به دهغه ورځو قضايي په بل وخت کي راوړي، الله ﷻ فرمايي:

﴿فَمَن شَهِدَ مِنكُمُ الشَّهْرَ فَلْيَصُمْهُ وَمَن كَانَ مَرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ﴾ [د البقره سورت: ۱۸۵ آيت].

ترجمه: او څوك چي له تاسو نه دا مياشت وګوري نو ضرور

---

(۱) او پداسي ښځي باندي دروژي دقضايي نه علاوه دهري روژې په بدل کي يوه مسکين ته يو نيم کيلو خواړه ورکول هم فرض دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



به روژه نيسي، او که څوك مريض او يا مسافر وو، نو (ددې ورځو) په شمار به نوري ورځي (قضايي روژه نيسي) .

او همدارنګه که څوك ډير زوړ او سپين ږيرى (شيخ فاني) وي او روژه نشي نيولاى، او يا داسي يو دوامداره او دائمي مرض ولري چي دجوړوالي (رغيدو) اميد يي نه وي، نو وي که ښځه نو روژه به خوري او دهري روژې په عوض کي به يو مسکين ته نيم صاع (تقريباً يو نيم کيلو) دخپل وطن خواړه ورکوي، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ [د البقره سورت: ۱۸٤ آيت].

ترجمه: او په هغو کسانو چي (دروژي نيولو) طاقت نلري ومسکين ته دفديي په ډول خواړه ورکول لازمي ده. عبد الله بن عباس رضي الله عنهما وايي: دا دهغه چا لپاره ده چي زوړ او سپين ږيرى (شيخ فاني) وي او دجوړيدلو اميد يي نه وي[1] .

او هغه مريض چي دمرض نه يي دجوړيدلو (رغيدو) اميد نه وي هغه هم دزوړ سړي په شان دى او هماغه حکم لري، او پر دواړو باندي دروژي قضايي نشته، ځکه چي ورته ممکنه نده،

---

(۱) بخاري روايت کړى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او د (يطيقونه) معنى په ايت کي داده: چي ډير په مشقت او تکليف سره کولای شي روژه ونيسي.

او دښځي لپاره څه خاص عذرونه شته چي وهغې ته دفرضي روژي خوړل روا کوي، او بيا به دهغه په شمار نوري ورځي قضايي روژه نيسي.

او هغه عذرونه دادي:

**۱- حيض او نفاس:**

دحيض او نفاس په وخت کي دښځي لپاره روژه نيول حرام دي، او دهغې قضايي راوړل ورياندي فرض دي، په بخاري او مسلم کي له عائشې رضي الله عنها نه روايت دی چي کله يوې ښځي پوښتنه ځني وکړه: چي ولي حائضه ښځه دروژې قضايي راوړي او دلمانځه قضايي نه راوړي؟ نو هغې په جواب کي وويل: مونږ ته دروژي په قضايي راوړلو سره امر کيده، خو دلمانځه په قضايي راوړلو سره امر راته نه کيده. نو عائشي رضي الله عنها دا خبره بيان کړه چي دا حکم له هغه شرعي احکامو نه دی کوم چي په هغه کي بايد يواځي دشرعي نص (قران او سنت) متابعت وشي.

ددې حکم حکمت: شيخ الاسلام ابن تيميه وايي: او هغه وينه چي له حيض سره راوځي نو په هغه کي دويني راتلل دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



او حائضه ښځه کولای شي روژه ونيسي کله يې چي وينه نه راوځي، نو روژه يې پدي حالت کي داعتدال او سلامتيا روژه ده، پدي چي په هغه وخت کي له هغې هغه وينه نه وځي کومه چي ددې دبدن دطاقت او تقويي سبب ده، اما په حيض کي روژه نيول پداسي وخت کي وي چي له هغې نه وينه وځي، چي هغه به دهغې بدن کمزوری کړي، او روژه به يې داعتدال او سلامتيا له حالت نه بيرون کړي، نو ځکه ورته امر شوی چي دحيض په ورځو کي روژه ونه نيسي[1].

۲- دحمل او ماشوم ته دشودو ورکولو په وخت کي:

پدي دوو حالتونو کي روژه نيول ښځي او يا ماشوم ته، او يا دواړو ته تاوان او ضرر رسوي، نو ځکه خو پدي حالاتو کي ورته روژه خوړل روا دي، خو که چيري کوم ضرر چي دهغه په وجه يې روژه خوړلي ده هغه يوازي ماشوم ته متوجه وي، او مور ته يې نه ويي متوجه، نو دخوړل شوو ورځو قضايي به راوړي، او دهري ورځي په عوض کي به يوه مسکين ته خواړه ورکوي، او که نومړی ضرر مور ته متوجه وي، نو يوازي

---

(۱) مجموع الفتاوی ۲۵/۲۵۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قضايي به راوړي، (او فديه وربـاندي نشـته)، پدې دلـيل چـي حملداره ښځـه او کومـه چـي ماشـوم تـه شودې ورکـوي دالله ﷻ ددغـه قول په عمومي حکم کي داخلي دي چي فرمايي: ﴿وَعَلَى الَّذِينَ يُطِيقُونَهُ فِدْيَةٌ طَعَامُ مِسْكِينٍ﴾ [د البقرة سورت: ۱۸٤ آيت].

تـــرجمه: او پـه هغـو کسـانو چـي (دروژي نيولو) طاقت نلري ومسـکين تـه دفديي په ډول خواړه ورکول لازمي ده.

حـافظ ابـن کثـير رحمـت الله علـيه وايـي: حملداره ښځـه او هغـه ښځـه چـي ماشـوم تـه شـودې ورکـوي، کلـه چـي پـه خـپلو ځانونو او ماشـومانو وويـريږي، نـو پـدوى کـي هـم همدا علت او سبب موجود دی (کوم چي په آيت کي ذکر شو)[۱].

او شـيخ الاسـلام ابـن تيمـيه رحمـت الله علـيه وايي: که چيري حملداره ښځـه پـه خـپل ماشـوم وويـريږي، نـو روژه بـه خوري، او دهـري ورځـي پـه عـوض کـي بـه يوه ورځ قضـايي نيسـي، او هـم بـه دهـري ورځـي پـه بـدل کـي يـوه مسـکين تـه يـو رطـل (تقريـباً نـيم کيلو) خواړه ورکوي[۲].

---

(۱) تفسير ابن کثير ۳۷۹/۱.

(۲) مجموع الفتاوى ۳۱۸/۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**يو څو پاملرني:**

۱- مستحاضه: هغه ښځي ته وايي چي وينه يي دحيض وينه نه وي -لکه څنګه چي مخکي دهغه بيان وشو- نو پر هغې روژه فرض ده، او هغې ته د استحاضې بيماری په وجه روژه خوړل روا نده.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه دحائضې ښځي دروژې خوړلو له بيان نه وروسته وايي: خو استحاضه ددي خلاف ده، ځکه چي هغه په ټولو وختونو کي وي، او (دبنديدلو لپاره يي کوم ټاکلی وخت نشته چي په هغه کي روژه ونيسي، او له هغه نه ځان ساتل ممکن نه دي، لکه دخوا ګرځيدل، او له زخمونو نه وينه راتلل، احتلام (په خوب کي غسل اوښتل)، او داسي نورو په شان چي يو ټاکلی او معين وخت نلري چي ورنه ځان وساتل شي، نو ځکه خو استحاضه دحيض په شان دروژې نيولو مانع ونګرځيد[۱].

۲- په حائضې، حمل داره، او شودې ورکونکي ښځي باندي فرض دي چي دخوړل شويو روژو قضايي دراتلونکي

---

(۱) مجموع الفتاوی ۲۵/۲۵۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رمضان نه مخکي راوړي، او چي څومره ژر وي هغومره به بهتر وي، او کله چي دراتلونکي رمضان پوري يوازي دقضا شويو روژو په اندازه شپي پاتي شي، نو په دوی باندي دتيرو روژو قضايي فرض ده، تر څو بله دروژي مياشت داخله نشي پداسي حال کي پدوی باندي دتير رمضان روژې پاتي وي، او که چيري بله درمضان مياشت داخله شي او مخکيني روژې پري پاتي وي، نو که دا تاخير (وروسته کول) دکوم عذر په وجه نه وو، نو بيا به وروسته دهغه قضايي راوړي، او هم به دهري روژې په عوض کي يوه مسکين ته خواړه ورکوي (فديه به ورکوي)، او که دعذر په وجه وو، نو يوازي قضايي به يي راوړي، او همدارنګه که هغي دمرض او يا سفر په وجه روژې خوړلي وي، نو دهغه حکم دهغي ښځي په شان دی چي دحيض په وجه يي روژه خوړلي وي، او مخکي دهغه بيان وشو.

۳- که چيري دښځي ميړه (خاوند) په کور کي حاضر وي، نو ښځي ته روا نده چي بيله دميړه داجازې نه نفلي روژه ونيسي، په بخاري او مسلم او نورو (دحديث کتابونو کي) له ابو هريره رضی الله عنه څخه روايت دی وايي: چي پيغمبر ﷺ فرمايلي: «لاَ يَحِلُّ لامْرَأَةٍ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلاَّ بِإِذْنِه»، وفي بعض الروايات عند أحمد وأبي داود: «إلاّ رَمَضَانَ».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: وهيڅ ښځي ته روا ندي چي (نفلي) روژه ونيسي، پداسي حال کي چي ميړه يي په کور کي وي، مګر دهغه په اجازه، او داحمد او ابو داود په بعضي رواياتو داسي فرمايي: مګر فرضي روژه، (يعني هغه بيله اجازي دميړه نيولای شي).

خو که چيري ميړه ورته دنفلي روژې نيولو اجازه وکړي، او يا په کور کي حاضر نه وي، او يا ميړه ونلري، نو ورته مستحب ده چي نفلي روژه ونيسي، خصوصاً په هغه ورځو کي چي روژه نيول يي مستحب وي، لکه ددوشنبي، او پنجشنبي ورځ، او دهري مياشتي نه درې ورځي، او دشوال شپږ ورځي، او دذي الحجې لسمه، او دعرفات ورځ، او دعاشوراء ورځ او ورسره يوه ورځ مخکي او يا وروسته. خو هغې ته نه ښايي چي نفلي روژه ونيسي او پر هغې باندي دفرضي روژې قضايي پاتي وي، نو اول به قضايي روژه نيسي، والله اعلم.

۴- که چيري حائضه ښځه په رمضان کي دورځي په مينځ له حيض نه پاکه شي، نو هغه پاتي ورځ دي روژه ونيسي، او بيا دي دهغه قضايي له هغو ورځو سره راوړي چي دحيض په حالت کي يي خوړلي دي، او دپاکيدلو وروسته دپاتي ورځي نيول دروژې دوخت داحترام په وجه په هغې فرض دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# اتم فصل

## دښځي دحج او عمرې احکام:

دبيت الله شريفي حج هر کال په اسلامي امت فرض کفائي دي، او پر هر هغه مسلمان باندي چي دحج دفرضيت شرطونه پکښي موجود وي، يو ځل په عمر کي حج کول فرض دي، او لدي نه اضافه مستحب او نفلي دي. حج داسلام دارکانو څخه يو رکن دی، او هغه وښځي ته دجهاد په عوض کي دی، لکه څنګه چي عائشه رضي الله عنها وايي: يَا رَسُولَ الله، هَلْ عَلَى النِّسَاءِ جِهَادٌ؟ قَالَ: «نَعَمْ، عَلَيْهِنَّ جِهَادٌ لا قِتَالَ فِيهِ: الْحَجُّ وَالْعُمْرَةُ»(١)، وللبخاري عنها أنها قالت: يَا رَسُولَ الله، نَرَى الْجِهَادَ أَفْضَلَ الْعَمَلِ، أَفَلا نُجَاهِدُ؟ قَالَ: «لَكِن أَفْضَلُ الْجِهَادِ حَجٌّ مَبْرُورٌ».

ترجمه: ای رسول الله ايا پر ښځو باندي جهاد شته؟ هغه وفرمايل: هو، پر هغوی باندي داسي جهاد دی چي جنګ به پکښي نه وي، هغه حج او عمره ده، او دبخاري په روايت کي

---

(١) احمد، او ابن ماجه په صحيح سند سره روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عائشــه رضي الله عنها وايــي: اى رســول الله، مونـږ جهــاد دټولــو اعمالو نه بهتر ګڼو، نو ايا جهاد ونکړو؟ پيغمبر ﷺ وفرمايل: ليکن بهترين جهاد نيك او قبول شوى حج دى.

او په حج کي دښځو لپاره خاص احکام دي، چي له هغي جملي نه دادي:

۱- دمَحرَم موجوديت: دنارينه او ښځي دحج کولو عام شرطونه دادي: اسلام، عقل، ازادي، بالغيدل، مالي قدرت او توانايي، او دښځي لپاره خاص شرط دمَحرَم موجوديت دى چي له هغي سره به وحج ته سفر کوي، او هغه به دښځي ميړه وي، او يا هغه څوك چي ابدي نکاح يي ورسره دنَسَب په وجه حرامه وي، لکه دهغي پلار، زوى، ورور، او يا هغه څوك چي نکاح يي ورسره په يوه مشروع او روا سبب حرامه وي، لکه دهغي رضاعي[1] ورور، او يا دمور ميړه (پلندر)، او دميړه زوى (دبني زوى).

او ددې خبري دليل هغه حديث دي چي ابن عباس عنهما رضي الله روايت کړى دى وايي چي له پيغمبر ﷺ نه يي

---

(۱) رضاعي ورور هغه ته وايي چي دواړو ديوي ښځي شودي رودلي وي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوريدلي چي په خطبه کي يي ويل: «لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ إِلاَّ وَمَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ وَلاَ تُسَافِرْ الْمَرْأَةُ إِلاَّ مَعَ ذِي مَحْرَمٍ» فَقَامَ رَجُلٌ فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ امْرَأَتِي خَرَجَتْ حَاجَّةً وَإِنِّي اكْتُتِبْتُ فِي غَزْوَةِ كَذَا وَكَذَا؟ قَالَ: «فَانْطَلِقْ فَحُجَّ مَعَ امْرَأَتِكَ»[1].

ترجمه: هيڅ سړی به له ښځي سره نه يو ځای کيږي، مګر دا چي دهغې مَحرَم به موجود وي، او هيڅ ښځه به بيله مَحرَم نه (يوازي) سفر نه کوي، نو يو سړی ودريد او ويي ويل: ای رسول الله! زما ښځه دحج په قصد له کور نه وتلې ده، او زه له فلانی غزا (جنګ) لپاره تعين شوی يم، پيغمبر ﷺ (ورته) وويل: لاړ شه او له خپلي ښځي سره حج وکړه.

او له ابن عمر رضي الله عنهما نه روايت دی وايي: پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: «لا تُسَافِرُ الْمَرْأَةُ ثَلاثاً إِلاَّ مَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ»[2].

ترجمه: ښځه به ددريو ورځو لپاره سفر نکوي، مګر دا چي مَحرَم به ورسره وي. او پدې باره کي ډير حديثونه راغلي چي

---

(۱) بخاري او مسلم روايت کړی دی.

(۲) بخاري او مسلم روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښځه منع کوي چې حج ته او يا بل ځای ته بيله محرم نه سفر وکړي، ځکه ښځه ضعيفه او کمزورې ده او په سفر کې درنګارنګ تکليفونو او مشکلاتو سره مخامخ کيږي چې دهغو مخنيوی يوازې نارينه کولای شي، او لدې نه علاوه ښځې ته دفاسقانو لخوا هم تکليف رسيدلای شي، نو ځکه دمحرم موجوديت ضروري دی ترڅو له دا ډول تکليفونو نه دهغې ساتنه او حفاظت وکړي.

او کوم محرم چې بايد دښځې سره په حج کې ملګری وي، دهغه لپاره شرط دادی چې عاقل، بالغ، او مسلمان وي، ځکه کافر داطمينان او اعتماد وړ ندی، او که چيرې ښځه په دغه شرايطو سره محرم پيدا نکړي، نو ضرور به بل څوك مکلف کوي چې دهغې لپاره حج وکړي.

۲- که چيرې حج نفلي وي نو دهغه لپاره يې دميړه اجازه شرط ده، ځکه په حج کې دميړه حق بيځايه کيږي، په مغني کې راغلي دي: ميړه کولای شي ښځه دنفلي حج نه منع کړي، ابن المنذر وايي: ټول هغه علماء چې زه پرې علم لرم- پدې خبره متفق دي چې ميړه کولای شي ښځه دنفلي حج نه منع کړي، او دا ځکه چې دميړه حق پر ښځې فرض دی، نو ورته روا نده چې هغه پداسې کار سره ضايع کړي چې هغه فرض نه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه دبادار او مريي په شان[۱] (يعني لکه څنګه چي مريي ته روا ندي چي دبادار فرضي حق په يو غير فرضي کار سره ضايع کړي).

۳- ښځه کولای شي چي دنارينه لپاره (په نيابت کي) حج او عمره وکړي، شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه وايي: ښځي ته په اتفاق دعلماوو روا دي چي دبلي ښځي په عوض (نيابت) کي حج وکړي، لور يي وي او که بيله هغه نه بل څوك، او همدارنګه دڅلورو امامانو (ابو حنيفه، مالك، شافعي، او احمد) او اکثرو علماوو په نظر ښځي ته روا دي چي دسړي لپاره (په نيابت کي) حج وکړي، لکه څنګه چي پيغمبر ﷺ دخثعمي دقبيلي ديو ښځي په جواب کي چي ويل يي: يا رسول الله! پر بندګانو باندي دالله ﷻ دحج فريضه زما په پلار هم فرض شوي ده پداسي حال کي چي هغه زوړ او سپين ږيری، نو پيغمبر ﷺ هغي ته امر وکړ چي دخپل پلار په عوض (نيابت) کي حج وکړي، سره لدي چي دنارينه احرام دښځي تر احرام

---

(۱) المغني ۳/ ۲۴۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کامل دی[۱].

۴- که چیري ښځې ته پداسي حال کي حیض یا نفاس راشي چي حج ته روانه وي، نو که داحرام په وخت کي وي، نو دا به دنورو پاکو ښځو په شان احرام تړي، ځکه داحرام دتړلو لپاره پاکوالی شرط ندی.

په مغني کي (ابن قدامه) وايي: او لنډه خبره داده چي دښځو لپاره دنارینه وو په شان داحرام په وخت کي غسل کول روا دي، ځکه دا هم یو دحج دافعالو نه دی، او غسل کول دحائضې او نفاس داره ښځي لپاره زيات دتاکيد وړ دی، نظر په هغه حديث چي پدي باره کي راغلی دی، جابر رضی الله عنه وايي: حَتَّى أَتَيْنَا ذَا الْحُلَيْفَةِ فَوَلَدَتْ أَسْمَاءُ بِنْتُ عُمَيْسٍ مُحَمَّدَ بْنَ أَبِي بَكْرٍ فَأَرْسَلَتْ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ ﷺ كَيْفَ أَصْنَعُ؟ قَالَ: «اغْتَسِلِي وَاسْتَثْفِرِي بِثَوْبٍ وَأَحْرِمِي»[۲].

ترجمه: تر څو چي مونږ وذو الحليفي ته راغلو، نو له اسماء بنت عميس نه محمد بن ابو بکر پيدا (تولد) شو، نو پيغمبر ﷺ

---

(۱) مجموع الفتاوی ۲۶/۱۳.

(۲) بخاري او مسلم روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته يې سرى واستوه چې پوښتنه څنې وكړي چې څه وكړم؟ پيغمبر ﷺ ورته وويل: غسل وكړه، او (دويني په ځاى كې) كومه ټوټه كېښېږده، او احرام وتړه. او له ابن عباس رضي الله عنهما له پيغمبر ﷺ نه روايت كوي چې فرمايي: «النُّفَسَاءُ وَالْحَائِضُ إِذَا أَتَيَا عَلَى الْوَقْتِ يُحْرِمَانِ وَيَقْضِيَانِ الْمَنَاسِكَ كُلَّهَا غَيْرَ الطَّوَافِ بِالْبَيْتِ»[1].

ترجمه: نفاس داره او حائضه ښځه چې كله وميقات[2] ته راشي نو دواړه به احرام تړي، او دكعبې دطواف نه بغير به نور ټول (دحج او يا عمرې) اعمال په ځاى كوي. او پيغمبر ﷺ وعائشې ته امر وكړ چې دحج داحرام لپاره غسل وكړي پداسې حال كې چې هغه حائضه وه[3].

او دحائضې او نفاس داره ښځې داحرام لپاره په غسل كې حكمت دادى چې (دبدن) نظافت او صفايي يې وشي، او بد

---

(۱) ابو داود روايت كړى ى.

(۲) ميقات هغه معين ځاى ته وايي چې هلته احرام تړل كيږي، او له هغه نه بايد بيله احرامه څوك تير نشي.(ژباړن)

(۳) المغني ۲۹۳/۳-۲۹۴.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بويـي يـي لاړه شـي كـوم چي دخلكو ديوځاى كيدو په وخت نورو ته دتكليف سبب ګرځي، او نجاست يي له مينځه لاړ شي. او كه چيري ورتـه داحـرام په حالت كي حيض يا نفاس راشي نو داحرام لـپاره څـه نقصـان نلري، او پـه خـپل احـرام كـي بـه پاتـه وي، او داحـرام دممـنوعـاتو نه به ځان ساتي، او دكعبي طواف به نه كوي تـر څو چي له حيض او نفاس نه پاكي شي او غسل وكړي، او كه دعـرفات ورځ راشـي او دوى پاكـي شـوي نه وي او دعمري احرام يـي تړلـى وي چـي وروستـه بـيا له هغـې سره حـج هـم وكـړي، نو دوى بـه دعمـري داحـرام برسيره دحـج احـرام تـړي (دحـج نيـت بـه كوي) نو پدې سره به ددوى حج دقِرَان[۱] حج وګرځي.

او دلـيل يـي دادى چـي عائشـې رضي الله عنها دعمـري احـرام تړلـى وو او حـيض يـي راغـى، نـو پيغمـبر ﷺ پداسـي حـال كـي ورغلـو چـي هغـې ژړل، پيغمـبر ﷺ وويـــل: «مَا يُبْكِيكِ؟ لَعَلَّكِ نُفِسْتِ؟ قَالَتْ: نَعَمْ، قَالَ: هَذَا شَيْءٌ قَدْ كَتَبَهُ اللَّهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ

---

(۱) دقِرَان حـج هغـه دى پـه كـوم كـي چـي عمـره او حـج پـه يوه احرام او يوه نيت سره وكړي شي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



افْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لاَ تَطُوفِي بِالْبَيْتِ»[۱].

ترجمه: ولي ژاړې، شايد چي حيض به دي راغلی وي؟ هغې وويل: هو، پيغمبر ﷺ وفرمايل: دا شی الله ﷻ دادم عليه السلام په لوڼو باندي مقرر کړی دی، نو ته ټول هغه افعال په ځای کړه کوم چي يو حاجي يي کوي، خو دکعبې نه طواف مه کوه. او دجابر رضی الله عنه په حديث کي چي بخاري او مسلم روايت کړی وايي: او پيغمبر ﷺ عائشې رضی الله عنها ته پداسي حال کي ورغلی چي هغې ژړل، نو پيغمبر ﷺ وفرمايل: «مَا شَأْنُكِ؟» قَالَتْ: شَأْنِي أَنِّي قَدْ حِضْتُ، وَقَدْ حَلَّ النَّاسُ وَلَمْ أَحْلِلْ وَلَمْ أَطُفْ بِالْبَيْتِ، وَالنَّاسُ يَذْهَبُونَ إِلَى الْحَجِّ الآنَ، فَقَالَ: «إِنَّ هَذَا أَمْرٌ كَتَبَهُ اللَّـــهُ عَلَى بَنَاتِ آدَمَ فَاغْتَسِلِي ثُمَّ أَهِلِّي بِالْحَجِّ»، فَفَعَلَتْ وَوَقَفَتْ الْمَوَاقِـــفَ حَـــتَّى إِذَا طَهَرَتْ طَافَتْ بِالْكَعْبَةِ وَالصَّفَا وَالْمَرْوَةِ، ثُمَّ قَالَ: «قَدْ حَلَلْتِ مِنْ حَجِّكِ وَعُمْرَتِكِ جَمِيعًا».

تـــرجمه: تاته څه پيښ شوي؟ هغې وويل: زما حيض راغی، او ټولـو خلکـو ځانونـه حـلال کـړي دي (دعمـري احـرامونه يـي

---

(۱) بخاري اومسلم روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلاص کړي دي)، او ما لاڅان ندی حلال کړی، او نه مې دکعبې طواف کړی دی، او خلك اوس حج ته روان دي، نو پیغمبر ﷺ وفرمایل: دا شی الله ﷻ دادم ﷺ په لوڼو مقرر کړی دی، نو ته غسل وکړه، او بیا احرام وتړه، نو هغې احرام وتړی، او ټول افعال يې په ځای کړل، تر څو چې پاکه شوه نو بیا یې دکعبې طواف وکړ او دصفا ومروا سعي یې وکړه، نو پیغمبر ﷺ وفرمایل: (اوس نو) له حج او عمرې دواړو څخه حلاله شوې (ووتلې).

علامه ابن القیم وایي: صحیح او صریح احادیث پدې دلالت کوي چې عائشه رضی الله عنها اول دعمرې احرام تړلی وو او بیا چې کله یې حیض راغی نو پیغمبر ﷺ ورته امر وکړ چې دحج احرام وتړي، نو پدې سره یې حج دقرآن حج وګرځید، نو ځکه خو پیغمبر ﷺ ورته وویل: «يَكْفِيكِ طَوَافُكِ بِالْبَيْتِ وَبَيْنَ الصَّفَا وَالْمَرْوَةِ لِحَجِّكِ وَعُمْرَتِكِ»[۱].

ترجمه: دکعبې (یو) طواف او دصفا او مروا (یوه) سعي ستا دحج او عمري (دواړو) لپاره تاته کفایت کوي.

---

(۱) تهذیب السنن ۲/۲۰۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- کوم کارونه چي ښځه يي بايد داحرام تړلو په وخت کي وکړي: ښځه بايد دنارينه په شان داحرام په وخت کي غسل وکړي، او دنوکونو په اخيستلو، او وېښتانو لري کولو او بد بويي ورکولو (خوشبويي وهلو) سره ځان پاك کړي، تر څو بيا داحرام په حال کي دې شيانو ته ضرورت پيدا نکړي، ځکه چي هغه وخت بيا دا کارونه کول ممنوع دي، او که چيري دغو شيانو ته ضرورت نه وو نو کول يي حتمي ندي، او نه هغه داحرام دخصوصياتو څخه دي، او پروا نلري چي پداسي عطرونو سره ځان خوشبويه کړي چي تيز بوی ونلري، لکه عائشه رضی الله عنها چي وايي: كُنَّا نَخْرُجُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ إِلَى مَكَّةَ فَنُضَمِّدُ جِبَاهَنَا بِالسُّكِّ الْمُطَيَّبِ عِنْدَ الإِحْرَامِ فَإِذَا عَرِقَتْ إِحْدَانَا سَالَ عَلَى وَجْهِهَا فَيَرَاهُ النَّبِيُّ ﷺ فَلاَ يَنْهَانَا[۱].

ترجمه: مونږ به دپيغمبر ﷺ سره (ومکي) ته تللو او داحرام تړلو په وخت کي به مو په خپلو تنديو (وچولی) باندي مشك وهل، نو کله چي به له مونږ نه ديوې (بدن) خولې شو نو مشك به يي پر مخ راتوی شول، او هغه به پيغمبر ﷺ ليدل خو له هغه

---

(۱) ابو داود روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځخه يي نه منع کولو.

شوکاني وايي: دپيغمبر ﷺ سکوت ددې کار په جواز او روا والي دلالت کوي، ځکه چي هغه ديو ناروا او باطل کار باندي چپ نه پاتي کيږي[1].

۶- داحرام دنيت سره به هغه ځادري (بوقره) او نقاب ليري کړي چي اغوستي يي وي، او بوقره او نقاب هغه دي چي مخ پټوي او په هغه کښي دسترګو لپاره سوري وي چي ښځه له هغه نه ګوري، دليل يي دبخاري دا حديث دی: «لا تنتقب المحرمة»، يعني: احرام تړونکې ښځه به نقاب نه اچوي، او ځادري خو له نقاب نه هم زياته ده. او همدارنګه به دستکلي (دستکشي) هم ليري کوي که يي مخکي له احرام نه اغوستي وي، او دستکشي هر هغه شي ته وايي چي دلاسونو دپټولو لپاره په لاسونو اغوستل کيږي. او کله چي ښځه دبيګانه نارينه وو سره مخامخ شي نو خپل مخ به بيله نقابه او ځادري نه په کوم بل شي لکه پوړنۍ او يا جامې سره پټوي، او همدارنګه له بيګانه نارينه وو نه به خپل لاسونه بيله دستکلو نه په بل شي

(۱) نيل الاوطار ۱۳/۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه خپله جامې سره پټوي، ځکه دښځې مخ او لاسونه عورت ګڼل کيږي، چې له بيګانه نارينه وو نه يي پټول فرض دي، که داحرام په حالت کي او يا په بل حالت کي.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه وايي: ښځه ټوله عورت ده، نو ځکه ورته روا دي چې دځان دپټولو لپاره جامې واغوندي، او دکجاوې له سيوري نه استفاده وکړي، خو پيغمبر ﷺ ښځه له نقاب او دستکلو اچولو نه منع کړي ده، او دستکلي هغه پوښونو ته وايي چې لاسونو ته اغوستل کيږي، او که ښځه خپل مخ پداسي جامه سره پټ کړي چې له مخ سره نه نښلي، نو دا په اتفاق (دعلماوو) سره روا ده، خو که له مخ سره نښليده نو صحيح داده چې دا هم روا ده، او ښځه مکلفه نده چې په لرګي يا لاس اويا بل شي سره جامه له خپل مخ نه ليري کړي (تر څو له مخ سره يي ونه نښلي)، ځکه پيغمبر ﷺ دښځې مخ او لاسونه يو شانتي ګڼلي دي، او دواړه دنارينه دبدن په شان دي نه دهغه دسر په شان، او دپيغمبر ﷺ ښځو به په خپلو مخونو جامه اچول بيله دي چې دهغه ليري والي په نظر کي ونيسي، او له علماوو نه هيڅ يوه له پيغمبر ﷺ نه ندي نقل کړي چې هغه فرمايلي دي: «إِحْرَامُ الْمَرْأَةِ فِي وَجْهِهَا».

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: دښځي احرام دهغې په مخ کي دی، بلکه دا دسلفو[۱] دبعضي علماوو قول دی.

علامه ابن القيم وايي: له پيغمبر ﷺ نه يوه کلمه هم په احرام کي دښځي دمخ دلوڅولو په فرضيت کي نده راغلې، او يوازي له نقاب نه منع راغلې ده.. او بيا وايي: له اسماء رضی الله عنها نه روايت دي چي هغي به داحرام په حال کي خپل مخ پټاوه، او عائشه رضی الله عنها وايي: كَانَ الرُّكْبَانُ يَمُرُّونَ بِنَا وَنَحْنُ مَعَ رَسُولِ اللَّهِ ﷺ مُحْرِمَاتٌ فَإِذَا حَاذَوْا بِنَا سَدَلَتْ إِحْدَانَا جِلْبَابَهَا مِنْ رَأْسِهَا عَلَى وَجْهِهَا فَإِذَا جَاوَزُونَا كَشَفْنَاهُ[۲].

ترجمه: سواره خلک به زمونږ له خوا نه تيريدل پداسي حال کي چي مونږ به دپيغمبر ﷺ سره په احرام کي وو، نو کله چي به زمونږ سره مخامخ او نږدي شول نو زمونږ نه هري يوې به خپل څادر (پوړنۍ) دسر لخوا نه پر خپل مخ باندي را ځوړند کړ، او چي کله به له مونږ نه تير شول نو بيا به مو مخ لوڅ کړ.

---

(۱) سلف: وصحابه وو، تابعينو، تبع تابعينو او نور داسلام داول عصر امامانو او سترو علماوو ته ويل کيږي.(ژباړن)

(۲) ابو داود روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ای مسلماني احرام تړونکې خوري پوه شه چي تا ته دمخ او لاسونو پټولو اجازه نشته په هغه څه سره چي خاص دهغه لپاره جوړ (ګنډل) شوي وي، لکه نقاب او دستکلې (دستکشي)، او په تا باندي فرض دي چي له بيګانه (نا محرمه نارينه وو نه خپل مخ او لاسونه په خپل پوړني، يا جامي، او يا بل شي سره پټ کړې، او دداسي شي لکه لرګی، پتکی او يا بل څه استعمالول چي پوړنی له مخ نه ليري کړي تر څو ورسره ونه نښلي، دا کوم شرعي اصل نلري.

۷- وښځي ته روا دي چي داحرام په حال کي دخپلي خوښي سره هر نوع کالي واغوندي، چي زينت او ښکلا پکښي نه وي، او دنارينه وو دکاليو سره مشابهت ونلري، او نه داسي تنګ وي چي دبدن اندامونه وښيي، او نه داسي نازك وي چي بدن نه پټوي، او نه داسي لنډ وي چي پښي او لاسونه يي ترينه راووځي، بلکه ازاد پلن او ډبل کالي به وي.

ابن المنذر وايي: علماء پدي باندي اتفاق لري چي داحرام لرونکي ښځي لپاره دقميص، پرتوګ، څادر، او موزې اچول روا دي[۱].

(۱) المغني ۳۲۸/۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ښځي تـه ضروري نـده چي کـوم معيـن او خـاص رنګ - مـثلاً زرغـون رنـګ- کالـي واغونـدي، بلکـه هغـه رنګونـه بـه اختيـاروي کـوم چي معمولاً ښځي اغوندي لکه سور، زرغون، او تـور، او کـولای شي چي يـو رنـګ جامـي پـه بـل رنګ جامو سره بدلي کړي.

۸- او ښځـي تـه سنت دي چي داحرام نه وروسته په دومره ټيټ اواز سره لبيك ووايي چي يوازي يي خپله واوري. ابن عبد البر وايي: علماء اتفاق (اجماع) لـري دښځي لپاره سنت طريقه داده چـي خـپل اواز پورتـه نکـړي، يـوازي بـه يـي خـپل ځـان تـه اوروي، او دفـتنـې دډار او ويـري پـه وجـه ورتـه اواز پورتـه کـول مکـروه دي، نـو ځکـه خو ورته اذان کول او اقامت ويل روا ندي، او پـه لمانځـه کـي بـه (دسهوي پـه صـورت کـي وامـام تـه) دفـتح ورکولـو او خـبرولو لپاره لاسونه ټکوي (پړقکوي)، او (دنارينه وو پـه شان بـه) تسبيح نـه وايي(۱).

۹- پـه ښځـي بـاندي پـه طـواف کـي پـوره ستر کـول او ځـان پټـول فـرض دي، او دا چـي اواز بـه نـه پورتـه کـوي، او سترګي به

---

(۱) المغني ۲/ ۳۳۰-۳۳۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(لـه حرامو كـتلو څخه) ساتي، او دنارينه وو سره به ډكې نه وهي يعني گڼه به نه جوړوي، خصوصاً دحجر اسود او ركن يماني په حصـه كـي، او دكعبـي څخه ليري دمطاف[1] په اخيري حصه كي لـه نارينه څخـه گوښه طواف كول ورته بهتر او افضل دي له هغه طواف نـه چـي دنارينـه وو پـه ازدحام كـي يـي وكعبـي تـه نژدي وكړي، څكـه لـه نارينه وو سره ښنگ او ډكـي وهـل (يعنـي گڼـه جوړول) حرام دي، پدي چي هغه دفتني سبب گرځي، او وكعبي تـه نـژدي والـي او دحجـر اسـود مچـول دواړه دامكـان پـه صـورت كـي سنت دي، نو دسنت لپاره به حرام او ناروا كار نكوي، بلكه پداسـي حالـت كـي هغه دښځي په حق كي سنت ندي، او هغې ته سنت طـريقه داده چـي كلـه ورتـه مخـامخ شـي يـوازي اشاره ورتـه وكړي.

امـام نـووي وايي: زمونږ علماء وايي: وښځو ته دحجر اسود مچول مسـتحب نـدي، او حتـى مسـه كـول (لاس وروړل) هم ورتـه مسـتحب نـدی، مگـر پـه هغـه حالـت كـي چـي مطـاف (دطـواف ځـاى) دشـپي لخـوا او يـا بـل وخت كي خالي وي، ځكه پدي كي

---

(۱) مطـاف: دكعبـي شـاوخوا هغـه منطقـي تـه وايـي چـي خلـگ پكښـي طواف كوي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښځو او دنورو خلکو لپاره تکليف دی[(۱)].

او په مغني کي وايي: وښځي ته په شپه کي طواف کول مستحب دي، ځکه په هغه کي دښځي ستر زيات وي، او ازدحام هم کم وي، نو کولای شي چي وکعبي ته نژدي شي او حجر اسود مسه کړي[(۲)].

۱۰- په مغني کي وايي: دښځو طواف او دهغوی (دصفا او مروا) سعي ټوله د(عادي) تګ په شکل ده، ابن المنذر وايي: دعلماوو پدي اتفاق دی چي په ښځو باندي دکعبي په طواف (په اولو دريو دَورو) او صفا ومروا کي منډه وهل (رَمَل) نشته، او نه پري اوږه لوڅول (اضطباع) شته، ځکه له هغه نه مقصد دطاقت او قوت ښکاره کول دي، او دا دښځو په حق کي نشته، ځکه دهغوی لپاره ستر پکار دی، او په منډه وهلو ډو اوږو لوڅولو کي دبدن لوڅيدل دي[(۳)].

۱۱- دحج هغه اعمال چي بايد حائضه ښځه يي وکړي، او

---

(۱) المجموع ۳۷/۸.

(۲) المغني ۳۳۱/۳.

(۳) المغني ۳۹۴/۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه چې بايد ويې نکړي تر څو پاکه شي: حائضه ښځه دحج اعمال ټول تر سره کولای شي، لکه احرام تړل، په عرفات ودريدل، مزدلفي ته تلل، دجمرو ويشتل، خو دکعبي طواف به نکوي تر څو چې پاکه شي، څکه عائشه رضی الله عنها چې کله يي حيض راغی نو پيغمبر ﷺ ورته وفرمايل: «افْعَلِي مَا يَفْعَلُ الْحَاجُّ غَيْرَ أَنْ لاَّ تَطُوفِي بِالْبَيْتِ حَتَّى تَطْهُرِي»[1].

ترجمه: ټول هغه افعال په ځای کړه کوم چې يو حاجي يي کوي، خو دکعبي طواف مه کوه، تر څو چې پاکه شي. او دمسلم په روايت کي داسي راغلي دي: «فَاقْضِي مَا يَقْضِي الْحَاجُّ، غَيْرَ أَنْ لا تَطُوفِي بِالْبَيْتِ حَتَّى تَغْتَسِلِي».

ترجمه: ټول هغه افعال په ځای کړه کوم چې يو حاجي يي کوي، خو دکعبي طواف مه کوه، تر څو چې غسل وکړي.

شوکاني وايي: پدي حديث کي دحائض ښځي لپاره دطواف کولو څخه ښکاره منع راغلي ده تر څو چې وينه يي بنده شي او غسل وکړي، او منع (او نهي) دفساد او باطليدو

---

(۱) بخاري اومسلم روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقاضا کوي، نو دحائضې ښځې طواف کول باطل دي، او دا داکثره علماوو قول (نظر) دی[۱].

او دصفا ومروا په مينځ کې به سعي هم نکوي، ځکه سعي دطواف څخه وروسته وي، او پيغمبر ﷺ هيڅکله مخکې له طواف نه سعي نده کړې.

امام نووي وايي: فرعي مسأله: که څوك له طواف نه مخکې سعي وکړي نو زمونږ په نزد يې سعي نه صحيح کيږي، او دا داکثرو علماوو قول دی، او مخکې مو وويل چې ماوردي پدې مسأله کې دعلماوو اجماع نقل کړيده، او دا دمالك او ابو حنيفه او احمد مذهب هم دی، او ابن المنذر له عطاء او داهل حديث له بعضې علماوو نه نقل کړي دي چې نومړې سعي صحت لري، دا قول زمونږ علماوو له عطاء او داود نه نقل کړی دی.

زمونږ دليل دادی: چې پيغمبر ﷺ دطواف نه وروسته سعي وکړه، او ويې فرمايل: «لِتَأْخُذُوا عَنِّي مَنَاسِكَكُمْ».

---

(۱) نيل الاوطار ۴۹/۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: خپل دحج اعمال او مناسك لما نه واخلئ (لما نه يي زده كړئ)، او دابن شريك رضي الله عنه حديث چي وايي: خَرَجْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ حَاجًّا فَكَانَ النَّاسُ يَأْتُونَهُ فَمنْ قَائِلٍ: يَا رَسُولَ اللَّه، سَعَيْتُ قَبْلَ أَنْ أَطُوفَ، أَوْ قَدَّمْتُ شَيْئًا أَوْ أَخَّرْتُ شَيْئًا، فَكَانَ يَقُولُ: «لاَ حَرَجَ، لاَ حَرَجَ إِلاَّ عَلَى رَجُلٍ اقْتَرَضَ عِرْضَ رَجُلٍ مُسْلِمٍ وَهُوَ ظَالِمٌ، فَذَلِكَ الَّذِي هَلَكَ وَحَرِجَ»[1].

ترجمه: زه دپيغمبر ﷺ سره مي دحج لپاره سفر وكړى، نو خلك ورته راتلل، چا به ويل: اى رسول الله له طواف نه مخكي مي دصفا ومروا سعي وكړه، او يا مي څه شى وروسته وكړى، او يا مي مخكي وكړى، نو پيغمبر ﷺ به ويل: چي هيڅ پروا (گناه) نشته، مگر په هغه چا باندي چي ديو مسلمان حق (او يا دهغه عزت) يي په ظلم سره واخيست (او پايماله يي كړ)، نو همدا شخص هلاك شو او په گناه كي ولويدى. نو پدې حديث كي ددي خبري چي وايي: له طواف نه مخكي مي سعي وكړه،

(۱) ابو داود پداسي سند سره روايت كړى چي دسند راويان يي ټول دبخاري او مسلم له راويانو نه دي ما سوا داسامه بن شريك څخه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



معنی داده چي دطواف قدوم نه وروسته او له فرض طواف نه مخکي مي سعي وکړه، او خطابي هم دحديث همداسي معنی کړيده[١].

زمونږ استاذ شيخ محمد الامين الشنقيطي رحمت الله عليه په خپل تفسير کي وايي: پوه شه چي اکثر علماء پدي نظر دي چي سعي يوازي له طواف نه وروسته صحيح کيږي، نو که له طواف نه مخکي سعي وکړي داکثره علماوو په نظر صحيح نده، چي له هغه جملي څلور امامان هم دي، او ماوردي او نورو پدي باره کي دعلماوو اجماع نقل کړي ده، او بيا يي دنووي مخکيني قول او دهغه لخوا دابن شريك دحديث جواب يي ذکر کړ، او بيا وايي: نو هغه دا خبره: چي مخکي له طواف نه (مي سعي وکړه) يعني: مخکي له فرضي طواف نه چي رکن دی، او دا ددي نفي نکوي چي سعي به يي دطواف قدوم[٢] نه وروسته

---

(١) المجموع ٨/٨٢.

(٢) طواف قدوم: هغه طواف دی چي دعمري او يا دحج دټولو اعمالو نه مخکي کيږي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي وي کوم چي رکن ندی[۱].

په مغني کي وايي: سعي دطواف تابع ده، او له هغه نه مخکي طواف کولو نه بغير صحيح نده، نو که له طواف نه مخکي يي سعي وکړه نه صحيح کيږي، او دا دمالك، شافعي، او احنافو نظر دی، او عطاء وايي: (له طواف نه مخکي سعي) روا ده، او له احمد نه روايت دی چي وايي: که يي په هيره سره وکړه، روا ده، او په قصد سره وي نده روا، ځکه له پيغمبر ﷺ نه چي کله دهيري او ناپوهي په صورت دتقديم او تاخير پوښتنه وشوه، نو فرمايل به يي: چي «لاحرج» يعني څه پروا او ګناه نشته.

او داول قول دليل دادی چي پيغمبر ﷺ له طواف نه وروسته سعي کړي ده، او بيا يي فرمايلي دي: «لِتَأْخُذُوا عَنِّي مَنَاسِككُمْ» يعني: له مانه دخپل حج مناسك او اعمال واخلی او زده يي کړی[۲].

---

(۱) اضواء البيان ۲۵۲/۵.

(۲) المغني ۲۴۰/۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو له مخکي خبرو نه دا معلومه شوه چي په کوم حديث چي داول قول خاوندان استدلال کوي او وايي چي سعي له طواف نه مخکي روا ده، نومړي حديث پدي خبره دلالت نکوي، ځکه حديث دوه احتماله لري: يا خو حديث دهغو کسانو په باره کي دی چي دفرضي طواف نه مخکي سعي وکړي، خو له هغه نه مخکي يي دطواف قدوم لپاره سعي کړي وي، نو سعي يي له طواف نه وروسته راغله (نه مخکي)، او يا دهغه کسانو په باره کي دی چي په هيره او ناپوهي سره بيله قصده (له طواف نه مخکي سعي وکړي).

او ما پدي مسأله کي پدي وجه اوږد بحث وکړ، چي اوس داسي کسان پيدا شويدي چي دطواف نه مخکي مطلقاً سعي کول روا بولي او پدي سره فتوا ورکوي، والله المستعان.

**پاملرنه:**

که ښځي ته له طواف نه وروسته حيض راشي، نو پدي حالت کي به سعي کوي، ځکه دسعي لپاره پاکوالی او اودس شرط ندی، په مغني کي وايي: اکثره علماء دا نظر لري چي دصفا او مروا دسعي لپاره اودس شرط ندی، او لدي جملي نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



عطاء، مالك، شافعي، ابو ثور، او احناف دي.. او بيا وايي: ابو داود وايي: ما له احمد نه اوريدلي دي چي ويل يي: كله چي ښځه دكعبي طواف وكړي، او بيا حيض ورته راشي، نو دصفا او مروا سعي دي وكړي، بيا دي منى ته ولاړه شي، او له عائشي او ام سلمه رضي الله عنها نه روايت دى چي دوى دوو ويلي دي: كله چي ښځه دكعبي طواف او دوه ركعته لمونځ وكړي، او بيا يي حيض راشي، نو دصفا او مروا سعي دي وكړي، دا خبره اثرم روايت كړيده[(۱)].

۱۲- وښځو ته له مزدلفي نه دضعيفه او كمزوره حاجيانو سره يو ځاى دسپوږمۍ دلويدو نه وروسته راوتل، او منى ته په ررسيدو سره لوى شيطان ويشتل روا دي، تر څو په ازدحام (ګڼه ګوڼه) كي ګير نشي.

موفق ابن قدامه په مغني كي وايي: څه باك نشته چي ضعيفه حاجيان او ښځي مخكي له مزدلفي نه ووځي، او عبد الرحمن بن عوف او عائشه رضي الله عنها له هغو كسانو نه وو

---

(۱) المغني ۲۴۶/۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې خپل دکور کمزوري به يې مخکې ومنی ته استول، او دا دعطاء، ثوري، شافعي، ابو ثور، او احنافو قول دی، او زمونږ له معلومات سره څوك ددې خبري مخالف نشته، او پدې کې دهغوی لپاره اسانتيا او دازدحام دتکليف نه خلاصون، او دپيغمبر ﷺ دسنت متابعت دی[۱].

امام شوکاني وايي: دلائل پدې دلالت کوي چې دشيطانانو ويشتلو وخت دهغه چا لپاره چې رخصت[۲] ورته نه وي دلمر ختلو نه وروسته دی، او دچا لپاره چې رخصت او اجازه شوي وي لکه ښځې او ضعيفه او کمزوري حاجيان، نو هغوی ته دلمر ختلو نه مخکې روا دی[۳].

امام نووي وايي: شافعي او دمذهب علماء وايي: دښځو او نورو ضعيفه حاجيانو لپاره سنت طريقه داده چې له مزدلفې نه

---

(۱) المغني ۲۸۶/۵.

(۲) رخصت دې ته وايي چې شريعت دتکليف او عذر په وجه په حکم کې اسانتيا راولي، لکه د ښځو او ضعيفو کسانو لپاره د مزدلفې څخه په نيمه شپه کې راوتل او شيطانان ويشتل.(ژباړن)

(۳) نيل الاوطار ۷۰/۵.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ومنی ته دنيمي شپې نه وروسته او له سهار نه مخکي لاړ شي، تر څو دخلکو دبير وبار (ګڼي) نه مخکي لوی شيطان وولي[1]، او بيا يي پدي باره کي راغلي احاديث ذکر کړل.

۱۳- ښځه به دحج او عمري داحرام نه دوتلو لپاره به دخپل سر ويښتـه دګوتو دسرو په اندازه لنډوي، او دسر خرَيل (کَلَول) ورته روا ندي، او دګوتو سرونه دګوتي دلوړ (اوچت) بند نه پورته حصه ده.

په مغني کي وايي: دښځي لپاره شرعي طريقه دويښتانو لنډول دي، نه خريل، او پدي کي دعلماوو اختلاف نشته، ابن المنذر وايي: علماوو پدي اتفاق کړی دی، او دا ځکه چي خريل دښځي په حق کي مُثلَه[2] ګڼل کيږي، له ابن عباس نه روايت دی وايي: پيغمبر ﷺ فرمايي: «لَيْسَ عَلَى النِّسَاءِ حَلْقٌ، إِنَّمَا عَلَى

---

(۱) المجموع ۸/۱۲۵.

(۲) مُثلَه: دي ته وايي چي دچا يو اندام پري کړي شي، لکه غوږ، پوزه، او لاس.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



النِّسَاءِ التَّقْصِيرُ»[۱].

ترجمه: پر ښځو باندي (دويښتو) خريل نشته، پر ښځو باندي يوازي (دويښتو) لنډول دي.

علي رضي الله عنه وايي: نَهَى رَسُولُ اللهِ ﷺ أَنْ تَحْلِقَ الْمَرْأَةُ رَأْسَهَا[۲].

ترجمه: پيغمبر ﷺ ښځه دخپل سر خريلو (کلولو) نه منع کړيده. او احمد به ويل: ښځه دهري کوڅۍ نه دګوتي دسرونو په اندازه لنډوي، او دا دابن عمر، شافعي، اسحاق، او ابو ثور قول (نظر) دی. ابو داود وايي: له احمد نه مي اوريدلي چي پوښتنه څني وشوه چي آيا ښځه به ټول سر نه کموي؟ (يعني له ټولو نه به دګوتو دسرونو په اندازه اخلي؟) ويل يي: هو، ويښته به دسر مخي ته راټول کړي، او بيا به دويښتو دسرونو نه دګوتو دسرونو په اندازه اخلي او لنډوي به يي[۳].

(۱) ابو داود روايت کړی دی.

(۲) ترمذي روايت کړی دی.

(۳) المغني ۵/ ۳۱۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امـام نـووي وايي: علماء پدي خبره متفق دي چي ښځه دسر په خـريلو سـره مکلفـه نده، بلکه دهغي لپاره يوازي دسر ويښتـه لنډول دي... ځکـه (خـريل) دهغـي پـه حق کـي بدعـت دی او پـه هغه کي مُثله هم ده"[1].

۱۴- حائضـه ښځـه چي کله اخيرنی شيطان وولي او ويښتـه لنډ کړي، نـو لـه احرام نـه وځـي (حلالـيږي)، او کـوم شـيان چـي داحـرام پـه وخت کي پري حرام وو، هغه ورته روا کيږي، خو ميړه تـه لانـده روا، نـو هغـه بـه لـه ځان سـره ديـو ځـای کـيدلو تـه نـه پريږدي، تـر څـو چـي فرضـي طـواف وکړي، او کـه پـه دغـه حالت کـي جمـاع او يوځـايوالی ورسـره وکړي نو فديه پري لازميږي، او هغـه يـو پسـه پـه مکـه کـي حلالـول او دحـرم پـه مسـکينانو بـه يي تقسيموي، ځکه دا کار داول حلالوالي[2] نه وروسته شوی دی.

---

(۱) المجموع ۸/ ۱۵۰-۱۵۴.

(۲) اول حلالوالـی هغـه دی چي دفرضـي طواف نـه مخکـي ځـان لـه احرام نـه وباسـي، او دوهـم او اخيرنی حلالوالـی هغـه وخـت وي چـي فرضـي طـواف وکړي، او ټول مناسك او اعمال يي پوره شي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵- که ښځي ته دفرضي طواف نه وروسته حيض راشي، نو په هغي باندي درخصت طواف[(۱)] نشته، او کولای شي چي هر وخت وغواړي سفر وکړي، عائشه رضي الله عنها وايي: حَاضَتْ صَفِيَّةُ بِنْتُ حُيَيٍّ بَعْدَ مَا أَفَاضَتْ قَالَتْ: فَذَكَرْتُ ذَلِكَ لِرَسُولِ اللَّه ﷺ فَقَالَ: «أَحَابِسَتُنَا هِيَ؟» قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، إِنَّهَا قَدْ كَانَتْ أَفَاضَتْ وَطَافَتْ بِالْبَيْتِ، ثُمَّ حَاضَتْ بَعْدَ الإِفَاضَةِ، فَقَالَ رَسُولُ اللَّهِ ﷺ: «فَلْتَنْفِرْ إِذَنْ»[(۲)].

ترجمه: صفيه د حيي لور ورسته لدي چي فرضي طواف يي وکړ حيض يي راغی، نو دا خبره مي وپيغمبر ﷺ ته وکړه، نو ويي فرمايل: آيا هغه مونږ له سفر کولو نه راګرځوي؟ ورته ومي ويل: ای رسول الله هغې فرضي طواف کړی دی، او بيا يي دطواف نه وروسته حيض راغلی دی، نو ويي فرمايل: نو بيا خو دي سفر وکړي.

---

(۱) طواف وداع هغه طواف چي دمکي څخه دوتولو نه مخکي کيږي، او بيا وحرم ته نه راځي، او هغه ته (طواف وداع) هم وايي.(ژباړن)

(۲) بخاري او مسلم روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ابن عباس روايت دی وايي: وخلکو (حاجيانو) ته امر شوی چي اخيرنی کار به يي دکعبي طواف وي، خو له حايضي ښځي نه دا کار تخفيف شوی دی (يعني په هغه مکلفه نده)[1]،

او همدارنګه وايي: پيغمبر ﷺ حايضي ښځي ته دا اجازه کړي ده چي له طواف وداع نه مخکي له مکي نه ووځي، که يي فرضي طواف کړي وي[2].

امام نووي وايي: ابن المنذر ويلي دي: او اکثره علماء په همدي نظر دي، لکه: مالك، اوزاعي، ثوري، احمد، اسحاق، ابو ثور، ابو حنيفه او نور[3].

په مغني کي وايي: دا دښارونو[4] داکثره علماوو نظر دی.

او وايي: او دنفاس داره ښځي حکم دحايضي په شان دی، ځکه

---

(۱) بخاري او مسلم روايت کړی دی.

(۲) احمد روايت کړی دی.

(۳) المجموع ۲۸۱/۸.

(٤) دښارونو نه مراد: مکه، مدينه، کوفه، بصره، او بغداد دي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دنفاس او حيض احکام په فرضياتو او مُسقِطاتو[(۱)] کي يو شان دی[(۲)].

۱۶- ښځي ته له مَحرَم سره دمسجد نبوي زيارت دلمونځ او دوعا کولو لپاره مستحب دی، خو دپيغمبر ﷺ دقبر زيارت ورته روا ندی، ځکه دا دقبرونو له زيارت نه منع شويده.

شيخ محمد بن ابراهيم ال الشيخ رحمت الله عليه دسعودي عربستان مفتي وايي: او صحيح خبره داده چي ښځه دپيغمبر ﷺ له زيارت نه منع ده، له دوو وجهو نه:

اول: عام دلائل (پدي باره کي)، او منع چي کله عامه وي نو هيڅا ته يي تخصيص کول بيله دليل نه روا ندي، او (دمنعي علت (دکوم له وجهي نه چي ښځه له دقبرونو دزيارت نه منع شويده) پدي مساله کي موجود دی...[(۳)].

---

(۱) مُسقِطات هغه شيانو او اسبابو ته وايي چي کوم شرعي حکم ساقط کړي.(ژباړن)

(۲) المغني ۴۶۱/۳.

(۳) مجموع فتاوی الشيخ محمد بن ابراهيم ال الشيخ ۲۳۹/۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيخ عبد العزيز بن باز رحمت الله عليه دپيغمبر ﷺ دزيارت کولو په باره کي دهغه چا لپاره چي دمسجد نبوي زيارت وکړي وايي: او دا زيارت يوازي دنارينه وو لپاره روا دی، او دښځو لپاره دهيڅ قبر زيارت روا ندی، لکه څنګه چي دپيغمبر ﷺ نه راغلي دي چي هغه په هغه ښځو لعنت ويلی دی چي دقبرونو زيارت کوي، او په هغو کسانو چي په قبرونو باندي مسجدونه جوړوي، او څراغونو او شمعونه پکښي بلَوي.

اما مديني منوري ته پدي قصد تلل چي په مسجد نبوي کي لمونځ او دوعا او نور طاعتونه چي په نورو مسجدونو کي روا دي- وکړي، نو دا دټولو لپاره روا دي[۱].

---

(۱) التحقيق والايضاح لكثير من مسائل الحج والعمرة والزيارة على ضوء الكتاب والسنة ص۱۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نهم فصل

## دمشترک ژوند او ښنکاح دعقد ختمولو مربوط احکام

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: ﴿وَمِنْ آيَاتِهِ أَنْ خَلَقَ لَكُم مِّنْ أَنفُسِكُمْ أَزْوَاجًا لِّتَسْكُنُوا إِلَيْهَا وَجَعَلَ بَيْنَكُم مَّوَدَّةً وَرَحْمَةً إِنَّ فِي ذَٰلِكَ لَآيَاتٍ لِّقَوْمٍ يَتَفَكَّرُونَ﴾ [د الروم سورت: ۲۱ آيت].

ترجمه: او دالله جَلَّ جَلَالُهُ (دقدرت) له نښو ( څخه دادي) چي تاسو ته يي ستاسو له جنس نه ښځي پيدا کړي، تر څو له هغوی سره آرام پيدا کړی، او ستاسو په مينځ کي يي مينه او مهرباني پيدا کړيده، بيشکه پدي کي (دالله دقدرت) نښي دي دهغه کسانو لپاره چي (دالله په مخلوقاتو) کي فکر کوي.

او فرمايي: ﴿وَأَنكِحُوا الْأَيَامَىٰ مِنكُمْ وَالصَّالِحِينَ مِنْ عِبَادِكُمْ وَإِمَائِكُمْ إِن يَكُونُوا فُقَرَاءَ يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللَّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾ [د النور سورت: ۳۲ آيت].

ترجمه: او واده (نکاح) کړی بي خاونده ښځي او بي ښځو سړي، او نيک خويه مريان او مينځي خپل، که (هغوی) فقيران

(c) ketabton.com: The Digital Library



وي نو الله به له خپل فضل نه هغوی غنيان کړي، او الله دلوی فضل خاوند او ډير پوه دی.

امام ابن کثير رحمت الله عليه وايي: دا په واده کولو سره امر دی، او بعضي علماء هغه په هر هغه چا چي قدرت يي لري فرض ګڼي، او پدي حديث استدلال کوي: «يَا مَعْشَرَ الشَّبَابِ مَـنْ اسْتَطَاعَ مِنكُمْ الْبَاءَةَ فَلْيَتَزَوَّجْ وَمَنْ لَمْ يَسْتَطِعْ فَعَلَيْهِ بِالصَّوْمِ فَإِنَّـهُ لَـهُ وِجَاءٌ»، بخاري او مسلم له ابن مسعود نه روايت کړی دی.

تـرجمه: ای ځوانانو څوك چي له تاسو نه دجماع کولو توان (او دهغه مصارف او خرچه) ولري، نو واده دي وکړي، ځکه هغه سترګي (له حرامو نه) پټوي، او (دانسان) فرج او شرمګاه (له حرامو) نه ساتي، او څوك چي توان ونلري، نو روژه دي ونيسي، ځکه هغه دده لپاره (له حرامو نه) دساتني وسيله ده.

او بيا يي دا خبره وکړه چي واده دغني کيدلو سبب دی، ځکه الله ﷻ فرمايي: ﴿إِن يَكُونُوا فُقَرَاء يُغْنِهِمُ اللَّهُ مِن فَضْلِهِ﴾، او دابو بکر الصديق ﷺ دا وينا يي ذکر کړه چي وايي: دالله دامر اطاعت وکړی چي تاسو ته يي په نکاح کولو امر کړی، تر څو هغه خپله وعده تاسو ته پر ځای کړي، او غنيان به مو کړي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله ﷻ فرمايي: ﴿إِن يَكُونُوا فُقَرَاء يُغْنِهِمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾.

ابـن مسعود وايي: غنی او ثروت په نکاح کي ولټوئ، الله ﷻ فرمايي: ﴿إِن يَكُونُوا فُقَرَاء يُغْنِهِمُ اللّهُ مِن فَضْلِهِ وَاللّهُ وَاسِعٌ عَلِيمٌ﴾، ابـن جرير روايت کړی، او بغـوي هم لـه عمر ﷺ نـه همداسي روايت کړی دی[(۱)].

شيخ الاسلام ابـن تيمـه وايي: الله ﷻ مومنانو ته نکاح کول او طلاق ورکول، او د طلاق شوي ښځي سره دوباره نکاح کول رواکړيدي وروسته لـدي نـه چي بـل ميړه يـي کـړی وي، او نصرانيانو[(۲)] پـه يو بل باندي نکاح کول حرام کړيدي، او چا چي يـي نکـاح روا کـړي، نـو طـلاق يـي ورتـه نـدی روا کـړی، او يهـودو[(۳)] طلاق روا کړی، خـو هغـه طلاق شوي ښځه چي له بل ميړه سره يي نکاح کړي وي، نـو دهغـه نکـاح کـول داول مـيړه لـپاره روا نـه بولـي، او پـه نصـرانيانو کـي طلاق نشته، او يهودو

---

(۱) تفسير ابن کثير ۵/۹۴-۹۵، د دار الاندلس چاپ.
(۲) نصرانيان دعيسی ﷺ د دين پيروانو ته ويل کيږي.(ژباړن)
(۳) يهود دموسی ﷺ د دين پيروانو ته ويل کيږي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



كي كه ښځه له طلاق نه وروسته بل ميړه وكړي، نو بيا داول ميړه لپاره رجوع كول او دوباره دهغې په نكاح كول روا نه بولـي، او الله ﷻ مومنانو ته پورتني دواړه كارونه روا كړيدي[(١)].

امام ابن القيم رحمت الله عليه دجماع دفوائدو په باره كي چي دنكاح دمقصدونو نه يو مقصد دی داسي وايي: ځكه جماع په اصل كي د دريو اصلي مقصدونو لپاره ده:

اول: دنسل ساتل، او دانساني اصل ساتل تر څو هغه عدد پوره شي كوم چي الله ﷻ يي پدي دنيا پيدا كيدل غواړي.

دويم: دهغه اوبو ويستل كوم چي دننه پاتي كيدل يي ټول بدن ته زيان رسوي.

دريم: شهوت پوره كول، او لذت اخيستل، او د(نكاح) دنعمت په خوند پوهيدل.

نو په واده كي ډيري لويي ګټي شته چي له ټولو نه زياتي مهمي ګټي دادي:

په هغه كي له زنا ځخه ليري والی، او دحرامو ځخه دستر ګو ساتل دي.

---

(١) مجموع الفتاوی ٣٢/٩٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داولاد پيداکيدل، او دنسب ساتل.

دميړه او ښځي په مينځ کي سکون او روحي ارامي مينځ ته راتلل.

دميړه او ښځي تر مينځ تعاون او همکاری دصالح او نيکي کورنۍ جوړول، کومه چي داسلامي ټولني په جوړښت کي يوه مهمه خښته ده.

دميړه لخوا نه دښځي سرپرستي او حفاظت، او دښځي لخوا دکور کارونه کول، او په ژوند دخپلي وظيفي په صحيح او طبيعي ډول پر ځای کول، نه هغسي چي دښځي او ټولني دښمنان وايي چي ښځه دکور نه بهر کار کي دسړي سره يو شانتي شريکه ده، نو ځکه خو يي ښځه له کور نه وويستله، او له خپلي اصلي او طبيعي وظيفي نه يي محرومه کړه، او دهغي کار يي بل چا ته وسپاره، چي پدي ډول دکورنۍ نظم ګډوډ شي، او دميړه او ښځي په مينځ کي دغلط فهمي او مشکلاتو درامينځ ته کيدلو سبب وګرځي، چي دهغه په وجه په اکثره وختونو کي دوی په خپلو کي سره جلا شوي او بيل شوي، او يا خو دمشکلاتو او مصيبتونو او جنجالونو سره يو ځای پاته دي.

زمونږ استاذ محمد امين الشنقيطي وايي: پوه شه -الله دي ما او تا ته دهغه څه توفيق راکړي چي هغه يي خوښوي او

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرې راضي دی- چې دا دکفارو غلط او شوم نظر او داحساس، عقل، اسماني وحې، او دالهي شريعت مخالف فکر چې وايي ښځه او نر په ټولو احکامو او ډګرونو کې سره برابر دي، چې پدې نظر کې دومره فساد او دټولنې دنظم خرابوالی او ګډوډ کېدل دي چې له هيچا نه پټ ندي، مګر هغه چا نه چې دبصيرت سترګې يې الله ړندې کړې وي، او دا ځکه چې الله ﷻ ښځې ته خاص خويونه او صفتونه ورکړي چې په هغه سره کولای شي دټولنې دجوړولو په بيلابيلو اړخونو کې داسې برخه واخلي چې هغه دنورو لپاره نه ښايي، لکه دماشوم په ګېډه کېدل، لنګېدل، ماشوم ته شودې ورکول، داولادونو تربيه کول، دکور خدمت کول، او دکور کارونه لکه پخلی، اوړه ميشتول، جارو کول، او داسې نور، او دبشري ټولنې لپاره دداسې خدمتونو کول په کور کې دننه او د خپل پت، عزت، شرف، اخلاقو او انساني ارزښتونو په ساتلو سره دنارينه دهغه خدمتونو نه کم ندي کوم چې يې له کور نه بهر سرته رسوي. نو ددې جاهلانو او پست مشريه کافرانو او ددوی دپيروانو دا ګمان غلط دی چې وايي: ښځه دنارينه په شان دکور نه بهر دکار کولو حق لري، سره لدې چې ټولو ته معلومه ده- چې ښځه دحَمَل (چې ماشوم يې په ګېډه کې وي)، او ماشوم ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دشودو ورکولو او نفاس په وخت کي نشي کولای داسي کار وکړي چي معمولي تکليف پکښي کي وي، نو که چيري دا او ميړه يي له کور نه ووځي، نو دکور کارونه لکه دوړو ماشومانو ساتل، او دتي ماشوم ته شودي ورکول، دناريـنه لپاره چي کله له کار نه راشي دخوراك ښباك برابرول، دا ټول کارونه به ضايع او په ځای پاتي شي، او که چيري ددي کارونو لپاره يو کس په مزدوري راوستل شي نو دا کس به پدي کور کي دهماغه ښځي په شان (دبهر له کار نه) بيکاره پاتي شي له کوم نه چي دکور ښځه تښتيدلي وه، نو نتيجه به هماغه اولنۍ خبره وي، سربيره پر دي چي دښځي په وتلو او کار کولو کي ددين او اخلاقو او عزت بربادېده هم دي[1].

نو ای مسلماني خوري له الله نه وويـريږه او په دغه مغرضانه او چلناکه افکارو مه تيروځه، ځکه دهغو ښځو واقعيت کوم چي په دغسي افکارو غوليدلي ډير ښه شاهد دی ددي افکارو په فساد او ناکامي باندي، او تجربه ډير ښه دليل دی.

مسلماني خوري که ته ښه ځواني لري نو دواده کوښښ

(۱) اضواء البيان ۴۲۲/۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه، او هغه دتعليم دتکميل په وجه او يا دکار او وظيفي په وجه مه ځنډوه، بې شکه کامياب واده کې ستا نيبختي او وراحت دى، او هغه د هر تعليم او وظيفي عوض دى، او دهغه نه هيڅ تعليم او وظيفه ځومره چې اوچته هم وي نشي عوض کيدلاى. خپل دکور خدمت وکړه، او اولادونه تربيه کړه، او همدا ستا دژوند اساسي او ګټوره وظيفه ده. له هغه نه سوا په بل کار پسې مه ګرځه، ځکه بل هيڅ کار دهغه ځاى نه نيسي، او دصالح سړي سره دواده کولو نه ډډه مکوه، ځکه پيغمبر ﷺ فرمايي: «إِذَا جَاءَكُمْ مَنْ تَرْضَوْنَ دِينَهُ وَخُلُقَهُ فَزَوِّجُوهُ إِلاَّ تَفْعَلُوا تَكُنْ فِتْنَةٌ فِي الأَرْضِ وَفَسَادٌ عَرِيضٌ»(۱).

ترجمه: که تاسو ته داسي څوك (دنکاح کولو لپاره) راشي چي ديانت او اخلاق يي ستاسو خوښ وي، نو هغه ته ښځه ورکړى، که دا کار ونکړى نو په ځمکه کي به دلوى فساد او فتني سبب شي.

**دښځي په واده کي دهغي نظر اخيستل:**

کومه ښځه چي په نکاح ورکول کيږي له دريو حالاتو نه بهر

---

(۱) ترمذي روايت کړى، او هغه يي دشواهدو په لړولو سره حَسَن بللى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه وي: یا به ډېره وړه پېغله[۱] وي، او یا به بالغه پېغله وي، او یا به واده کړې وي، او دهري یوي لپاره بېل حکم دی:

۱- وړه پېغله نجلۍ: پدي کي دعلماوو اختلاف نشته چي پلار یې کولی شي چي بېله دهغې د اجازې نه هغه واده کړي، ځکه چي هغه دنظر خاوند نده، او ابو بکر الصدیق ﷺ خپله لور عائشه رضی الله عنها وپیغمبر ﷺ ته په نکاح کړه پداسي حال کي عمر یې شپږ کاله وو، او دنهو کالو وه چي ورسره کوروالی وشو[۲].

امام شوکاني وایي: نومړي حدیث پدي دلالت کوي چي پلار ته روا دي خپله لور له بلوغ نه مخکي په نکاح ورکړي، او همدارنګه وایي: او پدي کي دلیل دی چي دوړې انجلۍ لوی سړي سره نکاح روا ده، او په همدي سره بخاري عنوان ایښی او بیا یې دعائشي مخکینی حدیث ذکر کړی دی، او په فتح الباري کي یې پدي خبره دعلماوو اجماع نقل کړې ده[۳].

---

(۱) پېغله نجلۍ هغه ده چي چا ورسره جماع نه وي کړي، او په فقهي اصطلاح کي (باکره) ورته وایي.(ژباړن)

(۲) بخاري او مسلم روایت کړی دی.

(۳) نیل الاوکار ۶/۱۲۸-۱۲۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مغني کي وايي: ابن المنذر ويلي دي: ټول هغه علماء چي پري خبر يو پدي خبره متفق دي چي پلار ته دوړي نجلۍ په نکاح ورکول مناسب سړي ته روا دي[۱].

زه وايم: او دا چي ابو بكر الصديق ﷺ عائشه رضي الله عنها دشپږ کلنۍ په عمر کي پيغمبر ﷺ ته په نكاح كړه، پدي كي په هغو كسانو باندي ډير شديد رد دى كوم چي دوړي نجلۍ ورکول ولوى سړي ته ناروا او ناوړه كار بولي او په بده سترګه ورته ګوري، چي دا يوازي ددوى دجهالت او بدنيتۍ علامه ده.

۲- بالغه پيغله: دهغي له اجازي نه بغير نه په نكاح كيږي، او چيوالى دهغي اجازه ده، لكه چي پيغمبر ﷺ فرمايي: «وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ» قَالُوا: يَا رَسُولَ الله، فَكَيْفَ إِذْنُهَا؟ قَالَ: «أَنْ تَسْكُتَ»[۲].

ترجمه: پيغله نه په نكاح كيږي تر څو اجازه تري واخيستل شي، صحابه وو وويل: اى رسول الله دهغي اجازه به څنګه وي؟ ويي فرمايل: چي چوپه پاتي شي. نو اجازه اخيستل يي حتمي

(۱) المغني ۶/۴۸۷.
(۲) بخاري اومسلم روايت كړى دى.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي، کـه څه هـم پـلار يـي پـه نکـاح ورکـړي، او همـدا دعلمـاوو ددوو قولونو نه صحيح قول دی.

علامه ابـن القـيم وايـي: او دا داکثرو علماوو قول دی، او دا دابو حنيفه مذهب او پـه يـوه روايـت داحمـد قـول دی، او همـدا قـول مونـږ دالله ديـن ګڼـو، او پـه بـل قـول بـاور نلـرو، او همـدا دپيغمبر ﷺ دحکم او امر ونهي مطابق دی[(۱)].

۳- واده شـوي ښځـه[(۲)]: دهغـي بـيله اجازي په نکاح ورکول صحيح نـدي، او اجـازه يـي پـه ويَـلو سره ده، داسي نه لکه پيغله چي اجازه يي په سکوت او چوپتيا سره وي.

پـه مغنـي کـي وايـي: دعلمـاوو پـه مينځ کي هيڅ اختلاف نه ګورو چي دواده شـوي ښځـي اجـازه پـه ويَـلو سـره ده، ځکـه ژبـه دزړه نـه تعبـير کـوي، او همـاغـه معتـبره پـه هر هغه ځای کي چي اجازي اخيستلو ته ضرورت وي[(۳)].

شـيخ الاسـلام ابن تيميه رحمت الله عليه وايي: نه ښايي چي

---

(۱) زاد المعاد في هدي خير العباد ۹۶/۵.

(۲) واده شـوي ښځـه نـه مقصد هغـه ښځـه ده چي جمـاع ورسـره شوي وي، او هغه ته په فقهي اصطلاح کي (ثيبه) وايي.(ژباړن)

(۳) المغني ۴۹۳/۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوك ښځه دهغې داجازې نه بغير په نكاح وركړي، لكه څنګه چي پيغمبر ﷺ امر كړى دى، كه يي خوښه نه وه، نو په زوره به په نكاح نه وركول كيږي، خو وړه پيغله پلار كولاى شي چي بيله اجازي يي په نكاح وركړي، او دهغي رايه نشته، او بالغه واده شوي ښځه بيله اجازي په نكاح وركول ناروا دي كه پلار وي او كه بل څوك، او پدي سره دمسلمانانو اجماع ده، او همدارنګه بالغه پيغله هم بيله دهغې داجازي نه په نكاح وركول دپلار او نيكه نه بغير بل چا ته روا ندي دټولو مسلمانانو په اجماع سره، او دپلار او نيكه لپاره بهتره ده چي اجازه يي واخلي.

علماء دواده شوي ښځي په اجازه اخيستلو كي اختلاف لري چي آيا فرض ده او كه مستحب؟

صحيح داده چي فرض ده، او دښځي په ولي[1] فرض دي چي دهغي په نكاح وركولو كي دالله ﷻ وويريږي، او وګوري چي كوم سړي ته چي يي وركوي ايا دهغي سره مناسب دى او كه نه؟ ځكه ښځه خو دهغې د مصلحت لپاره وده وي، نه دځان

(١) دښځي ولي هغه څوك دى چي دښځي واك او صلاحيت ورسره وي، لكه پلار، نيكه او يا ددوى په شان نور.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمصلحت لپاره[۱].

**دښځي په نکاح ورکولو کي دولي شرط والی او دهغه حکمت:**

ښځي ته دمناسب خاوند داختيار حق ورکول پدي معنی نـدی چي هغه هر رنګي وغواړي هماغسي سړي سره واده وکړي، که څه هم پکي ددي دکورنۍ او يا خپلوانو لپاره ضرر هم وي، بلکه دا په خپل ولي پوري تړلې ده چي دهغې داختيار په هکله به غور کوي او په کار کي به ورته لارښوونه کوي، او دنکاح تړلو کار به يي په غاړه اخلي، نو دا به پخپله دځان نکاح نه تړي، که يي داسي وکړه نو نکاح يي باطله ده، لکه څنګه چي دعائشي رضي الله عنها په حديث کي راغلي دي: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ نَكَحَـتْ نَفْسَـهَا بِغَيْرِ إِذْنِ وَلِيِّهَا فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ فَنِكَاحُهَا بَاطِلٌ..».

ترجمه: هره هغه ښځه چي دولي له اجازي بغير خپل ځان په نکاح کړي، نو نکاح يي باطله ده، نکاح يي باطله ده، نکاح يي باطله ده. ترمذي وايي: دا حديث حَسَن دی، او ترمذي، ابو داود، نسائي او ابن ماجه کي راغلي دي: «لاَ نِكَاحَ إِلاَّ بِوَلِيٍّ».

---

(۱) مجموع الفتاوی ۳۲/۳۹-۴۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: نکاح بيله ولي نه نشته (صحت نلري)، نو دا دوه حديثه او کوم چي په همدي معنی راغلي دي پدي دلالت کوي چي نکاح بيله ولي نه صحيح نده، ځکه اصل په نفي کولو کي د(شرعي) صحت نفي کول دي، او ترمذي وايي: پدي حديث علماوو عمل کړی، لکه عمر، علي، ابن عباس، ابو هريره او نور، او همدا ډول دتابعينو دفقهاوو نه نقل شوي دي چي وايي: بيله ولي نکاح صحت نلري، او دا دشافعي، احمد او اسحاق قول دی[۱].

**په واده کي داعلان لپاره دښځو دريي وهل:**

دښځو لپاره دريي وهل مستحب دي تر څو دواده اعلان وشي او خبر يي خپور شي، او دا به يوازي دښځو په مينځ کي وي، او ساز او سرود اسباب، او سندرو ويونکو ښځو آوازونه به ورسره نه وي، خو دښځو لخوا دشعر او ترانو ويل پدي مناسبت سره چي نارينه يي وانه وري پروا نلري، پيغمبر ﷺ فرمايي: «فَصْلُ مَا بَيْنَ الْحَلالِ وَالْحَرَامِ الدُّفُّ وَالصَّوْتُ فِي

---

(۱) المغني ۶/۴۴۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



النِّکَاحِ»[۱].

ترجمه: د حلال او حرامو په مينځ کي توپير او علامه په واده کي دريي وهل او آوازونه ويل دي.

شوکاني وايي: دا ددي دليل دی چي په واده کي دريي وهل او په لوړ اواز سره څه شيان ويل لکه: مونږ تاسو ته راغلو، مونږ تاسو ته راغلو او داسي نور، روا دي، خو نه هغه سندري چي شر تري پاريږي، او دښکلا او ناروا شيانو او يا شرابو توصيف او بيان پکښي کي وي، چي دا په واده او بيله واده په بل ځای کي هم حرام دي، او همدارنګه نور ناروا لهو ولعب هم حرام دي[۲].

ای مسلماني خوري دواده لپاره دسرو زرو او جامو په اخيستلو کي له حده تيری مکوه، ځکه دا د هغه اسراف څخه شميرل کيږي له کوم نه چي الله ﷻ منع کړيده، او فرمايلي دي چي دهغه خاوندان نه خوښوي، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلاَ تُسْرِفُوا

---

(۱) بخاري، ترمذي، ابن ماجه، او نسائي روايت کړی، او ترمذي هغه حَسَن بللی دی.

(۲) نيل الاوطار ۶/۲۰۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



إِنَّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُسْرِفِينَ﴾.

ترجمه: او اسراف مکوی، بیشکه هغه اسراف کونکي نه خوښوي. نو تا ته ښايي چي له اعتدال نه کار واخلي او له بيځايه فخر او سيالي کولو نه ځان وساتي.

**پر ښځي دميړه اطاعت کول فرض، او نافرماني کول حرام دي:**

مسلماني خوري په تا دميړه اطاعت کول په نيکو کارونو کي فرض دي، ابو هريره ﷺ وايي چي پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: «إِذَا صَلَّتْ الْمَرْأَةُ خَمْسَهَا وَصَامَتْ شَهْرَهَا وَحَفظَتْ فَرْجَهَا وَأَطَاعَتْ زَوْجَهَا دَخَلَتْ الْجَنَّةَ مِنْ أَيِّ أَبْوَابِ الْجَنَّة شَاءَتْ»[(۱)].

ترجمه: کومه ښځه چي خپل پنځه وخته لمونځ وکړي، او خپله فرضي مياشت روژه ونيسي، او دخپل ميړه اطاعت وکړي، او دخپل پت حفاظت وکړي، نو جنت به د هري دروازي نه چي وغواړي ننوځي.

له ابو هريره عنه رضي الله نه روايت دی چي پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: «لاَ يَحِلُّ لِلْمَرْأَةِ أَنْ تَصُومَ وَزَوْجُهَا شَاهِدٌ إِلاَّ بِإِذْنه

---

(۱) ابن حبان په خپل (صحيح) کي روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَلاَ تَأْذَنَ فِي بَيْتِه إلاّ بإِذْنِه»[(۱)].

تـــرجمه: ښځې تـه دميړه په حضور کې روژه نيول روا ندي، مګر دهغـه پـه اجـازه سـره، او دمـيړه کـور تـه بـه څوك نه پرېږدي مګر دميړه په اجازه سره.

او لـه ابـو هريـره ﷺ نـه روايـت دی چې پيغمبر ﷺ فرمايي: «إذَا دَعَـــا الرَّجُلُ امْرَأَتَهُ إلَى فِرَاشِهِ فَلَمْ تَأْتِه فَبَاتَ غَضْبَانَ عَلَيْهَا لَعَنَتْهَا الْمَلاَئكَةُ حَتَّى تُصْبِحَ»[(۲)].

ترجمه: کلـه چې ميړه خپله ښځه وخپل بستر ته وغواړي، او هغـه ورتـه رانشي، او ميړه يې ترينه په خفګان شپه تيره کړي، نو ملائکې به پر هغې باندې تر سهاره پورې لعنت وايي.

او لـه ابـو هريـره ﷺ نـه روايـت دی چې پيغمبر ﷺ فرمايي: «وَالَّـــذِي نَفْســـي بِيَدِه مَا مِنْ رَجُلٍ يَدْعُو امْرَأَتَهُ إِلَى فِرَاشِهِ فَتَأْبَى عَلَيْهِ إلاَّ كَانَ الَّذِي فِي السَّمَاءِ سَاخِطًا عَلَيْهَا حَتَّى يَرْضَى عَنْهَا».

تـــرجمه: زمـا دې پـه هغـه ذات قسم وي چې زما نفس (روح)

---

(۱) بخاري او مسلم روايت کړی دی.
(۲) بخاري او مسلم او نورو روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يي په لاس کي دی، داسي سړی به نه وي چي خپله ښځه وخپل بستر ته راوبولي، او هغه يي ونه مني، مګر هغه ذات چي په اسمان کي دی پر هغې باندي به په غضب او قهر وي تر څو چي ميړه څني راضي شي.

او په ښځي باندي ميړه حق لري چي د کور سرپرستي او خدمت يي وکړي، او دهغه بي اجازي له کور نه ونه وځي، پيغمبر ﷺ فرمايي: «وَالْمَرْأَةُ رَاعِيَةٌ فِي بَيْتِ زَوْجِهَا وَمَسْئُولَةٌ عَنْ رَعِيَّتِهَا»[۱].

ترجمه: او ښځه دميړه د کور سرپرسته ده او دخپل لاس لاندي امورو نه مسئوله ده، او همدارنګه ميړه پر ښځي حق لري چي د کور کار ورته وکړي او خادمي راوستلو ته يي اړ نکړي، چي بيا دهغي سره په تکليف وي، او دهغي په وجه ځان او يا اولاد ته يي خطر متوجه شي.

شيخ الاسلام ابن تيميه رحمت الله عليه وايي: دالله ﷻ دا قول: ﴿فَالصَّالِحَاتُ قَانِتَاتٌ حَافِظَاتٌ لِّلْغَيْبِ بِمَا حَفِظَ اللَّهُ﴾ [د النساء سورت: ۳٤ آيت].

---

(۱) بخاري او مسلم روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: نو صالحي او نيکي ښځي (هغه دي کومي چي دميړه) اطاعت کونکي (فرمان وړونکي ، او دالله په (توفيق او حفاظت سره (دميړه) په غياب کي (دهغه دمالونو او اسرارو) ساتونکي وي. دا آيت دلالت کوي پدي باندي چي پر ښځي دميړه اطاعت فرض دی، لکه دکور خدمت کول، ورسره سفر کول، ځان ورته په هر وخت کي دهغه طلب ته تيارول، او داسي نور، او د پيغمبر ﷺ سنت هم په همدي دلالت کوي[۱].

علامه ابن القيم وايي: کوم کسان چي په ښځي باندي دميړه خدمت فرض بولي داسي استدلال کوي: چي دا کار دالله ﷻ دخطاب او دي آيت نازولو په وخت دخلکو په مينځ کي دعرف او عادت سره سم پيژندل شوی کار وو، اما دښځي لخوا دکور کار نه کول، او دا چي ميړه يې خدمت وکړي، او جارو وهل، غنم اوړه کول، اوړه ميشته ول، کالي وينځل، او دکور فرشول، او دکور نور کارونه کول، نو دا دمُنکَراتو او ناوړه کارونو څخه ګڼل کيږي، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلَهُنَّ مِثْلُ الَّذِي عَلَيْهِنَّ بِالْمَعْرُوفِ﴾ [د البقره سورت: ۱۲۸ آيت].

---

(۱) مجموع الفتاوی ۳۲/ ۲۶۰-۲۶۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترجمه: او له ښځو لپاره له عرف او عادت سره سم هماغه شان حقوق دي کوم چي په هغوی دي، او فرمايي: ﴿الرِّجَالُ قَوَّامُونَ عَلَى النِّسَاءِ﴾ [د النساء سورت: ۳٤ آيت].

ترجمه: نارينه په ښځو باندي حاکم دي. نو که ښځه د ميړه خدمت ونکړي، بلکه ميړه دهغي خدمت وکړي نو بيا به ښځه پده باندي حاکمه وي. او بيا وايي: بلکه الله ﷻ په ميړه باندي دښځي نفقه او کالي او ځای ورکول دهغې سره دمشترك ژوند او دهغې دخدمت په مقابل کي فرض کړيدي کوم چي ميړه يي دښځي نه لاس ته راوړي، فرض کړي ده. او بل دا چي هغه عقدونه چي له شرطونو نه خالي وي، نو هغه دعرف او عادت سره سم اجراء کيږي، او (دنکاح په باره کي) عرف او عادت دادی چي ښځه به خدمت او دکور دننه کارونه په غاړه اخلي. او بيا (دخپلي وينا په ادامه کي) وايي: چي پدي کار کي دلوی حيثيت والا او ټيټ حيثيت والا، او دمالداري او غريبي ښځي په مينځ کي فرق نشته، ځکه چي فاطمه رضي الله عنها چي دټولو ښځو نه زيات شرافت ورپه برخه وو، دخپل ميړه خدمت يي کاوه، او پيغمبر ﷺ ته يي دخدمت او کار له وجهي شکايت

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړ، خو هغه يې شکايت وانه وريدی (۱).

سوال: که ښځه وګوري چې ميړه يې ورسره خوښ ندی، او دا غواړي چې ورسره پاتې شي، نو دا به ددي مشکل دحل لپاره څه کوي؟

جواب: الله ﷻ فرمايي: ﴿وَإِنِ امْرَأَةٌ خَافَتْ مِن بَعْلِهَا نُشُوزًا أَوْ إِعْرَاضًا فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ﴾ [د النساء سورت: ۱۲۸ آيت].

ترجمه: که کومه ښځه په خپل ميړه پوه شي چې سرکښي ورسره کوي او مخ ځني ګرځوي (بې پروايي ورسره کوي)، نو څه باك نشته که هغوی په خپلو کي سره روغه وکړي، او روغه (له تېولو نه) بهتره ده.

حافظ ابن کثير وايي: که دښځي سره دا ويره وي چې ميړه به نفرت ځني وکړي او يا مخ ځني وګرځوي، نو کولای شي چې له خپلو بعضو حقوقو نه لکه نفقه يا جامي يا شپه تيرول او يا داسي نورو نه تيره شي، او ميړه ته هم روا ده چې ورنه ويې مني، نه ښځي ته پدي کي څه باك شته او نه دميړه لپاره په

(۱) الهدي النبوي لابن القيم ۵/۱۸۸-۱۸۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



قبلولو کي څه باك شته، څکه الله ﷻ فرمايي: ﴿فَلاَ جُنَاْحَ عَلَيْهِمَا أَن يُصْلِحَا بَيْنَهُمَا صُلْحًا وَالصُّلْحُ خَيْرٌ﴾.

ترجمه: نو څه باك نشته که هغوی په خپلو کي سره روغه وکړي، او روغه (له تولو نه) غوره ده.، او دروغي دغوره والي معنی داده چي هغه له جدا کيدو نه غوره ده... او بيا (ابن کثير دسوده بنت زمعه رضی الله عنها قصه ذکر کړه، چي کله مشکل لوی شو او پيغمبر ﷺ له هغي نه دجدا کيدو اراده وکړه، نو هغې روغه ورسره وکړه، چي خپله شپه به وعائشي رضی الله عنها ته ورکړي، خو له هغي نه به نه جدا کيږي، نو پيغمبر ﷺ دا روغه تري ومنله، او هغه يې له ځان سره وساتله[(۱)].

سوال: که چيري ښځه له ميړه سره خوښه نه وي او غواړي ځني جلا شي نو څه بايد وکړي؟

جواب: الله ﷻ فرمايي: ﴿فَإِنْ خِفْتُمْ أَلاَّ يُقِيمَا حُدُودَ اللّهِ فَلاَ جُنَاحَ عَلَيْهِمَا فِيمَا افْتَدَتْ بِهِ﴾ [د البقره سورت: ۱۲۹ آيت].

ترجمه: که وويريدلاست چي دوی دواړه (ښځه او ميړه) به

---

(۱) تفسير ابن کثير ۴۰۶/۲.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله ﷻ احکام په ځای نکړي، نو کوم عوض چي ښځي (دطلاق په مقابل کي ميړه ته) ورکړی دی، دهغه (په اړه) دوی دواړو لره څه ګناه نشته.

حافظ ابن کثير په خپل تفسير کي وايي: که چيري دښځي او ميړه په مينځ اختلاف راشي، او ښځه دميړه حقوق په ځای نکړي، او بد يي راشي، او ګډ ژوند ورسره ګران شي، نو دا کولای شي چي ميړه ته د مهر نه څه ورکړي او ځان ځني خلاص کړي، او پدي باندي هغه ته ورکولو کي څه باك نشته، او نه يي په منلو کي پر ميړه څه باك شته[۱]، او دي ته (په شريعت کي) خُلع[۲] وايي.

سوال: که ښځه له ميړه نه بيله کوم عذر جلا والی وغواړي، نو هغې ته څه ګناه شته؟

جواب: له ثوبان ؓ نه روايت دی چي پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: «أَيُّمَا امْرَأَةٍ سَأَلَتْ زَوْجَهَا طَلاَقَهَا مِنْ غَيْرِ مَا بَأْسٍ فَحَرَامٌ

(۱) تفسير ابن کثير ۴۸۳/۱.

(۲) خُلع دي ته وايي چي ښځه دپيسو او يا بل عوض په مقابل کي له ميړه نه طلاق واخلي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَلَيْهَا رَائِحَةُ الْجَنَّةِ»(۱).

ترجمه: کومه ښځه چي بيله کوم سبب او عذر نه له خپل ميړه نه طلاق وغواړي، نو دجنت بوی په هغي باندي حرام دی.

او دا ځکه چي طلاق هغه حلال کار دی چي الله ﷻ يي نه خوښوي، او يوازي به دضرورت او حاجت په وخت کي په هغه عمل کيږي، او بيله ضرورته هغه مکروه دی، ځکه چي له هغه نه داسي ضررونه او مشکلات مينځ راځي چي ټولو ته ښکاره دي، او هغه ضرورت چي دهغه په وجه ښځه کولای شي طلاق وغواړي هغه دادی چي ميړه ددي (شرعي) حقوق په ځای نکړي، او دښځي په پاتي کيدو کي دهغي لپاره ضرر وي، الله ﷻ فرمايي: ﴿فَإِمْسَاكٌ بِمَعْرُوفٍ أَوْ تَسْرِيحٌ بِإِحْسَانٍ﴾ [د البقره سورت: ۲۲۹ آيت].

ترجمه: نو (پر ميړه) په ښه وجه سره (دښځي) ساتل، او يا په نيکۍ سره (دهغي) پريښودل پکار دي، ﴿لِّلَّذِينَ يُؤْلُونَ مِن نِّسَآئِهِمْ تَرَبُّصُ أَرْبَعَةِ أَشْهُرٍ فَإِنْ فَآؤُوا فَإِنَّ اللّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ وَإِنْ

---

(۱) ابو داود او ترمذي روايت کړی، او ابن حبان په خپل (صحيح) کي صحيح ګڼلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَــزَمُواْ الطَّلاَقَ فَإِنَّ اللّهَ سَمِيعٌ عَلِيمٌ﴾ [د البقره سورت: ٢٢٦-٢٢٧ آيتونه].

تــرجمه: دهغـو کسـانو لپاره چي دخپلو ښځو (دجماع کولو نـه) قسـم کـوي، ښايـي څلور مياشـتي انـتظار وکړي، نـو که يي رجوع وکړه (او سره يو ځاى شول)، نو الله ﷻ ښه بخښونکى او ډير مهربان دى، او که يي دطلاق اراده او قصد وکړو نو الله ښه اوريدونکى او ښه عالم دى.

**دنکاح دعقد دختميدلو وروسته احکام:**

دښځـي او مـيړه په مينـځ کـي جـلا والى دوه قسمه دى: اول په ژونـد کـي جـلا والـى، او دوهـم دمرګ په وجه جلا والـى، او په دواړو حالـتونو کـي پر ښـځي عِدَت لازم دى، او عدت دادى چي يـوه معيـنه مـوده (څلـور مياشـتي دجداوالـى وروسـته) بـه انتظار کـوي، او پـدي کـي حکمـت دادى چي پـه هغـه کـي ديـو مکملـي نکـاح دختميدو حد او اندازه ده، او همدارنګه داولاد نه دښځي درَحِـم[(١)] پاکوالى دى، تر څو نوى ميړه يي جماع ورسره ونکړي،

---

(١) دښځـي (رَحِـم) (يـا بچـى دانـه) هغـه ځـاى دى پـه کـوم کـي چـي دماشـوم پيدا ينبـت وي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي په نتيجه کي به يي اشتباه مينځ ته راشي او داولاد نسب به ضايع شي، او په هغه کي دنکاح دمخکيني عقد او دجدا شوی ميړه دحق احترام، او دجدا والی په وجه دخفګان او تاثُر اظهار هم دی.

**عدت څلور قسمه دی:**

اول قسم: دحمل داره ښځي عدت: دهغي عدت دماشوم په پيدا کيدلو سره پوره کيږي، رجعي طلاق[1] يي وي او که بائن، په ژوند کي جلا شوي وي، او که دميړه دمرګ په وجه، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَأُوْلَاتُ الاحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ [د الطلاق سورت: ٤ آيت].

ترجمه: او دحمل داره ښځو عدت تر هغه پوري دی چي ماشوم وزيږوي.

دويم قسم: دهغه طلاقه شوي ښځي عدت چي حيض لري: او دهغي عدت دري مياشتي دی، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَالْمُطَلَّقَاتُ يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلاَثَةَ قُرُوَءٍ﴾ [د البقره سورت: ٢٢٨

(١) (رجعي طلاق) هغه دی چي دهغه وروسته ميړه ښځي ته بيله نوي نکاح رجوع کولای شي، او (بائن طلاق) هغه دی چي ميړه ښځي ته بيله نوي نکاح نه رجوع نشي کولای.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



آيت].

ترجمه: او طلاق شوي ښځي به دري حيضه انتظار کوي.

دريم قسم: دهغي ښځي عدت چي حيض يي نه وي: او هغه ددوو ښځو په حق کي وي، يو هغه وړه نجلۍ چي حيض يي لانه وي راغلی، او بله هغه زړه ښځه چي دحيض راتلو اميد يي نه وي، نو الله ﷻ ددي دواړو عدت داسي بيان کړيدی: ﴿وَاللاَّئِي يَئِسْنَ مِنَ الْمَحِيضِ مِن نِّسَائِكُمْ إِنِ ارْتَبْتُمْ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلاَثَةُ أَشْهُرٍ وَاللاَّئِي لَمْ يَحِضْنَ﴾ [د الطلاق سورت: ٤ آيت].

ترجمه: او ستاسو هغه ښځي چي له حيض نه نا اميده وي، که تاسو (دهغوی په باره کي) په شك کي ياست، نو دهغوی عدت دري مياشتي دی، او دهغو ښځو چي حيض نه ورته راځي، يعني دهغوی عدت هم همداشان دی.

څلورم قسم: هغه ښځه چي ميړه يي مړ شوي وي: الله ﷻ يي عدت داسي بيان کړی دی: ﴿وَالَّذِينَ يُتَوَفَّوْنَ مِنكُمْ وَيَذَرُونَ أَزْوَاجًا يَتَرَبَّصْنَ بِأَنفُسِهِنَّ أَرْبَعَةَ أَشْهُرٍ وَعَشْرًا﴾ [د البقره سورت: ٢٣٤ آيت].

ترجمه: او کوم کسان چي له تاسو نه وفات کيږي، او ښځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترينه پاتې شي، ښځې به يې ځلور مياشتې او لس ورځې انتظار کوي. نو دا حکم عام دی دهغو ښځو په باره کې چې خلوت ورسره شوی وي او که نه، وړه وي او که لويه (بالغه)، او حملداره ښځه پدې حکم کې نده شامله، ځکه هغه پدې ايت سره بيله شوه: ﴿وَأُوْلَاتُ الاحْمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعْنَ حَمْلَهُنَّ﴾ [د الطلاق سورت: ٤ آيت].

ترجمه: او دحمل داره ښځو عدت تر هغه پورې دی چې ماشوم وزيږوي[۱].

**کوم شيان چې عدت والا ښځې ته حرام دي:**

**۱- دهغې دغوښتلو[۲] حکم:**

الف- هغه ښځه چې طلاق يې رجعي وي: دعدت والا ښځې غوښتل او طلبګاري کول که په صراحت وي او که په اشاره، حرام دي، ځکه چې هغه دميړه لرونکې ښځې حکم لري، نو هيڅ ته دهغې طلبګاري روا نده، ځکه هغه لاتر دې وخته پورې دخپل اول ميړه په نکاح کې ده.

---

(۱) الهدي النبوي دابن القيم تاليف ۵۹۴/۵-۵۹۵، تحقيق شوی چاپ.
(۲) دغوښتلو نه مقصد له هغې نه دنکاح طلبګاري کول دي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ب- هغه ښځه چي طلاق يي رجعي نه وي: دهغي طلبګاري کول صراحتاً حرام دي، او اشارتاً روا دي، الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلاَ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ فِيمَا عَرَّضْتُم بِهِ مِنْ خِطْبَةِ النِّسَاء﴾ [د البقره سورت: ۲۳۵].

ترجمه: او په تاسو باندي څه ګناه نشته دښځو په هغه طلبګاري کي چي تاسو په اشاره او کنايه سره کړيده. او تصريح داده چي په نکاح کولو کي خپله خوښه او رغبت ښکاره کړي، مثلاً ووايي: زه غواړم ستا سره واده وکړم، ځکه چي کيداى شي دښځي حرص او خوښه په نکاح کي ددي سبب شي چي دا دخپل عدت دپوره کيدو دعوه وکړي مخکي لدينه چي هغه فعلاً پوره شوى وي، خو اشاره او کنايه داسي نه وي، ځکه په هغه کي دنکاح کولو صراحت نه وي شوى، ځکه څه ناروا پکي نشته، او دمخکيني آيت (مفهوم مخالف)[1] هم په همدي دلالت

---

(۱) مفهوم مخالف: په کلام کي دذکر شوى حکم مخالف حکم ته وايي، مثلا په ايت کي ددي خبري بيان شوى دى چي که دعدت لرونکي ښځي طلبګاري په کنايه سره روا ده، ددي حکم مخالف حکم (يعني مفهوم مخالف) چي په آيت کي ندى ذکر شوى دادى: چي په صريح ډول دنومړي ښځي طلبګاري روا نده.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. او داشاري مثال دادی چي ووايي: ستا غوندي ښځه مي خوښيږي. او د غير رجعي طلاق والا ښځي ته روا دي چي دکنايي طلبګار ته جواب په اشاره سره ورکړي، خو دصراحت طلبګار ته جواب ويل روا ندي، اما هغه ښځي چي طلاق يي رجعي وي هغه به نه په صراحت او نه اشاره دطلبګار غوښتني ته جواب وايي.

٢- دعدت والا پر ښځي دنکاح عقد تړل ناروا دي: الله ﷻ فرمايي: ﴿وَلاَ تَعْزِمُواْ عُقْدَةَ النِّكَاحِ حَتَّىَ يَبْلُغَ الْكِتَابُ أَجَلَهُ﴾ [د البقره سورت: ٢٣٥ آيت].

ترجمه: او نکاح مه تړی تر هغه پوري چي تاکلی (عدت) خپلي اخيري نيتي ته ورسيږي.

ابن کثير وايي: يعني: نکاح مه تړی تر هغه پوري چي عدت ختم شي، او علماوو پدي اجماع کړيده چي دعدت په وخت کي نکاح تړل صحيح ندي (١).

(١) تفسير ابن کثير ١/٥٠٩.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**دوه مسالې:**

اوله مساله: کومه ښځه چي له صحيح خلوت[۱] نه مخکي طلاقه شي پر هغې باندي عدت نشته، الله ﷻ فرمايي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا نَكَحْتُمُ الْمُؤْمِنَاتِ ثُمَّ طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ فَمَا لَكُمْ عَلَيْهِنَّ مِنْ عِدَّةٍ تَعْتَدُّونَهَا﴾ [د الاحزاب سورت: ٤٩ آيت].

ترجمه: ای مومنانو کله چي مومني ښځي په نکاح کړی او بيا طلاق ورکړی مخکي لدينه چي ورسره يوځای شی، نو تاسو لره په هغوی باندي کوم عدت نشته چي تاسو دهغه شمار وکړی او حساب يي کړی.

ابن کثير په خپل تفسير کي وايي: دا دعلماوو په مينځ کي يوه اتفاقي خبره ده چي ښځه که دخلوت نه مخکي طلاقه شي پر هغي باندي عدت نشته، نو کولای شي چي سمدستي دچا

---

(۱) صحيح خلوت: دي ته وايي چي ميړه دښځي سره له نکاح نه وروسته په يوه کوټه کي داسي يوازي شي چي بل څوک موجود نه وي، او دجماع کولو څه ممانعت هم نه وي، نو داسي خلوت دجماع حکم لري، که څه هم جماع يي نه وي کړي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره چي وغواړي واده وکړي.

<u>دوهمه مسأله</u>: کومه ښځه چي له خلوت نه مخکي طلاقه شي او مهر یي تعین شوی وي، نو هغه دنیم مهر اخیستلو حق لري، او دکومي ښځي لپاره چي مهر نه وي تعین شوی، نو هغه دمتعي[1] حق لري، چي دخپل وسعي سره سم څه کالي او یا نور شیان ورته ورکړي.

او کومه ښځه چي دخلوت نه وروسته طلاقه شي، نو هغه دپوره مهر حق لري، الله ﷻ فرمایي: ﴿لاَّ جُنَاحَ عَلَيْكُمْ إِن طَلَّقْتُمُ النِّسَاء مَا لَمْ تَمَسُّوهُنُّ أَوْ تَفْرِضُواْ لَهُنَّ فَرِيضَةً وَمَتِّعُوهُنَّ عَلَى الْمُوسِعِ قَدَرُهُ وَعَلَى الْمُقْتِرِ قَدْرُهُ﴾ [د البقره سورت: ۲۳۶ آیت].

ترجمه: په تاسو څه گناه نشته که ښځي مو طلاقي کړې مخکي لدي نه چي جماع ورسره وکړی او (دمهر) اندازه ورته تعین کړی، او دوی لره متعه ورکړی، پر غني سړی دخپلي وسعي په اندازه او پر نادار سړي باندي دخپلي وسعي په اندازه

---

(۱) متعه: وهغو کالیو او یا نورو شیانو ته وایي چي میړه یي وخپلي ښځي ته له طلاق نه وروسته دخپلي وسعي په اندازه دهغي دخوشحالولو لپاره ورکوي، او دا هله وي چي دښځي مهر نه وي تعین شوی.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



(دمتعې ورکول لازم دی)، تر دې آيته پورې: ﴿وَإِن طَلَّقْتُمُوهُنَّ مِن قَبْلِ أَن تَمَسُّوهُنَّ وَقَدْ فَرَضْتُمْ لَهُنَّ فَرِيضَةً فَنِصْفُ مَا فَرَضْتُمْ﴾

[د البقره سورت: ۲۳۷ آيت].

ترجمه: او که مو هغوی ته طلاق ورکړ مخکې له دينه چې جماع ورسره وکړی، او هغوی لره مو (دمهر) اندازه تعين کړې وي، نو نيم مهر به (ورکوی) له هغه (مهر) نه چې تاسو تعين کړی دی. يعنې ای دښځو خاوندانو په تاسو باندې څه ګناه نشته که خپلې ښځې له جماع او مهر تعينولو نه مخکې طلاقې کړی، که څه هم په هغې کې دښځو دخفګان او خاطر رنجې ده، نو ځکه خو په متعه کې ددې خفګان جبران دی، او متعه دهر سړي دوسعې په اندازه او له رسم ورواج سره سمه وي، او بيا الله ﷻ دهغې ښځې ذکر وکړی کومې ته چې مهر تعين شوی وي، نو دنيم مهر ورکولو حکم يې وکړی.

حافظ ابن کثير په خپل تفسير کې وايي: دمهر نيموالی په نومړي حالت کې دعلماوو تر مينځ اتفاقي خبره ده او کوم اختلاف دهغه په باره کې نشته[۱].

(۱) تفسير ابن کثير ۵۱۲/۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۲- کومه ښځه چې ميړه يې وفات شوی وي په څښې بانديي په عدت کي ښځه شيان حرام دي چې (حداد) ورته وايي:**

اول: دعطرو ټول انواع: نه به په بدن عطر وهي او نه په خپلو جامو، او نه به خوشبويه شيان استعمالوي، پيغمبر ﷺ په صحيح حديث کي فرمايي: «وَلاَ تَمُسَّ طِيباً».

ترجمه: او عطر (خوشبويي) مه استعمالوه.

دوهم: دبدن سينګارول: دنکريزي کول او نور دسينګار ټول انواع لکه سترګي تورول، او دمخ مختلف پوډرو استعمالول پري حرام دي، خو که وسترګو تورولو ته دعلاج لپاره ضرورت پيدا شي، نه دسينګار لپاره، نو څه پروا نلري، نو دشپي به سترګي توروي او دورځي به يي پاکوي، او پروا نلري که سترګي بيله رنجو نه په بل شي سره معالجه کړي چې دسينګار له شيانو نه وي.

دريم: دهغو جامو اغوستل چې دسينګار لپاره جوړي شوي وي، خو داسي جامي اغوستلای شي چې عادتاً سينګار پکي نه وي، او دکوم خاص رنګ تعين نشته بلکه درواج سره سم رنګونه به اغوندي.

څلورم: دانګشتري (ګوتي) په شمول دسرو زرو دټولو

(c) ketabton.com: The Digital Library



انواعو استعمال .

پنځم: بيله هغه كور نه چي ددي په موجوديت كي يي ميړه پكښي وفات شوى په بل كور به شپه نه تيروي، او بيله كوم شرعي عذر نه بل كور ته نه ځي، او نه به دمريض پوښتني ته ځي، او نه به دخپل او دوست ليدلو ته ځي، خو دورځي لخوا يوازي دخپلو ضروري كارونو دكولو لپاره وتل ورته روا دي.

او بيله دغو پنځو شيانو نه نور هيڅ شي له هغو شيانو نه ورته ناروا ندى، كوم چي الله ﷻ ورته روا كړي دي.

ابن القيم وايي: وهغي ته دنوكونو اخيستل، دبغل دوېښتانو ليري كول، او دهغو وېښتو خريل چي شرعاً مستحب دي، او په سدر (زميو)[١] سره لامبل، او وېښتو زمونځول، ورته روا دي[٢].

شيخ الاسلام ابن تيميه وايي: وهغي ته دحلالو شيانو لكه ميوه، غوښه خوړل، او دروا ځښاكو چښل.. روا دي، او بيا وايي: او دهيڅ روا كار كول لكه خامك دوزي، خياطي، اوبدل

---

(١) سدر يا زمي: د بيرو تنكى پاڼو ته وايي چي پخوا به پري خلكو سر، ځان او جامي پري مينځلي.(ژباړن)

(٢) الهدي النبوي ٥٠٧/٥.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او نور داسي کارونه چي ښځي يي کوي، دا ټول ورته روا دي، او هغه څه چي دعدت نه مخکي ورته روا وه لکه دضرورت په وخت کي دنارينه وو سره په ستر کي خبري کول، او داسي نور ورته روا دي، او همدا د پيغمبر ﷺ دسنت مطابق هغه طريقه ده کومه چي دصبحابه وو رضي الله عنهم ښځو به دخپل ميړونو دوفات نه وروسته اختياروله[1].

او دا چي عوام خلك وايي: چي له سپوږمۍ نه به مخ پټوي، او دکور بام ته به نه خيژي، دنارينه وو سره به خبري نکوي، او له محرمو نارينه وو نه به مخ پټوي، او نوري داسي خبري دا ټولي بيځايه دي او څه اساس نلري، والله اعلم.

---

(۱) مجموع الفتاوى ۳۴/۲۷-۲۸.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لسم فصل

## دهغو احکامو بيان چي په هغي سره دښځي عزت او عفت خوندي کيږي:

۱- ښځه دسړي په شان (له حرامو نه) دسترګو په پټولو، او دفرج (شرمګاه) په ساتلو ورته امر شوی دی، الله ﷻ فرمايي: ﴿قُـــل لِّلْمُؤْمِـــنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَـــى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ * وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ﴾ [د النور سورت: ۳۰-۳۱ آيتونه].

ترجمه: (ای پيغمبره) ووايه مومنانو ته چي پټي کړي سترګي خپلي (له ناروا کتلو نه) او وساتي فرجونه (شرمګاوي) خپل (له حرامو نه)، دا دوی لره ډير پاکيزه (او ګټور) دی، الله ډير ښه خبر دی په هغه څه چي دوی يي کوي، او (ای پيغبره) ووايه مومنو ښځو ته چي پټي کړي سترګي خپلي (له ناروا کتلو نه) او وساتي فرجونه (شرمګاوي) خپل (له حرامو نه).

زمونږ شيخ محمد الامين الشيقيطي رحمت الله عليه په خپل تفسير کي وايي: الله ﷻ مسلمانو نرو او ښځو ته امر کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی چي خپلي ستر ګي او فرجونه (له ناروا نه) وساتي، او دفرجونو په ساتلو کي دا هم ده چي له زنا لواطت[1]، مساحقت[2]، لوخول، او خلکو ته له ښودلو نه يي وساتي.. او بيا وايي: او الله ﷻ هغه نرو او ښځو لپاره چي پدي آيت سره عمل کوي دبخښني او لوی اجر او ثواب وعده کړي ده، که چيري ورسره هغه کارونه هم وکړي کوم چي داحزاب په سورت کي ذکر شوي دي، الله ﷻ فرمايي: ﴿إِنَّ الْمُسْلِمِينَ وَالْمُسْلِمَاتِ﴾ إلى قوله: ﴿وَالْحَافِظِينَ فُرُوجَهُمْ وَالْحَافِظَاتِ وَالذَّاكِرِينَ اللَّهَ كَثِيرًا وَالذَّاكِرَاتِ أَعَدَّ اللَّهُ لَهُم مَّغْفِرَةً وَأَجْرًا عَظِيمًا﴾ [د الاحزاب سورت: ۳۵].

ترجمه: بيشکه مسلمان نارينه، او مسلماني ښځي... او دخپلو فرجونو ساتونکي نر او ښځي، او دالله ډير يادونکي نر او ښځي، دوی لره الله مغفرت (دګناهونو بخښنه) او لوی اجر او ثواب تيار کړی دی[3].

---

(۱) لواطت: دي ته وايي چي نر له نر سره دشا لخوا جماع وکړي.(ژباړن)
(۲) معنا به يي لږ وروسته په متن کي راشي.(ژباړن)
(۳) اضواء البيان ۶/۱۸۶-۱۸۷.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مساحقت دي ته وايي چي يوه ښځه خپل فرج دبلي ښځي له فرج سره ومښي، او دا ډير لوی جرم او ګناه ده چي ددي کار دواړه کونکي دلوی سزا او ادب مستحق دي.

په مغني کي وايي: که چيري دوي ښځي خپل فرجونه يو بل سره ومښي، نو دوی دواړه زناکاره او لعنتي دي، پيغمبر ﷺ فرمايي: «إِذَا أَتَتْ الْمَرْأَةُ الْمَرْأَةَ فَهُمَا زَانِيَتَانِ».

ترجمه: که چيري ښځه دبلي ښځي سره بد فعل (مساحقت) وکړي، نو دوی دواړه زناکاره دي. او هغوی ته دتعزير په شکل سزا ورکول کيږي، ځکه دا داسي زنا ده چي (په شريعت کي) ټاکلي سزا نلري[1].

نو مسلمانه ښځه او خصوصاً ځواني ښځي بايد لدي ناوړه او ناروا کار نه ډډه وکړي.

اما (دناروا شيانو نه) دسترګو پټولو په باره کي ابن القيم وايي: اما دسترګو کتل چي دي نو هغه دشهوت جلبونکي او

---

(۱) المغني ۱۹۸/۸.
او شيخ ابـــن تيمـــية په مجموع فتاوی ۳۲۱/۱۵ کي وايي: نو پدي سره ساحقه ښځه زناکاره ګڼل کيږي، لکه څنګه چي په حديث راغلي: دښځو سحاق دهغوی زنا ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوستونکي دي، او دهغې ساتل دفرج ساتل دي، او چا چې خپلو سترګو ته لاره خلاصه کړه نو ځان يې له هلاکت سره مخامخ کړ، او پيغمبر ﷺ فرمايي: «يَا عَلِيّ، لاَ تُتْبِعْ النَّظْرَةَ النَّظْرَةَ، فَإِنَّمَا لَكَ الأُولَى».

ترجمه: اى علي، (وحرامو شيانو ته) په يو ځلي کتلو پسې بيا مه ګوره، يوازي اول ځل کتل ستا لپاره (روا) دي. لدي کتلو نه مراد ناڅاپه کتل دي چې بغير له قصد نه وي.. او وايي: په مسند کې له پيغمبر ﷺ نه روايت دى فرمايي: «النَّظَرُ سَهْمٌ مَسْمُومٌ مِنْ سِهَامِ إِبْلِيس».

ترجمه: دسترګو کتل دشيطان دغَشُو نه يو زهرجن غَشى دى.. او بيا وايي: او کتل دټولو هغو پيښو اساس دى کوم چې انسان ته رسيږي، ځکه يو ځلي کتل دانسان په خاطر کې يوه انګيزه پيدا کوي، او له هغه نه فکر مينځ ته راځي او هغه فکر بيا په شهوت بدليږي، او له شهوت نه اراده پيدا کيږي، او بيا دا اراده ټيګيږي، او کلك عزم ځني جوړ شي، او بالاخره که مانع او خنډ پيدا نشي، نو هغه به خامخا دعمل جامه اغوندي، نو ځکه خو ويل شوي دي: چې په سترګو پټولو او ساتلو باندي

(c) ketabton.com: The Digital Library



صبر کول لدي نه اسانه دی چي له هغه نه وروسته دواقع شوي کار (ګناه) په جزا او درد باندي صبر وشي[۱].

نو ای مسلماني خوري پر تا باندي لازمه ده چي ونارينه وو ته له کتلو نه، او له هغه شهوت انګيزه عکسونو نه چي بعضي مجلو کي، او يا په تلويزيون او ويډيو کي دي، خپلي سترګي وساتي، او نور له بد عاقبت نه به سالمه پاته شې، ډير داسي کتل وي چي وکتونکي ته يي لوی مصيبتونه پيښ کړي وي، او اور له وړو بڅرو نه مينځ ته راځي.

۲- او دفرج دساتلو له اسبابو نه يو هم دسندرو او ساز سروز له اوريدلو نه ليري والی دی.

ابن القيم وايي: او دشيطان له غولونکي شيانو نه چي دناخيزه علم، عقل او (ضعيفه) ديانت خاوندان پري تيروځي، او دجاهلانو او فساد کارانو زړونه يي په هغه سره ښکار کړيدي، يو هم داوازونو او دناروا ساز وسرود الاتو اوريدل دي چي زړونه له قران نه ليري کوي، او دګناهونو او فسق وفجور خوا ته يي رابولي، نو د(ساز وسرود الات) دشيطان کتاب، او دالله ﷻ (له ذکر) نه دغفلت پرده ده، او دلواطت او زنا وسيله

---

(۱) الجواب الکافي ص۱۲۹-۱۳۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده، او دهغه په واسطه سره ناکاره او فاسق عاشق دخپلي معشوقي نه خپل لوی (ناروا) مقصد لاس ته راوړي... او بيا وايي: اما دښځي او بي ږيري هلك دسندرو اوريدل دډيرو لويو ګناهونو نه دي، او له هغي نه غټ فساد په دين کي پيښيږي... او بيا وايي: او پدي کي شك نشته چي هر غيرتمن سړی خپل ښځه او اولادونه دسندرو له اوريدو داسي ليري ساتي، لکه څنګه چي يي له نورو مشکوکو کارونو او اسبابو نه ليري ساتي.. او همدارنګه وايي: او ټولو ته معلومه ده چي کله ښځه دميړه غوښتني ته ځان نه ورکوي، نو هغه کوښښ کوي چي سندري ورته واوروي، نو بيا هغه نرمي ښکاره کوي، او دا ځکه چي داوازونو په مقابل کي په چټکۍ سره دښځي احساسات را پاريږي، نو که چيري دا اواز دسندري وي نو دښځي راپاريدل په دوو وجهو سره وي: داواز له جهته، او دهغه معنا له جهته.. او وايي: نو که ددي علاج سره ډول، څواني، رقص، او مستي يو ځای شي، نو که دښځي له سندرو نه ماشوم په ګيډه کيده، نو له همدي سندرو نه به يي ماشوم په ګيډه شي، نو قسم په الله ﷻ چي څومره پت داره او عزت داره ښځي په سندرو سره بي

(c) ketabton.com: The Digital Library



پته او فاحشې شوې دي؟![۱].

نو ای مسلماني خوري له الله نه وویریږه، او لدې خطرناکه اخلاقي مرض نه چې سندري اوریدل دي ډډه وکړه، کوم چې دمسلمانانو په مینځ کې په مختلفو وسایلو او طریقو سره یې دنشرولو کوښښ کیږي، چې ډیري ناپوه نجوني یې له معینه ځایونو نه لاس ته راوړي او بیا یې په خپلو مینځونو کې یو بل ته لاس پلاس کوي.

۳- او دفرجونو دساتلو داسبابو نه بل وخارج ته له سفر کولو نه دښځې منع کول دي، بیله دي چې کوم محرم ورسره وي چې دفاسقانو او بدکارانو نه یې وساتي.

پدې باره کې صحیح احادیث راغلي دي چې ښځه بیله محرم نه له سفر کولو نه منع ده، له هغه جملې نه دابن عمر عنهما رضي الله حدیث دي وایي چې پیغمبر ﷺ فرمایلي دي: «لا تُسَافِرُ الْمَرْأَةُ ثَلاَثَةَ أَيَّامٍ إِلاَّ مَعَ ذِي مَحْرَمٍ»[۲].

ترجمه: ښځه دې ددریو ورځو سفر بیله محرم نه نکوي. او

(۱) إغاثة اللهفان ۱/۲۶۴، ۲۴۸، ۲۴۲-۲۶۵.

(۲) بخاري او مسلم روایت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ابو سعيد الخدري عنه رضي الله نه روايت دی چي پيغمبر ﷺ منع کړيده چي ښځه د دوو ورځو او دوو شپو په مسافه دخپل ميړه يا محرم نه بغير سفر وکړي، او ابو هريرة له پيغمبر ﷺ نه روايت کوي چي فرمايلي يي دي: «لاَ يَحِلُّ لامْرَأَةٍ تُؤْمِنُ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ تُسَافِرُ مَسِيرَةَ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ إلاّ مَعَ ذِي مَحْرَمٍ عَلَيْهَا»[۱].

ترجمه: کومه ښځه چي په الله او دقيامت په ورځ ايمان لري ددريو شپو او ورځو په اندازه سفر ورته روا ندی، مګر دا چي محرم به په سفر کي ورسره وي.

او په پورتني احاديثو کي ددريو، او دوو، اويوه شپه او ورځ مسافي نه مقصد هغه مسافه ده کومه چي دهغه وخت دنقليه وسائلو په واسطه په پښو او يا سپرلۍ (بودګانو) سره وهل کيده، او داحاديثو اختلاف چي دمسافي په تعين کي په دريو او دوو او يوه شپه او ورځ سره او له دي نه هم کم- راغلی دهغه وجه څنګه چي علماوو ويلي دي داده: چي له هغه څخه مقصد مطلقاً سفر دی، نو کومي مسافي ته چي سفر ويل کيږي ښځه بيله محرمه دهغي مسافي تللو نه منع ده.

(۱) بخاري او مسلم روايت کړی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



امام نووي وايي: نو خلاصه دا شوه: چې هر هغه تګ ته چې سفر وويلې شي، نو ښځه بيله ميړه او يا محرم نه له هغه نه منع ده، که دا تګ ددريو ورځو په اندازه وي، او يا دوو ورځو، او يا يوه ورځ، او يا يو رباط وي او يا په بله اندازه وي، ځکه دابن عباس روايت مطلق راغلی دی، او هغه دمسلم داخيرني رواياتو نه دی چې وايي: «لا تسافر امرأة إلا مع ذي محرم» ترجمه: ښځه به بيله محرم نه سفر نکوي. او دا هر هغه څه په بر کي نيسي کوم چې دسفر اطلاق باندي کيږي، والله اعلم[1].

اما هغو کسانو چې فتوی يي ورکړيده چې ښځه کولای دښځو ديوي ډلي سره دفرضي حج سفر وکړي، نو دا فتوی دسنت خلاف ده، امام خطابي وايي: پيغمبر ﷺ ښځه منع کړيده چې بيله محرم سړي نه سفر وکړي، نو ښځي ته دحج لپاره دسفر کولو اجازه ورکول بيله هغه شرط نه چې پيغمبر ﷺ ايښي دی، دسنت خلاف خبره ده، نو که چيري دښځي وتل بيله محرم نه ګناه وي، نو بيا حج ورباندي لازمي ندی، او هغه

---

(۱) شرح صحيح مسلم للنووي ۱۰۳/۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي عبادت دی چي نتيجه او عاقبت به يي ګناه وي[(۱)].

زه وايم: دغو کسانو دښځي لپاره بيله محرم نه عامه اجازه نده ورکړي، بلکه دا يي يوازي دفرضي حج لپاره ورکړيده او بس.

امام نووي وايي: وښځي ته بيله محرم نه دعبادت، تجارت، زيارت او نورو شيانو لپاره سفر کول روا ندي[(۲)].

نو کوم کسان چي په دي زمانه کي دښځي بيله محرم نه په هر نوع سفر اجازه ورکولو کي سهل انګاري کوي، دهغوی قول معتبر ندی، او هيڅ معتبر عالم ورسره پدي کي موافق ندی.

او دا چي وايي: مَحرَم ښځه په طياره کي سپَرَوي، او بيا يي بل محرم په هغه بل وطن کي چي دا ورته سفر کوي، استبقالوي، او طياره -ددوی په ګمان- دډيرو نارينه او ښځينه سورلَيو په وجه داطمينان او امن ځای دی.

نو موږ په جواب کي ورته وايو: هيڅکله داسي نده، بلکه طياره نسبت بل ځای ته دلوی خطر ځای دی، ځکه په هغه کي سورلي ټول سره ګډي وي، بلکه کيدای شي چي سړی دښځي

---

(۱) معالم السنن مع التهذيب لابن القيم ۲/۲۷۶-۲۷۷.
(۲) المجموع ۸/۲۴۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځنګ ته کښيني، او کيداى شي طياري ته څه داسي مشکل پيښ شي چي له خپل مسير نه يي وګرځوي او بل ميدان ته لاړه شي، نو هلته به داسي څوك نه وي چي ددي ښځي استقبال وکړي، نو له خطر سره به مخامخ وي، او دښځي به څه حال وي پداسي يو ښار کي چي نه پکښي بلده وي، او نه ورسره محرم وي؟

۴- او دفرجونو دساتلو له اسبابو نه بل دښځي او سړي په مينځ کي بيله محرمه نه ديوازي کيدلو منع کول دي، پيغمبر ﷺ فرمايي: «مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلا يَخْلُوَنَّ بِامْرَأَةٍ لَيْسَ مَعَهَا ذُو مَحْرَمٍ مِنْهَا، فَإِنَّ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ».

ترجمه: څوك چي په الله او دقيامت په ورځ ايمان لري، دښځي سره دي بيله محرم نه خلوت نه کوي، ځکه ددوى دوو (ښځي او سړي) دريم کس به شيطان وي. او له عامر بن ربيعه عنه رضي الله نه روايت دى چي پيغمبر ﷺ فرمايي: «أَلاَ لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ لا تَحِلُّ لَهُ، فَإِنَّ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ، إلا مَحْرَمٍ».

ترجمه: با خبره اوسى، چي يو سړى به له يوي ښځي سره خلوت نکوي، (دا) ورته روا ندي، ځکه چي دريم کس به

(c) ketabton.com: The Digital Library



شيطان وي، مګر دا چې محرم ورسره وي. مجد په (المنتقى) کې وايي: دا دوه حديثه احمد روايت کړي دي، او معنا يې مخکې دابن عباس په متفق عليه حديث کې ذکر شوه.

امام شوکاني وايي: او له بيګانه ښځي سره يو ځاى خلوت کول په اجماع سره حرام دى، لکه څنګه چې حافظ (ابن حجر) په (فتح الباري) کې راوړي دي، او دحراموالى علت لکه څنګه چې په حديث کې راغلي دى دادى چې ددوى سره دريم کس شيطان دى، او دشيطان موجوديت دوى وګناه ته رابولي، اما که محرم وي نو خلوت کول دبيګانه ښځي سره جائز دى، ځکه دګناه او جرم واقع کيدل دهغه په حضور کې ناممکنه ده[1].

او بعضي ښځي او ددوى اولياء (دواك خاوندان) په بعضي انواع دخلوتونو کې سهل انګاري کوي، او هغه په لاندي ډول دي:

الف- دښځي خلوت دميړه له خپلوانو سره، او هغه ته مخ لوڅول، او دا خلوت له نورو نه زيات خطرناکه خلوت دى، پيغمبر ﷺ فرمايي: «إِيَّاكُمْ وَالدُّخُولَ عَلَى النِّسَاءِ»، فَقَالَ رَجُلٌ

(۱) نيل الاوطار ۶/ ۱۲۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مِـنْ الأَنْصَـارِ: يَـا رَسُولَ اللّٰهِ أَفَرَأَيْتَ الْحَمْوَ؟ قَالَ: «الْحَمْوُ الْمَوْتُ»[(۱)].

تـرجمه: دښځـو سره دخلـوت کولـو نـه ډډه وکـړی، نـو لـه انصـارو نـه يـوه سړي وويـل: ای رسـول الله ايـا دمـيـرړه ورور هـم؟ ويـي فـرمايل: دمـيـرړه ورور (لـيور) د مـرګ (پـه شـان) دی. او (الحمـو) پـه حديـث کـي دمـيـرړه ورور تـه وايـي، يعنـي ګواکـي پيغمبر ﷺ دا بد وګڼل چي له هغه سره (ښځه) خلوت وکړي.

حـافظ ابـن حجـر وايي: نووي ويلي دي: دلُغت علماوو پدي خبره اتفـاق کـړی دی چي (احمـاء) دمـيـرړه خپلوانو تـه وايي، لکه دهغـه پـلار، تـره، ورور، وراره، دتـره زوی، او نور، او همدارنګه وايـي: دهغـه نـه مقصـد پـه حديث کي دمـيـرړه خپلوان دي، ما سوا دهغـه لـه پلرونو او زامـنو نـه، ځکه هغوی يي دښځي لپاره محرم بلـل کـيـږي او خلـوت ورسـره روا دی، او خلـوت تـه يـي دمـرګ نسـبت نـه کـيـږي.. وايي: او عادتاً خلك پدي باره کي دبي باکـۍ نـه کـار اخلـي او ورور دخپـل ورور دښځي (ورنداري) سره خلوت کـوي، نـو ځکـه يـي لـه مـرګ سره مشـابهت ورکـړ، او ځکـه خو

(۱) احمد، بخاري، او ترمذي روايت کړی دی، او ترمذي صحيح ګڼلی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځني اجتناب کول غوره دي[۱].

شوکاني وايي: د پيغمبر ﷺ دا قول: «الْحَمْوُ الْمَوْتُ» معنا داده: چي له نورو نه بايد زيات له هغه نه ويره وي[۲].

نو اى مسلماني خوري له الله نه وويريږه، او پدي کار کي بي باکي ونکړي، که څه هم خلکو پدي باره کي له بي باکي نه کار اخيستى دى، ځکه اعتبار دشريعت حکم ته دى نه دخلکو رسم ورواج ته.

ب- بعضي ښځي او دهغوى دواك خاوندان (اولياء) په موټر کي يوازي دنامحرم موټروان سره سپريدلو کي بي باکي کوي، پداسي حال کي چي دا ناروا خلوت دى.

شيخ محمد بن ابراهيم آل الشيخ (په خپل وخت کي دسعودي عربستان مفتي رحمت الله عليه وايي: او اوس پدي کي څه شك نشته چي دبيګانه ښځي يوازي او بيله محرم نه سپريدل له موټروان سره يو ښکاره ناروا کار دى، او په هغه کي ډير فسادونه وجود لري چي بايد ساده ونه بلل شي، برابره ده که ښځه کورنۍ پټ خولي وي، او که بهر راوتونکي او دنارينه

(۱) فتح الباري ۳۳۱/۹.
(۲) نيل الاوطار ۱۲۲/۶.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وو سره خبري کونکي وي، او کوم سړی چي دخپلو ښځو لپاره داسي کار خوښوي نو هغه دضعيف ايمان او کمزوري نارينتوب خاوند دی، چي په خپل ناموس باندي بي غيرته دی، او پيغمبر ﷺ فرمايي: « أَلاَ لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ لا تَحِلُّ لَهُ، فَإِنَّ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ».

ترجمه: با خبره اوسی، چي يو سړی به له يوي ښځي سره خلوت نکوي، (هغه) ورته روا نده، ځکه چي دريم کس به شيطان وي. او په موټر کي دموټروان سره يو ځای سپريدل، له هغه خلوت نه خطرناك دی کوم چي په کور کي او يا بل ځای کي وي، ځکه په موټر کي هغه کولای شي چي په داخل دښار او بهر له ښار نه هر ځای ته وغواړي يوړلی شي که ښځه راضي وي که نه وي، چي لدي نه ډير لوی فسادونه را پيدا کيدلای شي کوم چي په عادي خلوت کي دهغه توقع نشته[۱].

او هغه کس چي خلوت په هغه سره روا کيږي بايد لوی او بالغ وي، او دماشوم موجوديت کافي ندی، او دا چي بعضي ښځي ګمان کوي چي که ماشوم له ځان سره ملګری کي نو

(۱) شرح صحيح مسلم ۱۰۹/۹.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خلوت به ورسره روا شي، دا غلط ګمان دی.

امام نووي وايي: اما که چيري يو بيګانه سړی له بيګانه ښځي سره خلوت وکړي، و دريم سړی ورسره نه وي، نو دا خلوت دعلماوو په اتفاق سره حرام دی، او همدارنګه که ددوی سره داسي څوك وي چي دماشومتوب په وجه حيا نه ورنه کيږي، نو دا خلوت روا ندی[١].

ج- بعضي ښځي او دهغوی دواك خاوندان (اولياء) دډاکټر سره دښځي دخلوت کولو په باره کي بيباکي کوي، پدي دليل چي ښځه وعلاج ته ضرورت لري، او دا ډير لوی ناروا کار دی، او خطر يي ډير لوی دی، چي بايد دهغه په باره له سکوت نه کار وانه خيستل شي.

شيخ محمد بن ابراهيم رحمت الله عليه وايي: په هر حال، دبيګانه ښځي سره خلوت کول شرعاً حرام دی، که څه هم دهغه ډاکټر سره وي چي دښځي علاج کوي، نظر پدي حديث: «لاَ يَخْلُوَنَّ رَجُلٌ بِامْرَأَةٍ لا تَحِلُّ لَهُ، فَإِنَّ ثَالِثَهُمَا الشَّيْطَانُ».

ترجمه: يو سړی به له يوي ښځي سره خلوت نکوي، (هغه

---

(١) مجموع الفتاوی ٥٢/١٠.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورتـه روا نـده، ځکـه چې دريم کس به يي شيطان وي. نو ديو چا موجوديت له ښځـي سره حتمـي دی، کـه ميـړه وي او کـه يـي بل نارينه محـرم وي، کـه چيري ممکـن نـه وي نـو بـايد دخپلوانو نه يي يوه بلـه ښځـه ورسره وي، او که له تيرو کسانو نه هيڅوك نه وي، او مـرض خطـرناکه وي، او ورروسـتـه کـول يي ممکن نه وي، نـو کـم تر کمه يوه نرسه خو بايد چي موجوده وي، تر څو دممنوع او حرام خلوت نه مخنيوی وشي(۱).

او همدا رنګـه ډاکټـر تـه روا نـدي چي دبـيګانه ښځـي سـره خلوت وکـړي، کـه څه هـم دا ښځـه ډاکټره او ملګري يي وي، او يـا نرسـه وي، او و ړانـده معلم او دده پـه شـان بـل چا ته روا ندي چـي دشـاګردي سره خلـوت وکـړي، او پـه طياره کي وميلمه پاله ښځـي تـه روا نـدي دبيګانه سـړي سره خلوت وکـړي، او خلـګ دناچلـه تمدن پـه نامـه او دکفـارو نـه دتقلـيد پـه وجه، او وشرعي احکـامو تـه دنـه اهميت ورکولو په وجه، پدي کارو کي دبيباکـۍ نه کار اخلي، فلا حول ولا قوة إلا بالله العلي العظيم.

او وسـړي تـه روا نـدي چي دکـور دخادمـي او مـزدوري سـره خلـوت وکـړي، او نه به دکور خاونده دخادم او مزدور سره خلوت

(۱) مجموع الفتاوی ۱۳/۱۰.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي. دخادمانو نارينه وو او ښځو مشکل يو ډير خطرناکه مشکل دی چې ډير خلك پدې زمانه کې پرې مبتلا شوي دي، پدې وجه چې ښځې په تعليم او له کور نه بهر کارونو باندې بوختې شوي دي، چې پر مسلمانانو سړو او ښځو چې ددې کار نه په کلکه ډډه وکړي، او داحتياطي تدابيرو نه پدې باره کار واخلي، او دخلکو دبدو او ناوړو عادتونو سره سم لاړ نشي.

**اتيونی مسئله:**

ښځې ته ناروا دی چې دبيګانه سړي سره مصافحه[۱] وکړي.

شيخ عبد العزيز بن عبد الله بن باز رحمت الله عليه وايي: دبيګانه ښځو سره مصافحه مطلقاً حرامه ده، ځوانانې وي او که زړې وي، او که مصافحه کونکی ځوان وي او که سپين ږيری وي، ځکه پدې کې ودواړو ته دفتنې خطر دی، او له پيغمبر ﷺ نه روايت چې فرمايي: «إِنِّي لا أُصَافِحُ النِّسَاءَ».

ترجمه: زه له ښځو سره مصافحه نکوم. او عائشه رضي الله عنها وايي: د پيغمبر ﷺ لاس قطعاً دښځې له لاس سره

---

(۱) مصافحه: دلاس سترې مشې کول. (ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



تماس ندی کړی، او دهغوی سره يوازي په خبرو بيعت کاوه. او فرق نلري چي دمصافحي په وخت کي يي لاس په څه پټ کړی وي او که نه وي، ځکه يو دعامو دلائلو په خاطر، او بل پدي کي دفتني داسبابو مخنيوی دی (۱).

شيخ محمد الامين الشنقيطي رحمت الله عليه په خپل تفسير کي وايي: يوه شه چي بيګانه سړي ته دبيګانه ښځي سره مصافحه کول روا نده، او ناروا ده چي دسړي دبدن کومه حصه دښځي دبدن دکومي حصي سره تماس وکړي، او دليل يي دادی:

اول: پيغمبر ﷺ فرمايلي دي: «إِنِّي لا أُصَافِحُ النِّسَاءَ».

ترجمه: زه له ښځو سره مصافحه نکوم. او الله ﷻ فرمايي: ﴿لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِي رَسُولِ اللَّهِ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ﴾ [د الاحزاب سورت: ۲۱ آيت].

ترجمه: په تحقيق سره چي د پيغمبر ﷺ (په کردار او افعالو کي) ستاسو لپاره غوره پيروي ده. نو بايد د پيغمبر ﷺ

---

(۱) الفتاوی، دمؤسسة الدعوة الإسلامية الصحفية چاپ ۱۸۵/۱.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسنت پيروي وکړو او دښځو سره مصافحه ونکړو، او دحج په سورت کي مو ونارينه وو ته داحرام په وخت او نورو وختونو کي مطلقاً دژړ لباس اغوستلو دحرام والي په بحث کي دنومړي حديث ذکر وکړی، او همدارنګه داحزابو دسورت دحجاب په ايت کي، او دا چي پيغمبر ﷺ دبيعت په وخت کي دښځو سره مصافحه نکول واضح دليل دی ددي خبري چي سړی بايد دښځي سره مصافحه ونکړي، او نه ښايي چي دده دبدن کومه حصه دهغي دبدن دکومي حصي سره تماس وکړي، ځکه له ټولو نه دبدن سپك تماس مصافحه ده، نو چي له هغه نه پيغمبر ﷺ پداسي وخت کي ډډه وکړه چي هغه ضرور وه او دبيعت اخيستلو وخت وو، نو پدي يي دلالت وکړ چي هغه ناروا ده، او هيڅا ته د پيغمبر ﷺ مخالفت روا ندی، ځکه هغه دخپل امت لپاره په خپلو اقوالو، افعالو او تقريراتو[۱] سره دشريعت بيان کونکی دی.

دوهم: کوم چي مونږ مخکي ذکر کړل چي ښځه ټوله

---

(۱) تقرير: دي ته وايي چي د پيغمبر ﷺ په مخکي کوم کار وشي او هغه له هغه نه منع ونکړي، نو دي ته تقريري سنت ويل کيږي.(ژباړن)

(c) ketabton.com: The Digital Library



عـورت ده، پـر هغـي لازمـه ده چـي سـتر وکـړي، او دسـترګو پـه ساتلو ځکـه امر شوي ده تـر څو پـه فتنه کـي ونه لويږي، او پدي کـي شـک نشـته چـي ددوو بدنونـو تمـاس کـول نسـبت دسـترګو کـتلو تـه زيات شهوت راپاروي، او فتني ته انسان رابولي، او هر انصاف داره سړي ته ددي خبري صحت معلوم دی.

دريـم: دا دبـيګانه ښځـي نـه دخونـد اخيسـتلو ذريعـه ده، ځکـه چي دالله څخـه ويـره او تقوی په نن زمانه کي ډيره کمه ده، او امانـتداري نشـته، او دمشـکوکو کـارونو دکولـو څـوک پـروا نلري، او مونږ پـه وارو وارو اوريدلـي دي چي بعضي عوام خلک دخپلـي ښځـي خور (خوښينه يا خينه) په خوله مچوي، او هغوی دا مچـول ـچـي پـه اجمـاع سـره حـرام دي- سـلام بولـي، او ورتـه وايـي: سـلام پـري واچـوه، او مقصـد يـي دا وي: چـي مچ يي کړه. نـو کـوم حق چـي پـه هغـه کـي هـيڅ شـك نشـته دادی: چـي لـه ټولو فتـنو، او مشکوکو کارونو، او دهغه داسبابو نه ليري والی پکار دی، او لـه لويـو فتـنو نـه دنارينـه لخوا دبيګانه ښځـي دبـدن يوه حصـه مسـه کـول دي، او کـوم شی چي دحرام کار سبب ګرځي لـه هغه نه مخنيوی فرض دی[۱].

---

(۱) اضواء البيان ۶۰۲/۲-۶۰۳.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**او په اخير کي:**

اى مسـلمانو نارينـه وو او ښځـو تاسـو تـه دالله ﷻ هغـه وصيت او توصيه پيادوم چي فرمايي: ﴿قُل لِّلْمُؤْمِنِينَ يَغُضُّوا مِنْ أَبْصَارِهِمْ وَيَحْفَظُوا فُرُوجَهُمْ ذَلِكَ أَزْكَى لَهُمْ إِنَّ اللَّهَ خَبِيرٌ بِمَا يَصْنَعُونَ * وَقُل لِّلْمُؤْمِنَاتِ يَغْضُضْنَ مِنْ أَبْصَارِهِنَّ وَيَحْفَظْنَ فُرُوجَهُنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَلْيَضْرِبْنَ بِخُمُرِهِنَّ عَلَى جُيُوبِهِنَّ وَلاَ يُبْدِينَ زِينَتَهُنَّ إِلاَّ لِبُعُولَتِهِنَّ أَوْ آبَائِهِنَّ أَوْ آبَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ أَبْنَائِهِنَّ أَوْ أَبْنَاء بُعُولَتِهِنَّ أَوْ إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي إِخْوَانِهِنَّ أَوْ بَنِي أَخَوَاتِهِنَّ أَوْ نِسَائِهِنَّ أَوْ مَا مَلَكَتْ أَيْمَانُهُنَّ أَوِ التَّابِعِينَ غَيْرِ أُوْلِي الإِرْبَةِ مِنَ الرِّجَالِ أَوِ الطِّفْلِ الَّذِينَ لَمْ يَظْهَرُوا عَلَى عَوْرَاتِ النِّسَاء وَلاَ يَضْرِبْنَ بِأَرْجُلِهِنَّ لِيُعْلَمَ مَا يُخْفِينَ مِن زِينَتِهِنَّ وَتُوبُوا إِلَى اللَّهِ جَمِيعًا أَيُّهَا الْمُؤْمِنُونَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُونَ﴾ [د النور سورت: ۳۰-۳۱ آيتونه].

ترجمه: (اى پيغمبره) ووايه مومنانو ته چي پټي کړي سترګي خپلي (له ناروا کتلو نه) او وساتي فرجونه (شرمګاوي) خپل (له حرامو نه)، دا (کار) دوى لره ډير پاکيزه (او ګټور) دى، الله ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښـه خبر دی پـه هغـه څه چې دوی يې کوي، او (ای پيغبره) ووايه مومنو ښځو ته چې پټې کړي سترګې خپلې (له ناروا کتلو نه) او وساتي فـرجونه (شـرمګاوي) خـپل (لـه حـرامو نـه)، او ښکـاره نکړي ښايست خپل (او ځاي دسينګار)، مګر هغه څه (زينت) چې ښکاريږي له هغه نه (دکار او کسب په وخت کې)، او وادي چـوي پوړنـي خـپل پـر خـپلو ګـريوانونو بـاندې، او نـدې ښکـاره کـوي (باطنـي) زينت خپل، مګر خپلو ميړونو ته، يا خپلو پلرونو تـه، يـا دميـړونو پلرونو ته، يا خپلو ځامنو ته، يا دميړونو ځامنو تـه، يـا خـپلو وروڼو تـه، يـا دوروڼو ځامنو ته، يا دخويندو ځامنو تـه، يـا خـپلو ښځـو تـه، يـا هغـو (مريانو) ته چې ددوی لاسونه يې مالکان دي، يـا هغه تابع نارينه (لکه طفيلي کسان او داسې نور ساده نارينه) چـې دشـهوت خـاوندان نـه وي، يـا هغه هلکان چې دښځـو پـه اسـرارو نـه وي خبر (او دهغـوی شـرمګاوي يـې نـه وي ليدلـي)، او نـه دې وهـې پښـې خپلې (په ځمکه) تر څو معلوم شي هغـه زينـت چـې دوی يـې پټـوي، او ټول الله ﷻ ته توبه وکړی ای مومنانو، تر څو کاميابه او خوشبخته شی.

والحمـــد لله رب العالمين، وصلی الله علی نبينا محمد، وآله وصحبه وسلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دهغو کلماتو لست چې په ترجمه کې راغلي، او دلهجې داختلاف په صورت کې دهغه مرادفي معناګاني

| کلمه | معنى |
|---|---|
| اړ | محتاج |
| اړخونه | برخې، قسمتونه |
| اړه | باره کې |
| استحاضه | کومه وينه چې دښځې له فرج نه دمريضى په وجه وځي، نه دمياشتنۍ عادت په وجه |
| اطاعت | پيروي، تابعداري |
| انحرافات | کاږه او ناروا کارونه |
| انجلۍ | جنۍ، جنکۍ |
| اوصاف | صفتونه |
| اونۍ | هفته |
| بالغه شي | مرانه يې ووهي، ځوانۍ ته ورسيږي |
| بام | چت |
| بوقره، | ځادرې، چيل |
| بوکونه | ګوپان |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| کلمه | معنی |
|---|---|
| بې باکي | سهل انګاري، بې پروايي |
| بېلابېلو | مختلفو |
| پارېږي | ولاړېږي، پورته کيږي |
| پخلې | پخلنه، پخوَل |
| پرې | غوڅ |
| پوښتنه | تپوس، سوال |
| بهر | دباندي، بيرون |
| پيغله | ځوانه جيني |
| تره | کاکا، اکا |
| ټولنه | جامعه، مجتمع، معاشره |
| توان | قدرت، وسعه |
| جارو کول | کانټه کول، په جارو سره ځاى پاکول |
| جامې | کالي، کپړې |
| جلا | جدا، بيل |
| جماع | دښځې سره يوځاى کيدل، کوروالي |
| جوړښت | تهداب، بنياد، اساس، بنسټ |
| جواب | ځواب |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| کلمه | معنی |
|---|---|
| چتکي | چټکتيا، ژر |
| چوټي | کمځي، کوځي، چونټي |
| چيري | چيرته |
| حامله ښځه | هغه ښځه چې په ګيډه کې ماشوم لري، اميدواره |
| خانګړي | خاص |
| حيض | کومه وينه چې له ښځې ته هره مياشت وځي، جامي راتلل |
| خادمه | مزدوره ښځه |
| ختل، خيژي | اوچتيدل، اوچتيږي، بره تلل |
| خريل | په چاړه سره دوېښتانو ليري کول، کلول |
| ځنباك | دچنبلو شيان |
| خلاصيدل | کولاويدل، پرانستل |
| خلګ | خلق، خلك |
| خوندي | ساتلی، محفوظ |
| خيټه | نس |
| دروازه | ور |
| دريه | چمبه، درياګې |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| کلمه | معنی |
|---|---|
| دستکلي | دسماغو، لاسکله، لاس پيئلي، دستاني |
| ډگرونه | ميدانونه |
| رابولي | دعوت کوي، راغواړي |
| رودل | دماشوم له خپلي مور شودي ښبل |
| ږمونځ | ږومونځ، منگځ، گومنځ |
| ږمونځول | دوينښتانو سمول، گومنځول |
| ژغورل | ساتل، حافظت کول |
| سپين ږيرى | بوډا |
| سربيره پر دي | علاوه لدي نه |
| سستم | نظام، بنياد |
| سندري | اوازونه، غزلي، گاني |
| سينگار | ډوَل، ښايست، ښکلا، فيشن |
| ښايست | ښکلا |
| شودي | پي |
| شيان | شيونه، څيزونه |
| صاع | يو کيلو يا نيم کيلو (تصحيح شي) |
| طياره | هوايي جهاز، الوتکه |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| کلمه | معنی |
|---|---|
| عذر | معذرت |
| عکس | تصوير، فوټو |
| فکر | سوچ |
| قول | نظر، رايه، وينا |
| کجاوه | جوپان، ډولي، ډولکۍ |
| ګډوډ | نامنظم، خراب تراب |
| ګاڼه | زيور، سره او سپين زر |
| ګڼو | شميرو |
| کم نه کمه | لااقل |
| کَوټۍ | چونټي |
| کورنۍ | کهول، فاميل، خاندان |
| کوروالي | جماع، ښځي سره يوځاى کيدل، همبستري |
| لارښوونه | لارښودنه، رهنمايي |
| لامبل | لمبيدل، غسل کول |
| نارينه | نران، سړي |
| لنګيدل | دماشوم پيدا کيدل، لنګون |
| لوښي | لور ګاني |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| کلمه | معنی |
|---|---|
| لیچې | موتې، څنګلې |
| ماشوم | بچې، کوچنی |
| منفعت | ګټه |
| موټر | ګاډی |
| موبنل | مزل |
| نارینه | نر، سړی |
| نازك | مېین، نري |
| ناوړه | بد، بدکاره |
| نجلۍ | جینۍ، جنکۍ |
| نشرول | تیتول، خپرول، خورول |
| نښې | علائم، علامې، نښانې |
| نفاس | کومه وینه چي داولاد پیداکیدلو نه وروسته راشي، خلویښتې |
| نومړی | مذکور |
| نیکر، نیکرونه | چوټه، چوټې، چوټې |
| نیکه | دمور پلار او یا دپلار پلار |
| همدارنګه | دغه شان |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| کلمه | معنی |
|---|---|
| واړه | کوچني |
| واده | په نکاح کول |
| وار | خلي |
| وراره | دورور زوی |
| ويره | يره، ډار |
| ويريدل | يريدل، ډاريدل |
| وينبتان | وريښتان، وينبته |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دموضوعاتو فهرست

سريزه ............................................ ۳
لومړى فصل: عمومي احكام ............................ ۶
۱- داسلام نه مخكي دوره كي دښځي مقام: .................. ۶
۲- -دښځي مقام په اسلام كي: ............................ ۸
۳--داسلام دښمنان او دهغوى لاس پوخي غواړي چي
په اوس عصر كي له ښځي نه دهغي كرامت او حقوق
واخلي: .............................................. ۱۲
۴- مونږ له كور نه بهر دښځي دكار كولو مخالف نه يو
كه چيري دلاندنيو شرايطو سره برابر وي: ................ ۱۴
دوهم فصل: دښځي جسمي زينت پوري مربوط احكام ...... ۱۶
۱- [د فطري سنتونو احكام]: .............................. ۱۶
۲- دښځي دسر او وريځو دويښتانو، او نكريزو، او
دويښتانو درنګولو احكام: .............................. ۱۷
دريم فصل: دحيض، استحاضي، او نفاس احكام.......... ۳۰
اول: حيض: ........................................... ۳۰
مسالَه: د«صُفره» او «كُدره» حكم: ....................... ۳۶

(c) ketabton.com: The Digital Library



بله مسأله: ........................................ ۳۷
يوه مهمه پاملرنه: ........................................ ۳۹
دوهم: استحاضه: ........................................ ۴۱
دريم: نفاس:........................................ ۴۷
څلورم فصل: دجامو او حجاب احکام........................................ ۵۸
اول: دمسلماني ښځي دشرعي جامو (لباس) کيفيت: ........ ۵۸
دوهم: دپردې (حجاب) معنا، دلائل، او فايدې:........................................ ۶۲
پنځم فصل: دښځي دلمانځه احکام:........................................ ۶۷
شپږم فصل: دښځو دجنازې احکام:........................................ ۸۷
اووم فصل: دښځو دروژې احکام........................................ ۹۵
روژه په کومو کسانو فرض ده؟ ........................................ ۹۶
۱- حيض او نفاس: ........................................ ۹۸
يو څو پاملرني:........................................ ۱۰۱
اتم فصل: دښځي دحج او عمرې احکام:........................................ ۱۰۴
پاملرنه:........................................ ۱۲۷
نهم فصل: دمشترك ژوند او دنکاح دعقد ختمولو
مربوط احکام........................................ ۱۳۷

(c) ketabton.com: The Digital Library



دښځي په واده کي دهغي نظر اخيستل:........................ ۱۴۴
دښځي په نکاح ورکولو کي دولي شرط والی او دهغه
حکمت: ........................................................... ۱۴۹
په واده کي داعلان لپاره دښځو درېې وهل: ................. ۱۵۰
پر ښځي دمېړه اطاعت کول فرض، او نافرماني کول
حرام دي: ...................................................... ۱۵۲
دنکاح دعقد دختميدلو وروسته احکام:...................... ۱۶۱
عدت څلور قسمه دی: ........................................ ۱۶۲
کوم شيان چي عدت والا ښځي ته حرام دي:................. ۱۶۴
۱- دهغي دغوښتولو حکم:...................................... ۱۶۴
دوې مسالې:..................................................... ۱۶۷
۲- کومه ښځه چي مېړه يي وفات شوی وي په هغې
باندي په عدت کي پنځه شيان حرام دي چي (حداد)
ورته وايي: ..................................................... ۱۷۰
لسم فصل: دهغو احکامو بيان چي په هغي سره دښځي
عزت او عفت خوندي کيږي:................................... ۱۷۳
اخيرنی مساله: .................................................. ۱۹۰

(c) ketabton.com: The Digital Library



او په اخير کي: ............................................ ۱۹۴
دهغو کلماتو لست چي په ترجمه کي راغلي، او
دلهجي د اختلاف په صورت کي دهغه مرادفي
معناګاني............................................ ۱۹۶
دموضوعاتو فهرست............................................ ۲۰۳

(c) ketabton.com: The Digital Library

إدارة أوقاف
صالح عبدالعزيز الراجحي

# تنبيهات على أحكام تختص بالمؤمنات

تأليف

د. صالح بن فوزان الفوزان

ترجمه

عبد الناصر زلال

باللغة البشتو

طبع على نفقة

إدارة أوقاف صالح عبدالعزيز الراجحي

غفر الله له ولوالديه ولذريته ولجميع المسلمين

مطبعة دار طيبة - الرياض - ت: ٤٢٨٣٨٤٠

GIFT NOT FOR SALE

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**